بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جزاء قانون

**رسمي جريده گڼه** (۳۴۷)
نېټه ۱۳۵۵/۷/۱۵هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوهٔ تنظیم موضوعی، اکنون به‌خاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلهٔ دیگری از قوانین نافذهٔ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**ښارنپوه حبیب الله "غالب"**
**وزیر عدلیه**


**نام:** قانون جزا
**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان
**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات
**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم"دقیق"سرپرست ریاست نشرات
**تدارکات و اداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و اداری و احمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه
**طراح جلد وصفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی و حسین امینی
**مصححین:** نورعلم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری و احسان الله نیکزاد
**مشاورین:** اسماعیل حکیمی و محمد یما قاسمیار
**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰
**تیراژ:** ۸۰۰۰
**چاپ:** اول (قطع جیبی)
**قیمت:** ۱۱۵ افغانی
**مطبعه:** مطبعه طباعتی و صنعتی احمد
**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۰۵۸۷٤۵۷
**ویب سایت:** www.moj.gov.af


**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو فهرست

## دجزاء قانون

**لومړی باب: مقدماتي حکمونه**........................................ ۱۸
**لومړی فصل: عمومی قاعدی او تعریفونه** ........................................ ۱۸
**دوهم فصل: دقانون د تطبیق ساحه** ........................................ ۲۱
لومړی قسمت: دمکان او اشخاصو له حیثه دقانون تطبیق................ ۲۱
دوهم قسمت: د زماني له حیثه د قانون تطبیق ........................................ ۲۳
**دوهم باب: جرمونه**........................................ ۲٤
**لومړی فصل: دشدت او خفت له حیثه جرمونه**........................................ ۲٤
**دوهم فصل: دجرم عنصرونه** ........................................ ۲۵
لومړی قسمت: مادی عنصر ........................................ ۲۵
اول: عمل، سببیت او نتیجه ........................................ ۲۵
دوهم: شروع ........................................ ۲٦
دوهم قسمت: معنوی عنصر جرمی قصد او خطاء ........................................ ۲۷
اول: جرمی قصد ........................................ ۲۷
دوهم: خطاء........................................ ۲۸
دریم قسمت: قانونی عنصر........................................ ۲۸
**دریم فصل: په جرم کښې شرکت کول**........................................ ۲۹
لمړی قسمت: فاعل او شریک........................................ ۲۹
دوهم قسمت: په جرم اتفاق........................................ ۳۱
**څلورم فصل: داباحت سببونه**........................................ ۳۳
لومړی قسمت: دحق استعمال ........................................ ۳۳
دوهم قسمت: دوظیفی اداء کول........................................ ۳٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریيم قسمت: دمشروعی دفاع حق ........................................ ۳۵
**دریيم باب: مجرم** ........................................................ ۳۷
**لومړی فصل: جزائی مسؤلیت او دهغی موانع** ................................ ۳۷
لومړی قسمت: جزائی مسؤلیت ............................................ ۳۷
دوهم قسمت: د جزائی مسؤلیت موانع ......................................... ۳۷
اول: د ادراک عوارض ...................................................... ۳۷
۱- لیونتوب او عقلی مرض ................................................... ۳۷
۲- نیشه ................................................................ ۳۸
۳- عمر ................................................................. ۳۸
دوه یم: دارادی نشتوالی .................................................. ۴۵
۱- اکراه ................................................................ ۴۵
۲- اضطرار .............................................................. ۴۵
**دوه یم فصل: دحکمی اشخاصو مسؤلیت** ....................................... ۴۵
**ځلورم باب: جزأ** ......................................................... ۴۶
**لومړی فصل: اصلی جزأگانی** ................................................ ۴۶
**دوهم فصل: تبعی جزأگانی** ................................................. ۵۰
**دریيم فصل: تکمیلی جزأگانی** ............................................... ۵۲
**ځلورم فصل: امنیتي تدبیرونه** ................................................ ۵۳
لومړی قسمت: عمومی حکمونه ............................................... ۵۳
دوه یم قسمت .......................................................... ۵۴
دریيم قسمت .......................................................... ۵۵
ځلورم قسمت .......................................................... ۵۷
پنځم قسمت ........................................................... ۵۹
**پنځم فصل: قانونی عذرونه او قضائي مخففه حالونه** .............................. ۶۰
**شپږم فصل: عمومی مشدده حالونه** .......................................... ۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووم فصل: د جرمونو تعدد او په جزا کښې دهغې تأثیر** ................. ٦٥
**اتم فصل: د تنفیذ تعلیق** ................. ٦٦
**پنځم باب: د جرمونو او جزاګانو سقوط** ................. ٦٨
**لومړی فصل: عمومي حکمونه** ................. ٦٨
**دوه یم فصل: تفصیلی حکمونه محکوم علیه وفات** ................. ٦٨
دوه یم قسمت: عمومی او خصوصی عفو ................. ٦٩
١- عمومی عفو ................. ٦٩
٢- خصوصي عفو ................. ٧٠
دریم قسمت: دحیثیت اعادهٔ او د حکم د تنفیذ تأجیل ................. ٧٠
**لومړی باب: دعمومی ګټو په ضد جنایتونه او جنحی** ................. ٧١
**لومړی فصل: د دولت د باندنی امنیت په ضد جرمونه** ................. ٧١
**دوه یم فصل: د دولت د کورنی امنیت په ضد جرمونه** ................. ٨٢
**دریم فصل: رشوت** ................. ٩٩
**څلورم فصل: اختلاس او غدر** ................. ١٠٢
**پنځم فصل: د افرادو په مقابل کښې د عمومی خدمتونو د افرادو بده رویه** ................. ١٠٤
**شپږم فصل: د رسمي پاڼو او سندونو غلا او تلف کول** ................. ١٠٥
**اووم فصل: د قانوني صلاحیت دحدودو څخه د عمومي خدمتونو د مؤظفینو تېری** ................. ١٠٦
**اتم فصل: د عمومی خدمتونو په مؤظفینو تېری** ................. ١٠٩
**نهم فصل: د وظیفو او لقبونو انتحال** ................. ١١١
**لسم فصل: د مروجو پیسو جعل** ................. ١١٢
**یوولسم فصل: تزویر** ................. ١١٤
**دوولسم فصل: دپوستی، تلګرافی او مالیاتی مطبوعو شیانو او علامو تقلید** ................. ١١٨
**دیارلسم فصل: د مواصلاتو معطلول** ................. ١١٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوارلسم فصل: دمحبوسينو فرار او د مجرمينو پټول.................................. ۱۲۱
پنځلسم فصل: د مهر محو کول يا ماتول .................................. ۱۲٤
شپاړسم فصل: د بناګانو او عمومی ملکيتونو تلفول.................................. ۱۲۵
اووه لسم فصل: دممنوعه شيانو تجارت.................................. ۱۲۵
اتلسم فصل: د اديانو په ضد جرمونه .................................. ۱۲٦
نولسم فصل: د مخدره او نيشه يي موادو استعمال .................................. ۱۲۷
شلم فصل: جواری .................................. ۱۲۸
يو ويشتم فصل: د مرستې څخه منع راوړل.................................. ۱۲۹
دوه ويشتم فصل: دبنوت، دناقص اهليت دپاملرنی د صغيرانو او ضعيفانو د خطر سره د مخامخ کولو پوری مربوط جرمونه.................................. ۱۲۹
درويشتم فصل: اور او چاودنه.................................. ۱۳۱
څلير ويشتم فصل: د غرقيدو، مرفقونو او عمومي صحت پوري مربوط جرمونه.................................. ۱۳٤
پنځه ويشتم فصل: دقضاء تضليل.................................. ۱۳۷
شپږ ويشتم فصل: د دروغو اطلاع د حقيقت داظهار څخه ځان ژغورل..... ۱۳۸
اووه ويشتم فصل: د دروغو شهادت .................................. ۱٤۰
اته ويشتم فصل: ناحقه قسم .................................. ۱٤۲
نهه ويشتم فصل: دمړو او قبرونو بی حرمتی .................................. ۱٤۳
دوه يم باب: د افرادو په ضد جنايتونه او جنحې.................................. ۱٤٤
لومړی فصل: عمدي قتل .................................. ۱٤٤
دوه يم فصل: وهل چه په مرګ منجر کيږي او د خطا قتل .................................. ۱٤٦
دريیم فصل: دمقتول د جسد پټول.................................. ۱٤۷
څلورم فصل: د جنين سقطيدل .................................. ۱٤۷
پنځم فصل: وهل اوزخم .................................. ۱٤۸
شپږم فصل: غير قانوني نيول او توقيف کول .................................. ۱۵۰
اووم فصل: اختطاف .................................. ۱۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اتم فصل: زنا، لواطت او دناموس هتک**........................................ ۱۵۳
**نهم فصل: فسق او فجور ته تحریکول** ........................................ ۱۵۵
**لسم فصل: د اوسیدلو ځای او د نورو مسلک د حرمت هتک** ........................................ ۱۵۵
**یوولسم فصل: تهدید** ........................................ ۱۵۷
**دولسم فصل: قذف** ........................................ ۱۵۸
**دیارلسم فصل: ښکنځل** ........................................ ۱۵۹
**څوارلسم فصل: د اشخاصو درازونو افشاء کول** ........................................ ۱۶۰
**پنځه لسم فصل: دلارې وهل** ........................................ ۱۶۱
**شپاړسم فصل: غلا او غصب** ........................................ ۱۶۲
**اووه لسم فصل: په امانت کښې خیانت** ........................................ ۱۶۶
**اتلسم فصل: فریب کاری** ........................................ ۱۶۸
**نولسم فصل: دهغه شیانو پټول چه د جرم د ارتکاب په نتیجه کښې لاس ته راځي** ........................................ ۱۷۰
**شلم فصل: مشترک حکمونه** ........................................ ۱۷۱
**یوویشتم فصل: دمناقصاتو او مزایداتو په آزادي کښې مداخله** ........................................ ۱۷۲
**دوه ویشتم فصل: د تجارت پوری مربوط جرمونه** ........................................ ۱۷۲
لومړی قسمت: غیر قانونی ربحه ........................................ ۱۷۲
دوه یم قسمت: په تجارتی معاملو کښې تقلب ........................................ ۱۷۲
دریم قسمت: دافلاس پوری مربوط جرمونه ........................................ ۱۷۳
**درویشتم فصل: دمعنوی ملکیت په حقوقو تیری** ........................................ ۱۷۷
**څلیر ویشتم فصل: د تخریب، تلفولو او د حدودو د انتقال جرمونه** ........................................ ۱۷۷
لومړی قسمت: د تخریب او تلفولو جرمونه ........................................ ۱۷۷
دوه یم قسمت: دحدودو انتقال ........................................ ۱۷۸
**پنځه ویشتم فصل: د حیواناتو د قتل او هغی ته د ضرر رسولو جرمونه** ... ۱۷۹
**دریم باب: قباحتونه** ........................................ ۱۸۰
**لومړی فصل: د عمومی لارو او ځایونو پوری مربوط قباحتونه** ........................................ ۱۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوه یم فصل: قباحتونه چه د خلکو د آرامتیا پوری مربوط دی** ............. ۱۸۳
**دریم فصل: د عمومی صحت پوری مربوط قباحتونه** .......................... ۱۸٤
**څلورم فصل: داملاکو، مالونو او حیواناتو پوری مربوط قباحتونه**......... ۱۸۵
**پنځم فصل: دعمومی ادبونو پوری مربوط قباحتونه**............................ ۱۸٦
**شپږم فصل: دهوټلونو دمنتظمینو پوری مربوط قباحتونه** .................... ۱۸٦
**اووم فصل: متفرقه حکمونه**............................................................ ۱۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست (دری)

## قانون جزا

**باب اول: احکام مقدماتی** ........ ۲۰۹
**فصل اول: قواعد عمومی و تعریفات** ........ ۲۰۹
**فصل دوم: ساحۀ تطبیق قانون** ........ ۲۱۲
قسمت اول: تطبیق قانون از حیث مکان و اشخاص ........ ۲۱۲
قسمت دوم: تطبیق قانون از حیث زمان ........ ۲۱٤
**باب دوم: جرایم** ........ ۲۱۵
**فصل اول: جرایم از حیث شدت و خفت** ........ ۲۱۵
**فصل دوم: عناصر جرم** ........ ۲۱٦
قسمت اول: عنصر مادی ........ ۲۱٦
اول: عمل، سببیت و نتیجه ........ ۲۱٦
قسمت دوم: عنصر معنوی قصد جرمی وخطاء ........ ۲۱۸
اول: قصد جرمی ........ ۲۱۸
دوم: خطاء ........ ۲۱۹
قسمت سوم: عنصر قانونی ........ ۲۱۹
**فصل سوم: اشتراك در جرم** ........ ۲۲۰
قسمت اول: فاعل و شریك ........ ۲۲۰
قسمت دوم: اتفاق در جرم ........ ۲۲۲
**فصل چهارم: اسباب اباحت** ........ ۲۲٤
قسمت اول: استعمال حق ........ ۲۲٤
قسمت دوم: ایفای وظیفه ........ ۲۲٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت سوم: حق دفاع مشروع ........................................ ۲۲۵
**باب سوم: مجرم** ........................................ ۲۲۸
**فصل اول: مسؤلیت جزائی و موانع آن** ........................................ ۲۲۸
قسمت اول: مسؤلیت جزائی ........................................ ۲۲۸
قسمت دوم: موانع مسؤلیت جزائی ........................................ ۲۲۸
اول: عوارض ادراک ........................................ ۲۲۸
۱- جنون و مرض عقلی ........................................ ۲۲۸
۲- سکر ........................................ ۲۲۹
۳- سن ........................................ ۲۲۹
دوم: فقدان اراده ........................................ ۲۳۶
۱- اکراه ........................................ ۲۳۶
۲- اضطرار ........................................ ۲۳۶
**فصل دوم: مسؤلیت اشخاص حکمی** ........................................ ۲۳۶
**باب چهارم: جزا** ........................................ ۲۳۷
**فصل اول: جزاهای اصلی** ........................................ ۲۳۷
**فصل دوم: جزاهای تبعی** ........................................ ۲۴۱
**فصل سوم: جزاهای تکمیلی** ........................................ ۲۴۳
**فصل چهارم: تدابیر امنیتی** ........................................ ۲۴۴
قسمت اول: احکام عمومی ........................................ ۲۴۴
قسمت دوم ........................................ ۲۴۵
قسمت سوم ........................................ ۲۴۶
قسمت چهارم: تدابیر امنیتی مالی ........................................ ۲۴۸
۱- مصادره ........................................ ۲۴۸
۲- مسدود ساختن محل ........................................ ۲۴۸
۳- متوقف ساختن فعالیت شخص حکمی وانحلال آن ........................................ ۲۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


قسمت پنجم: احکام متفرقه مربوط به تدابیر امنیتی.................. ۲۵۰

**فصل پنجم: معـاذیر قانونی و احـوال مخففۀ قضائی** ................................ ۲۵۱

**فصل ششم: احوال مشددۀ عمومی**................................................ ۲۵۳

**فصل هفتم: تعدد جرایـم و تأثیر آن در جزا** ........................................... ۲۵۶

**فصل هشتم: تعلیق تنفیذ** ............................................................ ۲۵۷

**باب پنجم: سقوط جرایم وجزاها**.................................................... ۲۵۹

**فصل اول: احکام عمومی**............................................................. ۲۵۹

**فصل دوم: احکام تفصیلی وفات محکوم علیه** ...................................... ۲۶۰

قسمت دوم: عفو عمومی وخصوصی ............................................. ۲۶۰

۱- عفو عمومی...................................................................... ۲۶۰

۲- عفو خصوصی ..................................................................... ۲۶۱

قسمت سوم: اعادۀ حیثیت و تأجیل تنفیذ حکم ................................ ۲۶۱

**باب اول: جنایات وجنـح ضد منفعت عامه** .......................................... ۲۶۱

**فصل اول: جرایـم علیه امنیت خارجی دولت**....................................... ۲۶۱

**فصل دوم: جرایم علیه امنیت داخلی دولت** ........................................ ۲۷۳

**فصل سوم: رشوت** ................................................................... ۲۹۱

**فصل چهارم: اختلاس وغدر** ......................................................... ۲۹۴

**فصل پنجم: رویه سوء مؤظفین خدمات عامه در برابر افراد** ........................ ۲۹۶

**فصل ششم: سرقت وتلف کردن اوراق و اسناد رسمی** ............................. ۲۹۷

**فصل هفتم: تجاوز مؤظفین خدمات عامه از حدود صلاحیت قانونی**...... ۲۹۸

**فصل هشتم: تجاوز علیه مؤظفین خدمات عامه** ..................................... ۳۰۱

**فصل نهم: انتحال وظایف و القاب** ................................................... ۳۰۳

**فصل دهم: جعل پول مروجه**.......................................................... ۳۰۴

**فصل یازدهم: تزویر** ................................................................. ۳۰۶

**فصل دوازدهم: تقلید علامات واشیای مطبوع پوستی، تلگرافی و مـالیاتی**
............................................................................................. ۳۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل سیزدهم: تعطیل مواصلات ........................................ ۳۱۱
فصل چهاردهم: فرار محبوسین و اخفای مجرمین ............................ ۳۱۳
فصل پانزدهم: محو یا شکستاندن مهر .................................. ۳۱۶
فصل شانزدهم: اتلاف بنا ها و املاک عامه ................................ ۳۱۷
فصل هفدهم: تجارت اشیای ممنوعه .................................. ۳۱۸
فصل هجدهم: جرایم ضد ادیان ...................................... ۳۱۸
فصل نزدهم: استعمال مواد مخدره و مسکره ............................ ۳۱۹
فصل بیستم: قمار بازی ................................................ ۳۲۱
فصل بیست ویکم: امتناع از معاونت ...................................... ۳۲۱
فصل بیست ودوم: جرایم مربوط به بنوت، رعایت ناقص اهلیت، معروض ساختن صغار و ضعفا به خطر ...................................... ۳۲۲
فصل بیست وسوم: حریق و انفجار ...................................... ۳۲٤
فصل بیست وچهارم: جرایم مربوط به غرق و مرافق و صحت عامه ......... ۳۲۷
فصل بیست وپنجم: تضلیل قضاء ...................................... ۳۲۹
فصل بیست وششم: اطلاع دروغ خود داری از اظهار حقیقت ............... ۳۳۰
فصل بیست وهفتم: شهادت دروغ ...................................... ۳۳۲
فصل بیست وهشتم: قسم ناحق ...................................... ۳۳۵
فصل بیست ونهم: بی حرمتی اموات وقبور ................................ ۳۳۵
باب دوم: جنایات و جنح ضد افراد .................................... ۳۳٦
فصل اول: قتل عمد .................................................. ۳۳٦
فصل دوم: ضرب منجر به موت و قتل خطاء ................................ ۳۳۸
فصل سوم: اخفای جسد مقتول ........................................ ۳۳۹
فصل چهارم: اسقاط جنین .............................................. ۳٤۰
فصل پنجم: ضرب وجرح .............................................. ۳٤۱
فصل ششم: گرفتاری و توقیف غیر قانونی ................................ ۳٤۳
فصل هفتم: اختطاف .................................................. ۳٤٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل هشتم: زنا، لواط، وهتك ناموس** ........ ۳٤٦
**فصل نهم: تحریك به فسق وفجور** ........ ۳٤۸
**فصل دهم: هتك حرمت مسكن و مسلك غیر** ........ ۳٤۸
**فصل یازدهم: تهدید** ........ ۳۵۰
**فصل دوازدهم: قذف** ........ ۳۵۱
**فصل سیزدهم: دشنام** ........ ۳۵۲
**فصل چهاردهم: افشای اسرار اشخاص** ........ ۳۵۳
**فصل پانزدهم: راهزنی** ........ ۳۵٤
**فصل شانزدهم: سرقت وغصب** ........ ۳۵۵
**فصل هفدهم: خیانت در امانت** ........ ۳۵۹
**فصل هجدهم: فریب کاری** ........ ۳٦۱
**فصل نزدهم: اختفای اشیائی‌که در نتیجه ارتکاب جرم به دست می‌آید** ........ ۳٦۳
**فصل بیستم: احکام مشترك** ........ ۳٦٤
**فصل بیست ویکم: مداخله در آزادی مناقصات و مزایدات** ........ ۳٦۵
**فصل بیست و دوم: جرایم مربوط به تجارت** ........ ۳٦٦
قسمت اول: ربح غیر قانونی ........ ۳٦٦
قسمت دوم: تقلب در معاملات تجارتی ........ ۳٦٦
قسمت سوم: جرایم مربوط به افلاس ........ ۳٦۷
**فصل بیست وسوم: تجاوز بر حقوق ملکیت معنوی** ........ ۳۷۰
**فصل بیست وچهارم: جرایم تخریب، اتلاف و انتقال** ........ ۳۷۱
قسمت اول: جرایم تخریب واتلاف حدود ........ ۳۷۱
قسمت دوم: انتقال حدود ........ ۳۷۲
**فصل بیست وپنجم: جرایم قتل حیوانات وضرر رساندن به آن** ........ ۳۷۳
**باب سوم: قباحات** ........ ۳۷٤
**فصل اول: قباحات مربوط به راه ها واماکن عامه** ........ ۳۷٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل دوم: قباحات مربو ط به آسایش عامه**........................................ ۳۷۷
**فصل سوم: قباحات مربوط به صحت عامه** ........................................ ۳۷۸
**فصل چهارم: قباحات مربو ط به املاك ، اموال وحیوانات**.................... ۳۷۹
**فصل پنجم: قباحات مربوط به آداب عامه**........................................ ۳۸۰
**فصل ششم: قباحات مربوط به منتظمین هوتل‌ها** ................................ ۳۸۱
**فصل هفتم: احکام متفرقه**................................................................ ۳۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعظمی صدارت د ۱۳۵۵ کال دوړی د میاشتې د (۳۱) نېټې (۹۱۰) ګڼه فرمان

**ښاغلی دوکتور عبدالمجید عدلیه وزیر!**

دوزیرانو مجلس د (۱۶۱۴) ګڼې پریکړې لاندې د ۱۳۵۵ کال دوړی دمیاشتی دد برشمی نېټې په غونډه کې دعدل دوزارت د ۱۳۵۴ کال دمرغومی د میاشتې دد برشمې نېټې (۳۱۳۲) ګڼې عرض پاڼې ته په کتنه د جزأ د قانون په باره کښې لاندی مراتب تصویب کړل:

" دجزأ قانون په دوه کتابونو کښې دننه په اته بابونو او پنځه سوه او درویشت مادو مشتمل چه د دار الانشاء مهر پری لګیدلی منظور دی."

د وزیرانو د عالي مجلس مراتب چه د افغانستان د جمهوري دولت د حضور دمنظوری په شرف رسیدلی او د ۱۳۵۵ کال دوړی د میاشتی په ۳۱ نېټه په (۱۹۸۰) ګڼه کې ثبت شوی تاسی ته خبر درکول شو چه په رسمي جریدې کې یې خپریدوته اقدام وشي.

**داکتر محمد حسن شرق**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دجزاء قانون

## لومړی کتاب
## عمومي حکمونه

## لومړی باب
## مقدماتي حکمونه

## لومړی فصل
## عمومی قاعدی او تعریفونه

**لومړی ماده:**

دا قانون تعزیري جرمونه او جزأ ګانې تنظیموي، دحدودو، قصاص اودیت دجرمونو ارتکاب کوونکی داسلامي شریعت دحنفی فقهی دحکمونو سره سم مجازات کیږي.

**دوهمه ماده:**

هیڅ عمل جرم نه ګڼل کیږي مګر د قانون په موجب.

**دریمه ماده:**

هیڅوک مجازات کېدی نه شي مګر دهغه قانون دحکمونو سره سم چه دتور دواردیدلو فعل دارتکاب څخه ترمخه نافذ شوی وی.

**څلورمه ماده:**

۱- برائت الذمه اصلي حالت دی. ترڅو چه متهم د صلاحیت لرونکي محکمې په قطعی حکم محکوم علیه واقع شوي نه وی، بي ګناه ګڼل کیږي.

۲- د هغه جزأ ټاکل چه دانساني کرامت په خلاف وي روا نه ده.

**پنځمه ماده:**

د قانون دحکمونو څخه بي خبری عذر نه ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږمه ماده:**

۱- هغه شخص چه ددې قانون سره سم مجازات کیږي که يې دجرم دلاری مال لاس ته راوړی وی نو دمال مالک ته دعین مال په ورکولو او که مال موجود نه وي د مثل یا دهغی دقیمت په ورکولو محکومیږي.

۲- هغه شخص چه دجرم دارتکاب په اثر يې تاوان رسولی وي دوارد شوي تاوان په جبیره هم محکومیږي.

**اوومه ماده:**

ددې قانون حکمونه د بیرته اخیستلو حق یا دحق العبد دمدعي د تعویض غوښتنه نه اخلالوي.

**اتمه ماده:**

دهغه سیاسي نمایندگانو سره چه په افغانستان کښې دجرم مرتکب شی دهېوادونو ترمنځ دعمومي حقوقو دقاعدو سره سم تګ کیږي.

**نهمه ماده:**

په دې قانون کښې درج شوی نېټې دهجری شمسی سنی په اساس د اعتبار وړ دی.

**لسمه ماده:**

ددې قانون په مقصد قطعی حکم د هغه حکم څخه عبارت دی چه آخرنی شوی وی یا داستیناف او تمیز غوښتنی موارد ورته موجود نه وی او یا دهغی د استیناف او تمیز غوښتنی نېټی د قانون په حکم تیری شوی وی.

**یوولسمه ماده:**

هغه اشخاص چه د افغانستان تابعیت ونه لری مګر په افغانستان کښې اقامت یا اوسیدنه ولری، ددې قانون په مقصد د افغاني تبعی په حکم کښې حسابیږی، مګر داچه په قانون کې په بل ډول د هغی تصریح شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوولسمه ماده:**

ددې قانون په مقصد راتلونکی اشخاص دعمومی خدمتونو وظیفه لرونکی حسابيږي:

۱- ددولت او ددولتي تصديو مامورين او اجيران.

۲- د عمومي مؤسسو مامورين او اجيران.

۳- د دولت درکنونو دولايتي او محلي جرګو غړی.

۴- مدافع وکيل، حکم، پوهان، شاهدان او نور هغه اشخاص چه تصديقونه يې معتبر ګڼل کيږي.

**ديارلسمه ماده:**

ددې قانون په مقصد راتلونکي وسيلې علني ګڼل کيږي:

۱- وينا هغه وخت علني ګڼل کيږي چه په عمومي محفل، عمومي لاره يا نورو ځايونو کښې په داسې ډول په جهر وويل شي يا دنورو وسيلو په واسطه په داسي توګه خپره شي که ځوک هلته موجود وي نوئې اوريدلي شوه.

۲- فعل هغه وخت علنی ګڼل کيږی چه په عمومي محفل، عمومی لار يا نورو ځايونو کښې په داسی توګه واقع شی چه که ځوک هلته موجود وی هغه يی ليدلی شو.

۳- رسم، تصوير، فلم، ليکنه، رمز او نوری تمثيلی وسيلی هغه وخت علني ګڼل کيږی چه له يوه نفر څخه زياتوته توزيع شي يا يې په داسي توګه ښودنه وشي چه که ځوك موجود واي نو يې هغه ليدلي شو. يا خرڅ کړاي شي يا خرڅ ته عرضه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم فصل
## دقانون د تطبيق ساحه

### لومړی قسمت- دمکان او اشخاصو له حيثه دقانون تطبيق

**څوارلسمه ماده:**

۱- ددې قانون حکمونه په هغه اشخاصو تطبيقيږي چه د افغانستان د جمهوری دولت په ساحه کښې د جرم مرتکب شي.
د افغانستان د جمهوری دولت ساحه هر هغه ځای ته شامله ده چه د هغی دسلطی لاندی واقع وی.
۲- افغانی الوتکی او بيړی چه په افغانستان کې دننه وی اويا ورڅخه د باندی وی د افغانستان د ساحی دجملی څخه حسابيږی مګر داچه د هېوادونو تر منځ دعمومی حقوقو دقاعدو سره سم دپردی دولت تابع وی.

**پنځلسمه ماده:**

ددې قانون حکمونه په لاندنيو اشخاصو هم د تطبيق وړ دی:
۱- هغه څوک چه د افغانستان څخه د باندی دداسی عمل مرتکب وګرځی چه د هغی په اثر دجرم کوونکی يا شريک وپيژندل شی چه ټول يا يو قسمت ئی په افغانستان کښې واقع شوی وی.
۲- هغه شخص چه د افغانستان څخه د باندی دراتلونکی جرمونو څخه په يوه مرتکب وګرځی:
۱- د افغانستان د دولت د باندنی يا کورنی امنيت په ضد جنايت.
۲- ددې قانون په (۳۰۲) او (۳۰۳) مادو کښې درج شوی دجعل جنايت.
۳- ددې قانون په (۳۱۰) ماده کښې درج شوی دتزوير جنايت يا افغانستان ته دذکر شوو جعل او تزوير شوو شيانو داخلول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپاړسمه ماده:**

۱- ددې قانون حکمونه په هغه جرمونو چه د افغانستان څخه د باندی د افغانی مامورینو یا مستخدمینو یا دباندنیو هغه اتباعو په وسیله چه د افغانستان له خوا په عمومی خدمتونو ګمارل کیږی دورسپارلو شوو وظیفو دسرته رسولو په وخت کښې یا دهغی په سبب ارتکاب کیږي هم د تطبیق وړ دی.

۲- ددې قانون حکمونه په هغه جرمونو چه د پورتنی فقری ددرج شوو اشخاصو په ضد دورسپارل شوو وظیفو دسرته رسولو په وخت کې یا دهغې په سبب ارتکاب کیږی هم تطبیقیږي.

**اووه لسمه ماده:**

۱- ددې قانون حکمونه په هر شخص چه د افغانستان څخه د باندی د افغان یا د افغانستان دګټی په ضد ارتکاب کوونکی شی د تطبیق وړ دی.

۲- ددې جرمونو د ارتکاب کوونکی په ضد جزائی دعوی د جزائی اجراآتو د قانون ددرج شوو حکمونو سره سم اقامه کیږي.

**اتلسمه ماده:**

هر افغان چه د افغانستان څخه د باندی دداسی عمل ارتکاب کوونکی وګرځی چه ددې قانون د حکمونو په موجب جرم وګڼل شی افغانستان ته د بیرته راتګ په صورت کښې ددې قانون د حکمونو سره سم جزأ ورکول کیږي. خو په دې شرط چه ذکر شوی فعل په هغه هیواد د قانون په موجب چه په کښې ارتکاب شوی د مجازات وړوی.

**نولسمه ماده:**

ددې قانون د (شپږمی او اوومی) مادی ددرج شوو مواردو په استثنی که یو شخص ثابته کړی چه دده په ضد جزائی دعوی کښی دباندنیو محکمو د نسبت کړی شوی جرم په مورد کښې هغه بری الذمه کړی وی یائې په قطعی حکم په جزأ محکوم کړی او جزأ پری تطبیق شوی یا دا چه جزائی دعوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطعی حکم د صادریدو ترمخه یا محکوم بها مجازات د قانون په موجب ساقط شوی وی، جزائی دعوی نه شی اقامه کیدی.

**شلمه ماده:**

د توقیف او حبس هغه موده چه تورن یا محکوم علیه د جزائی حکمونو د تطبیق په اثر د افغانستان څخه د باندی تیره کړی د هغی جزأ د مودی څخه چه شخص په افغانستان کښی د عین جرم د ارتکاب له امله محکومیږی یا هغه جزأ چه پری تطبیقیږي، کمیږي.

**دوهم قسمت – د زماني له حیثه د قانون تطبیق**

**یوویشتمه ماده:**

۱– د جرم ارتکاب کوونکی د هغه قانون په موجب مجازات کیږی چه د فعل د ارتکاب په وخت کښي نافذ وی مگر داچه د قطعی حکم د صادریدو ترمخه نوی قانون چه د تورن په گټه وی نافذ شی.

۲– که د قطعی حکم صادریدو وروسته داسی قانون نافذ شی چه د هغی په موجب هغه فعل چه تورن پری په جزأ محکوم شوی د مجازات وړ ونه گڼی، د حکم تنفیذ متوقف کیږی او پر هغی جزائی مرتب اثرونه له منځه ځی.

**دوه ویشتمه ماده:**

که یو شخص دیو عمل د ارتکاب له امله د مؤقت قانون په موجب چه نفاذ یی په ټاکل شوی نېټی پای ته رسیږی په جزأ محکوم شی، دمؤقت قانون دنفاذ د نېټی پای ته رسیدل د محاکمی د جریان او د جزأ د تطبیق مانع نه گرځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وهم باب
## جرمونه

### لومړی فصل
### دشدت او خفت له حیثه جرمونه

**دريويشتمه ماده:**
د شدت او خفت له حيثه جرمونه په جنايت، جنحې او قباحت تصنيفيږي.

**څلور ويشتمه ماده:**
جنايت هغه جرم دی چه ارتکاب کوونکی يې په اعدام يا دوام لرونکی حبس او يا په اوږده حبس محکوم شي.

**پنځه ويشتمه ماده:**
جنحه هغه جرم دی چه ارتکاب کوونکی يې ددری مياشتو زيات حبس څخه تر پنځو کلو پوری يا ددری زرو افغانيو څخه په زياتی نقدی جريمی محکوم شي.

**شپږ ويشتمه ماده:**
قباحت هغه جرم دی چه ارتکاب کوونکی يې د (۲۴) ساعتونو حبس څخه تر دری مياشتو پوری يا تر دری زرو افغانيو په نقدی جريمی محکوم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم فصل
## دجرم عنصرونه

### لومړی قسمت- مادی عنصر

### اول - عمل، سببیت او نتیجه

**اووه ویشتمه ماده:**
دجرم مادی عنصر د قانون څخه د مخالف عمل د ارتکاب یا منع راوړلو څخه عبارت دی په داسی ترتیب چه عمل په جرمی نتیجی منجر شی او د عمل او نتیجی ترمنځ دسببیت رابطه موجود شوی وی.

**اته ویشتمه ماده:**
۱- شخص د هغه جرم څخه چه د جرمی عمل نتیجه یی نه وی، مسئول نه دی.
۲- هغه شخص چه جرمی عمل یی د نتیجی په پیداکیدو کې د یوه مخکنی سبب له امله یا د فعل سره یوځای اویا ورڅخه وروسته برخه اخستی وی مسئول ګڼل کیږی، که څه هم شخص د نتیجی په پیدا کیدو کې د خپل جرمی عمل په مؤثریت علم ونه لری.
۳- که سبب په یواځنی صورت د جرم د نتیجی په پیداکیدوکی کافی وګڼل شی په دی صورت کښې یواځی فاعل د خپل جرمی عمل نه مسئول ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم – شروع**

**نهه ویشتمه ماده:**

۱– په جرم شروع د فعل د پیل کیدو د اجرا کولو څخه د جنایت یا جنحی دارتکاب په قصد عبارت دی په دې ترتیب چه دفاعل د ارادی نه د باندی دځینو سببونو له امله د هغی اثرونه متوقف یا خنثی شوی وی.

۲– یواځی تصمیم د جرم په ارتکاب یا د مقدماتی کارونو اجراء کول د جرم شروع نه ګڼل کیږي.

۳– هر عمل چه دداسی جنایت یا جنحی په قصد چه ارتکاب یې په جرم پوری د مربوطو عواملو له امله یا دوسیلو د استعمال له خوا مستحیل وی په جرم شروع ګڼل کیږی خو په دی شرط چه د ارتکاب کوونکی عقیده د جرمی نتیجی په پیدا کیدو کښې د اشتباه څخه یا د مطلقی ناپوهی څخه نه وی پیدا شوی.

**دیرشمه ماده:**

په جنایت شروع کوونکی په لاندنیو جزاګانو محکومیږی مګر داچه په قانون کښې د هغی په خلاف تصریح نه وی شوی:

۱– په هغه مواردو کښې چه د اصلي جرم جزأ اعدام وی، دوام لرونکی حبس.

۲– په هغه مواردو کښې چه د اصلی جرم جزأ دوام لرونکی حبس وی، اوږد حبس.

۳– په هغه مواردو کښې چه داصلی جرم جزأ اوږد حبس وي، متوسط حبس یا د اصلي جرم نیمایي اکثره اندازه.

**یو دیرشمه ماده:**

په جنحی د شروع جزأ د هغی جزأ د اکثري اندازی د نیمایی څخه تجاوز نه کوی چه په قانون کښې د اصلی جرم د پاره ټاکل شوی مګر داچه قانون د هغی په خلاف صراحت ولری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه دېرشمه ماده:**

په قباحت شروع د مجازاتو مستلزم نه دی. مګر داچه قانون پری په صریح ډول حکم کړی وی.

**دری دېرشمه ماده:**

د جرم په شروع کښی د تبعی یا تکمیلی او امنیتی تدبیرونو جزاګانو پوري مربوط خاص حکمونه چه د پوره جرم په باره کښی ټاکل شوی مراعات کيږی.

**دوهم قسمت- معنوی عنصر جرمی قصد او خطاء**

**اول- جرمی قصد**

**څلور دېرشمه ماده:**

۱- جرمی قصد عبارت دی د فاعل د ارادی د سوق کیدو څخه د هغه فعل ارتکاب ته چه جرم وجود ته راوړی په دی ترتیب چه د نظر لاندی جرم د نتیجی په واقع کیدو منجر شی او یا د بل جرم دواقع کیدو نتیجه شی.
۲- قصد کله بسیط او کله د پخوانی اصرار سره یوځای وی.
۳- پخوانی اصرار عبارت دی له قاطع تصمیم نیولو څخه پخوا لـه دی چه د نظر لاندی جرم تر سره شی، خو په دی شرط چه د فوری غضب او نفسی هیجانونو څخه نه وی پیدا شوی.
۴- اصرار، پخوانی ګڼل کیږی بی له دی چه د جرم د ارتکاب کوونکی قصد یو ټاکلی یا نا ټاکلی شخص ته متوجه وی، اعم له دی چه قصد د شرط پوری موقوف وی او یا د کوم کار پوری ارتباط ولری یائې ونه لری.

**پنځه دېرشمه ماده:**

۱- جرم هغه وخت عمدی ګڼل کیږی چه دهغی دارتکاب کوونکی سره جرمی قصد محقق وی.
۲- په لاندنیو حالتونو کښې هم جرم عمدی ګڼل کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) په هغه حالت کښې چه شخص دقانون یا موافقی په موجب د وظیفی په سرته رسولو مکلفیت ولری او د هغی د اداکولو څخه عمداً منع راوړی په دی ترتیب چه د هغه منع راوړل مستقیماً د جرم واقع کیدو ته منجر شی.
(۲) په هغه حالت کښې چه فاعل شخص د خپل عمل جرمی نتیجی پخوا اټکل کړی وی خوسره ددې هم د ذکر شوی عمل اجرا کولو ته یې یوائی د جرم دواقع کیدو دپاره اقدام کړی وی.

**دوهم – خطاء**

**شپږ د پرشمه ماده:**
جرم هغه وخت غیر عمدی ګڼل کیږی چه د هغی د فاعل څخه د جرمی نتیجی واقع کیدل د خطا په توګه صادر شوی وی اعم له دی چه خطا د اهمال، ساده توب، بی احتیاطی او بی پروایی څخه پیدا شوی وی او یا د قوانینو، مقرراتو او امرونو دنه مراعات کولو څخه پیدا شوی وی.

**دریم قسمت– قانونی عنصر**

**اووه د پرشمه ماده:**
۱– دجرم قانونی عنصر عبارت دی د جرمی اعمالو اوجزاګانو د صراحت څخه په قانون کښې.
۲– د جرم او جزاً د قانونیت قاعده ددی قانون د (دوهمی او دریمی) مادی په درج شوو حکمونو کښې تصریح شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریيم فصل
## په جرم کښې شرکت کول

### لمړی قسمت- فاعل او شریک

**اته دېرشمه ماده:**

شخص په لاندنیو حالتونو کښې د جرم فاعل ګڼل کیږي:

۱- په هغه حالت کښې چه په یوائې توګه یا د بل شخص په شرکت د جرم ارتکاب کوونکی وګرځی.

۲- په هغه حالت کښې چه د جرمی عمل په ارتکاب کې په داسې توګه مداخله وکی چه د جرم د تشکیلوونکو اعمالو د جملی څخه قصداً د یوه ارتکاب کوونکی وګرځی.

**نهه دېرشمه ماده:**

شخص په راتلونکی حالتونو کښې د جرم شریک ګڼل کیږی:

۱- په هغه حالت کښې چه یو شخص د جرم د تشکیلوونکو اعمالو څخه په یوه سره تحریک کې او د همدی تحریک له امله جرم واقع شی.

۲- په هغه حالت کښې چه د بل شخص سره د جرم په ارتکاب موافقه وکی او د همدی موافقی له امله جرم واقع شی.

۳- په هغه حالت کښې چه د جرم د فاعل سره په یو ترتیب د جرم د ارتکاب په تجهیزاتی، آسانوونکو او تکمیلی عملونو کښې په هغی د علم لرلوسره مرسته وکی‌او دهمدی مرستی له امله جرم واقع شی.

**څلویښتمه ماده:**

فاعل د ارتکاب شوی جرم په ټاکل شوی جزأ محکومیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو څلویښتمه ماده:**

۱- شریک د هغه جرم په مجازات محکومیږی چه په کښې یې شرکت کړی مگر داچه قانون د هغی په خلاف صراحت کړی وی .

۲- په هغه مواردوکښې چه د جرم فاعل په یو سبب د قانونی سببونو څخه مجازات نه شی دا معافیت د شریک د جزأ ورکولو مانع نه گرځی.

**دوه څلویښتمه ماده:**

که واقع شوی جرم د هغی جرمونو څخه په غیر وی چه فاعلینو او شریکانو ئې د ارتکاب قصد لرلونو د هغه جرم په جزأ محکومیږی چه واقع شوی، په دې شرط چه ذکر شوی جرم د اټکل کیدو وړ وی او د هغوی د مداخلی نتیجه وی.

**دری څلویښتمه ماده:**

که د جرمی عمل دارتکابیدو په وخت کې داسی مادی حالتونه وصل شی چه د هغی له امله د جرم یا جزأ صفت تغییر پیداکی د هغی نتیجی په ټولو فاعلانو او شریکانو تطبیقیږی، په دې شرط چه ذکر شوی حالتونه د هغوی د ټولو د مداخلی نتیجه وی.

**څلور څلویښتمه ماده:**

۱- که د یوه فاعل په حصه کښې داسی خاص حالتونه موجود شی چه د هغه په حصه کښې د جرم دصفت دتغییر موجب وگرځی د هغی نتیجی په نورو فاعلانو تأثیر نه لری.

۲- ددې خاصو حالتونو نتیجی په شریک باندی هغه وخت تأثیر لری چه پری علم ولری.

**پنځه څلویښتمه ماده:**

که داسی خاص حالتونه موجود شی چه د یوه فاعل په حصه کښې د جزأ د تغییر موجب وگرځی د هغی نتیجی په نورو فاعلانو او شریکانو تأثیر نه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږ څلويښتمه ماده:**

که د فاعل د قصد يا د هغه د علم دځرنگوالی له امله د جرم په صفت کې تغيير پيدا شی، نور فاعلان او شريکان دقصد او په جرم د هغوی د علم د ځرنگوالی په اساس مجازات کيږي.

**اووه څلويښتمه ماده:**

په هغه حالتونو کښې چه قانون د فاعلانو تعدد د جرم مشدد حالت وبولی د جرم د ارتکاب په وخت کښې د شريک موجوديت تعدد گڼل کيږی.

**اته څلويښتمه ماده:**

۱- په هغه مورد کښې چه څو نفره فاعلان او شريکان ديوه جرم د ارتکاب له امله په يوه حکم په نقدی جزأ محکوم شی دا حکم په هريو د هغوی په ځانگړی توگه تطبيقيږی.

۲- د جنحی د اتفاق په باره کښې نقدی جزأ باندې حکم د هغه مال د گټې معادل وی چه د جرم د ارتکاب د لاری حاصل شوی وی او يا يی د حاصليدو هيله کيږی، د بحث موضوع وی حکم په ټولو محکوم عليهم چه په يوه حکم په ذکر شوی نقدی جزأ محکوم شوی په تضامنی توگه تطبيقيږی مگر داچه قانون د هغی په خلاف حکم کړی وی.

**دوهم قسمت- په جرم اتفاق**

**نهه څلويښتمه ماده:**

په جرم کې اتفاق عبارت دی ددوه يا د هغی څخه دزياتو نفرو د متحد کيدو څخه د تاکل شوی يا غير ټاکل شوی جنايت يا جنحی په ارتکاب يا د ذکر شوو جرمونو په تجهيزاتی، آسانتيا برابرولو يا تکميلی عملونو کې اتفاق، په دی شرط چه اتفاق منظم او پرله پسی وی که څه هم د جرمی تشکل د مرحلی په پيل کې يا دلنډی مودی دپاره يی صورت نيولی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځوسمه ماده:**

۱- په هغه مورد کښې چه په جنایت اتفاق شوی وی، د هغوی هریو په اوږده حبس له (اووه کلو) تجاوز ونه کی محکومیږی که څه هم د اتفاق شوی جنایت د ارتکاب په باره کښې شروع نه وی شوی.

۲- د جنحی د اتفاق په باره کښې د هغی هر فرد د حبس په جزأ چه له (دوه کلونو) څخه زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه له (څلور ویشتو زرو) افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

**یو پنځوسمه ماده:**

که د اتفاق څخه دداسی جرم د ارتکاب غرض وی چه په قانون کښې د هغی جزأ ددی قانون د (پنځوسمی) مادی ددرج شوی جزأ څخه کمه ټاکل شوی وی، په دې صورت کې په جرم کښې د اتفاق تورنان د څلورمی حصی د اکثری اندازی په هغه جزأ محکومیږی چه په اتفاق شوی جرم د پاره ټاکل شوی.

**دوه پنځوسمه ماده:**

۱- ددې قانون د (پنځوسمی او یو پنځوسمی) مادی درج شوی جزأګانی په هغه اشخاصو نه تطبیقیږی چه په جرم باندی د اتفاق څخه مربوطو مقامونو ته خبر ورکی په دې شرط چه خبر د جنایت او جنحی د واقع کیدو او ذکر شوو مقامونو د پلټنې اولټونی څخه تر مخه ورکول شوی وی.

۲- خبر ورکوونکی د مربوطه مقامونو د پلټنې او لټونی د پیل څخه وروسته په دی شرط د مجازات څخه معافیږی چه د هغه اطلاع دداسی تورنو د نیولو سبب وګرځی چه ذکر شوو مقامونو ته معلوم نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم فصل
## داباحت سببونه

### لومړی قسمت- دحق استعمال

**دری پنځوسمه ماده:**
دښه نیت سره د جرمی عمل ارتکاب د هغه حق د استعمال په منظور چه د شریعت یا قانون په موجب شخص ته ورکول شوی جرم نه ګڼل کیږی.

**څلور پنځوسمه ماده:**
په راتلونکی حالتونو کښې د جرمی عمل ارتکاب د حق استعمال حسابیږی:
۱- په هغه حالت کښې چه پلار او ښوونکی، اولاد او زده کوونکی تأدیبوی په دی شرط چه تأدیب د شریعت او قانون په حدودو کښې صورت موندلی وی.
۲- په هغه حالت کښې چه دجراحی عملیات او نوری طبی معالجی اجرا کیږی په دی شرط چه د طبی کسب د فنی اصولو سره سم د مریض یا ولی یا د هغه د قانونی نماینده په رضا صورت موندلای وی، په عاجلو حالتونو کښې د جراحی د عملیاتو اجرا کول ددې حکم څخه مستثنی دی.
۳- په هغه حالت کښې چه سپورتی لوبی اجرا کیږی په دې شرط چه دسپورت د قبول شوو اصولو د قاعدو په حدودو کښې یې صورت موندلی وی.
۴- په هغه حالت کښې چه په مشهوده توګه د جنایت یا دجنحی د جرم ارتکاب وشی او دذکر شوو تورنانو د نیولو په منظور صورت ومومی په داسی ترتیب چه په مربوطو قوانینو کښی تنظیم شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم قسمت- دوظیفی اداء کول

**پنځه پنځوسمه ماده:**
د جرمی عمل ارتکاب دداسی وظیفی د ادأً کولو په وخت کښې چه ددولت مامور د قانون په حکم د هغی په اداء کولو مکلفیت ولری جرم نه ګڼل کیږي.

**شپږ پنځوسمه ماده:**
په راتلونکی حالتونو کښې د جرمی عمل ارتکاب دوظیفی اداء کول شمیرل کیږي:
۱- په هغه حالت کښې چه د مؤظف مامور څخه د قانون د حکمونو سره سم د ښه نیت سره دوظیفی دادا کولو په وخت کښې صادر شوی وی اویا داچه عقیده وکی چه دهغی اجراء کول د هغه د قانونی صلاحیتونو د جملی څخه دی.
۲- په هغه حالت کښې چه دداسی صلاحیت لرونکو مقامونو دامرونو دعملی کولو په موجب چه د قانون په حکم د هغوی دامرونو په اطاعت مکلف وی صادر شوی وی یا داچه عقیده ولری چه دصلاحیت لرونکو مقامونو دامرونو عملی کول د هغه د قانونی وجیبو څخه دی.
۳- ددې مادې په دواړو درج شوو حالتونو کښې مؤظف مامور مکلف دی چه ثابته کې چه د هغه عقیده د جرمی عمل د مشروعیت په باره کښې دمعقولو سببونو څخه پیدا شوی او د لازمی احتیاط د مراعات کولو وروسته یی صورت موندلی. که د قانون په حکم مامور د صلاحیت لرونکو مقامونو په امرونو داعتراض حق ونه لری نو ددی مادی د (۱ او۲) درج شوو فقرو دجرمی عمل دارتکاب په اثر په هیڅ صورت نه مجازات کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درېیم قسمت- دمشروعی دفاع حق

**اووه پنځوسمه ماده:**

دجرمی عمل ارتکاب د مشروعی دفاع دحق داستعمال په منظور، جرم نه ګڼل کیږی.

**اته پنځوسمه ماده:**

دمشروعی دفاع حق دتهدید لاندی شخص ته اجازه ورکوی چه دلاژمو وسیلو داستعمال څخه ددفاع په منظور دهر جرمی عمل څخه چه ځانی او مالی ضرر یا خطر دفاع کوونکی ته یا بل شخص ته تولید کی استفاده وکی.

**نهه پنځوسمه ماده:**

۱- دمشروعی دفاع حق هغه وخت موجودیږی چه دفاع کوونکی په معقولو سببونو او منطقی دلیلونو یقین وکی چه دفاع کوونکی یا بل شخص ته په مال، ځان او ناموس دتیری خطر متوجه دی.

۲- د مشروعی دفاع حق د خطر ددوام پوری ادامه لری د هغی په لیری کیدو پای ته رسیږی.

**شپیتمه ماده:**

دمشروعی دفاع حق دراتلونکو شرطونو لاندی پیداکیږی:

۱- چه دفاع د حملی او تیری په مقابل کښې وی.

۲- چه دفاع د تهدیدوونکی د خطر سره متناسبه وی.

۳- چه دفاع یوائی دخطر د لیری کیدو وسیله وی.

۴- چه دفاع د مقابل د حملی سره په یو وخت کی وی.

۵- چه دفاع د قانون خلاف اوغیر عادلانه عمل په مقابل کې وی.

۶- چه دفاع کوونکی عمداً د مقابلی خوا د جرمی عمل د پیداکیدلو سبب شوی نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو شپیتمه ماده:**

عمدی قتل د مشروعی دفاع د حق داستعمال په اساس جواز نه لری مگر داچه د دفاع په منظور د یوه راتلونکی عملونو په مقابل کښې یې صورت موندلی وی:

۱- دفاع دداسی عمل په مقابل کښې چه دمرگ یا شدید زخم ویره ایجاد کی په دې شرط چه ذکر شوی ویره د معقولو سببونو څخه پیدا شوی وی.

۲- دفاع د زنا، لواطت د عمل اویا د هغی د تهدید په مقابل کښې.

۳- دفاع دانسان داختطاف په مقابل کې.

۴- دفاع د عمدی اور اچولو دعمل د هغی د تهدید په مقابل کښې.

۵- دفاع د هغه غلا د عمل په مقابل کې چه دقانون په حکم جنایت پیژندل شوی وی.

۶- دفاع دغیر مجاز داخلیدو په مقابل کښې دشپی له خوا مسکون کور یا دهغی ملحقاتو ته.

**دوه شپیتمه ماده:**

که د عمومی خدمتونو مؤظفینو ته رسیدل د خطر د لیری کولو په منظور ممکن وی دمشروعی دفاع حق نه پیداکیږی.

**دری شپیتمه ماده:**

مشروعه دفاع دعمومی سلطی دمؤظفینو په مقابل کښې چه خپله وظیفه په ښه نیت تر سره کوی جواز نه لری که څه هم د وظیفی په جریان کې دخپل قانونی صلاحیت دحدودو څخه تیری وکی مگر په هغه صورت کښې چه د هغوی دعمل څخه په معقولو ثابتو دلیلونو دمرگ یا شدیدو زخمونو ویره پیداوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورشپیتمه ماده:**

محکمه کولی شی د هغه شخص په باره کې چه په ښه نیت یې دمشروعی دفاع د حق څخه تیری کړی وی د هغه د عمل جزأ ته که جنایت وی جنحی ته او که جنحه وی قباحت جزأته تنزیل ورکی.

## دریم باب
## مجرم

## لومړی فصل
## جزائی مسؤلیت او دهغی موانع

### لومړی قسمت- جزائی مسؤلیت

**پنځه شپیتمه ماده:**

جزائی مسؤلیت هغه وخت وجود ته راځی چه شخص په آزاده اراده، دعقل او ادراک دصحت په حالت کې دجرمی عمل ارتکاب کوونکی شی.

### دوهم قسمت- د جزائی مسؤلیت موانع

**شپږ شپیتمه ماده:**

د جزائی مسؤلیت مانع د ادراک دیوی عارضی د پیدا کیدو څخه یا دارادی دورکیدو دیوه اسباب څخه پیدا کیږی.

### اول - د ادراک عوارض

### ۱- لیونتوب او عقلی مرض

**اووه شپیتمه ماده:**

۱- که شخص د جرم د ارتکاب په وخت کې دلیونتوب یا نورو عقلی مرضونو په سبب ادراک او شعورونه لری، جزائی مسؤلیت نه لری نه مجازات کیږی.

۲- که شخص د جنایت او جنحی دجرم دارتکاب په وخت کښې د ادراک او شعور په نقصان مبتلاوی، محکمه به هغه معذور شمیری په دی قانون کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخففه حالونو پوری مربوط درج شوی حکمونه به د هغه په باره کښی مراعات کوی.
۳- ددې مادې د (۲) فقری ددرج شوو اشخاصو قباحت، جرم نه شمیرل کیږي.

**۲- نیشه**

**اته شپیتمه ماده:**

۱- که شخص دجرم دارتکاب په وخت کښې دنیشه ئې یا مخدره موادو د استعمال په سبب خپل ادراک او شعور دلاسه ورکی نو په هغه حالت کښې چه استعمال یی په زور یا دارتکاب کوونکی په بی علمی صورت موندلی وی نه مجازات کیږی.
۲- که د پورتنی فقری درج شوی شخص خپل ټول ادراک او شعور دلاسه نه وی ورکړی ددې قانون د (۶۷) مادې د (۲) فقری ددرج شوی حکم سره سم مجازات کیږی.

**نهه شپیتمه ماده:**

۱- که یو شخص نیشه ئی یا مخدره مواد پخپله اراده استعمال کی، دجرم ارتکاب کوونکی وګرځی مسئول دی او داسی ګڼل کیږی لکه چه دپوره ادراک او شعور په حالت کښی دجرم ارتکاب کوونکی وی.
۲- که یو شخص نیشه یی او مخدره مواد عمداً د جرم دارتکاب په مقصد استعمال کی محکمه به د هغه په باره کښې ددې قانون دمشدده حالونو پوری د مربوطو درج شوو حکمونو مراعات کوی.

**۳- عمر**

**اویایمه ماده:**

دصغیر اطلاق په هغه کوچنی کیږی چه دپوره اووه کلنی او دیارلس کلنی په عمرکښې واقع وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو اویایمه ماده:**
مراهق په هغه شخص اطلاق کیږي چه دیارلس کلنۍ عمر یې پوره کړی وي او اتلس کلنۍ یې نه وي پوره کړی.

**دوه اویایمه ماده:**
هغه ورکوټی چه داووه کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی پر هغه جزائی دعوی نه شي اقامه کیدلی.

**دری اویایمه ماده:**
دعمر تثبیت دتابعیت د تذکرې په اساس صورت مومي، که د صغیر ظاهري حالت د تابعیت په تذکره کښې ددرج شوي عمر سره تعارض ولري، محکمه کولی شي چه د طبی هیأت نظریه حاصله کي.

**څلور اویایمه ماده:**
که صغیر دقباحت ارتکاب کوونکی وګرځي، محکمه کولی شي چه په دې قانون کښې ددرج شوو جزاګانو په عوض صغیر د قضاء په مجلس کښې توبیخ کې یا د هغه د تسلیمیدلو په باره کښې دوالدینو څخه یوه ته یا هغه شخص ته چه د هغه په نفس د ولایت حق لری یا یو امین شخص ته چه په راتلونکی وخت کښې د هغه د ښه تربیې متعهد شي حکم وکي یا داچه په دارالتأدیب، یا په خیریه مؤسسو یا په هغه مدرسو کښې چه د دولت له خوا په دې منظور تأسیسیږي د هغه د حجز حکم صادرکي.

**پنځه اویایمه ماده:**
که صغیر د جنحې ارتکاب کوونکی وګرځي محکمه کولی شي چه د هغه په باره کښې د راتلونکی تدبیرونو څخه د یوه څخه استفاده وکي:
۱- ددې قانون د (۷۴) مادې مندرجو اشخاصو ته د هغه تسلیمول په دې شرط چه ذکر شوي موده ددری کلو څخه زیاته او د شپږو میاشتو څخه کمه نه وي او تسلیمیدونکی شخص به په لیکلی توګه تعهد کوي چه په راتلونکي وخت کښې به د صغیر ښه تربیه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په دار التأدیب یا په یوه اصلاحي مدرسه کښې دشپږو میاشتو څخه تر دری کلو پوری د هغه حجز.

**شپږ اویایمه ماده:**

۱- که صغیر دداسی جنایت ارتکاب کوونکی شی چه جزأ ئی اعدام یا دوام لرونکی حبس وی محکمه کولی شي چه د هغه دحجز په دارالتأدیب یا خیریه مؤسسو او یا په اصلاحي مدرسو کښې حکم وکی په دې شرط چه د هغه د حجز موده دپنځو کلونو څخه زیاته نه وی.

۲- که د جنایت ټاکل شوی جزأ اوږد حبس وی نو حجز دیوه کال څخه کم او د څلورو کلونو څخه زیاتیدلی نه شی.

**اووه اویایمه ماده:**

که صغیر متعهد ته د تسلیمیدو وروسته دتعهد دمودی په اوږدوکښې د جنحی یا جنایت ارتکاب کوونکی شی، محکمه کولی شی چه متعهد په لاندی ترتیب په نقدی جزأ محکوم کی:

۱- دجنحی د ارتکاب په حالت کښې دیو زر افغانیو څخه تر دوه زرو افغانیو پوری.

۲- د جنایت د ارتکاب په حالت کښې د دوه زره افغانیو څخه تر پنځه زرو افغانیو پوری.

**اته اویایمه ماده:**

که صغیر دخپلوانو څخه په غیر بل چاته تسلیم کړی شوی وی د محکمی له خوا خپلوانو ته د هغه اعاده کول پخپله د هغه یا د هغه د یوه خپلوان د غوښتنی په اساس صورت مومی، په دی شرط چه د تسلیمیدو دحکم د تنفیذ له وخته کم ترکمه یو کال تیر شوی وی. داعادی بیا غوښتنه د هغی دردولو دنیټی څخه تر شپږ میاشتو پوری جواز نه لری. که محکمه حکم وکی چه صغیر دی دهغه خپلوانو ته اعاده شی دا حکم د صغیر د تسلیمیدو په معنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهه اویایمه ماده:**

هغه صغیر چه په دار التأدیب یا خیریه مؤسسو او یا په اصلاحي مدرسو کښې دحجز لاندې نیول کیږي، دمؤسسې د آمر په پیشنهاد دمربوطه څارنوال په موافقه او دلوی څارنوال په منظوري دمؤسسې څخه ویستل کېدی شي.

نوموړی صغیر په هیڅ صورت په پورتنیو مؤسسو کښې دپنځو کلونو څخه زیات یا داتلس کلنی عمر دپوره کیدو څخه وروسته نه شي پاتی کیدی.

**اتیایمه ماده:**

که یو شخص د صغیر د تسلیمیدو د حکم څخه وروسته هغه پټ اویایی فراریدوته مجبور کی یا په نورو وسیلو د هغه په فراریدوکې مرسته وکړی، دحبس په جزأ تر شپږ میاشتو یا په نقدی جزأ تر شپږ زرو افغانیو پوري محکومیږي.

**یو اتیایمه ماده:**

متعهد ته د تسلیمیدو حکم داتلس کلنۍ دعمر په پوره کیدو ساقطیږي.

**دوه اتیایمه ماده:**

که مراهق د قباحت ارتکاب کوونکی وګرځی، محکمه کولی شی چه هغه ددې قانون په ټاکلی جزأ محکوم کی اویا دوالدینو څخه یوه ته د هغه د تسلیمیدو یا هغه چاته چه دهغه په نفس دولایت حق لری یا یو امین شخص ته چه په راتلونکی وخت کښې دهغه د ښه رویې تعهد وکی حکم وکی.

**دري اتیایمه ماده:**

که مراهق دجنحی ارتکاب کوونکی وګرځی محکمه کولی شی چه ددې قانون د ټاکلو جزأګانو په عوض ددې قانون د (۷۶) مادی درج شوی تدبیرونه اتخاذ کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور اتیایمه ماده:**

۱- که مراهق دداسی جنایت ارتکاب کوونکی وګرځی چه جزأ یی اعدام یا دوام لرونکی حبس وی محکمه کولی شی چه په دارالتأدیب کې د هغه په حجز چه د دوه کلونو څخه کم او د پنځلس کلونو څخه زیات نه وی حکم وکی.

۲- که د جنایت ټاکلی جزأ اوږد حبس وي په دار التأدیب کې دحجز دمودی کمه اندازه دیوه کال څخه کمه او د هغې زیاته اندازه داوږد حبس دنیمایي زیاتی مودی څخه چه د هغی جنایت د پاره ټاکل شوی، نه شی زیاتیدی.

۳- که دجنایت زیاته اندازه جزأ دلسو کلونو څخه کمه وی محکمه کولی شی چه په دار التأدیب کښې دیوه کال څخه په کمه موده د هغه د حجز یا د نیمایي زیاتي مودي چه د هغی جنایت دپاره ټاکل شوی حکم وکی.

**پنځه اتیایمه ماده:**

۱- دصغیر او مراهق عمر د جرم دارتکاب په وخت کښې د مسئولیت د ټاکلو اساس پیژندل کیږي.

۲- که صغیر د جرم ارتکاب کوونکی وګرځی او دحکم د صادریدو په وخت کې د مراهقی عمر ته ورسیږي دصغیر په څیر ورسره معامله کیږي.

**شپږ اتیایمه ماده:**

۱- که مراهق د جرم ارتکاب کوونکي وګرځي او د حکم د صادریدو په وخت کښې داتلس کلنی عمر پوره کی دمراهق په څیر ورسره معامله کیږي.

۲- که هغه جرم چه مراهق یې ارتکاب کوونکی ګرځیدلی، جنایت یا جنحه وي چه په قانون کې د هغی جزأ اوږد حبس یا متوسط حبس ټاکل شوی وی، محکمه کولی شی چه په دارالتأدیب کې د حجز د مودي په عوض په جنایت کښې په متوسط حبس او په جنحه کښې په لنډ حبس حکم وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- په پورتني فقره کښې په درج شوو مواردو کښې د محکومیت موده په هیڅ صورت سره د هغه مودی څخه چه په دار التأدیب کښې دحجز د پاره د ارتکاب شوی جنایت یا جنحی په مقابل کښې ټاکل شوی نه شي زیاتیدی.
۴- په دې قانون کښې داوږده حبس او متوسط حبس دټاکلو شوو جزاګانو په غیر نوری جزاګانی په نقدی جزأ چه دپنځه زره افغانیو څخه زیاتی نه شي، تعویضیدلی شي.
۵- که مراهق په دار التأدیب کښې دحجز په موده کښې داتلس کلنی عمر پوره کې د محکوم بها حجز دنوری پاتی مودی دپوره کیدو دپاره مربوط محبس ته انتقالیږي.

**اووه اتیایمه ماده:**

که صغیر یا مراهق دیوه څخه په زیات د جرم په ارتکاب تورن شي د هغه محاکمه دیوي دعوي په ضمن کښې دټولو جرمونو له پلوه جواز لری په دی شرط چه محکمه یواځي دهغه جرم په اساس حکم وکړی چه جزأیی په قانون کښې زیاته شدیده ټاکل شوي.

**اته اتیایمه ماده:**

دصغیر او مراهق د جرم تکرار په دي قانون کې د مجازات دتکرار او ټاکل شوي تدبیرونو داتخاذ مانع نه ګرځي.

**نهه اتیایمه ماده:**

که صغیر یا مراهق په کراتو په حجز محکوم شي په اصلاحي مدرسه کښی دمحکوم بها حجز ټوله موده دپنځو کلو څخه او په دار التأدیب کښی دپنځلس کلونو څخه نه شي زیاتیدي.

**نوي یمه ماده:**

۱- هغه مراهق چه داتلس کلنی عمریی نه دی پوره کړی که دوه ثلثه محکوم بها جزأ په دار التأدیب کښې تیره کې محکمه کولی شي چه دمراهق یا دوالدینو څخه دیوه یا دهغه شخص په غوښتنه چه د هغه په نفس دولایت حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري د هغه د خوشي کولو حکم صادر کی په دې شرط چې دارالتأديب د ذکر شوی مراهق ښه سلوک ديو راپور په ضمن کښې تصديق کی او څارنوال يی تأييد کی په دې صورت کښې مراهق ددې قانون د (۷۴) مادی ددرج شوو اشخاصو څخه يوه ته تسليم ورکول کيږي.

۲- که مراهق داتلس کلنی عمر پوره کړی وی او په دار التأديب کښې يې دوه ثلثه محکوم بها جزأ تيره کړی وی، هغه وخت خوشی کيدی شی چه په راتلونکی زمانه کښې دخپل ښه سلوک تعهد په ليکلی توګه ورکی.

**يو نوی يمه ماده:**

هغه حکمونه چه په جرم کې د تکرار پوری او تبعی، تکميلی او امنيتی تدبيرونو پوری مربوط دی په صغير او مراهق د تطبيق وړ نه دی، مصادره، د ځای بندول او د هغه ځايونو څخه منع کول چه داخلاقو دانحراف باعث ګرځی له دې حکم څخه مستثنی دی .

**دوه نوی يمه ماده:**

په حبس باندی دنقدی جزأ تعويض دصغير او مراهق په باره کښې جواز نه لری.

**دری نوی يمه ماده:**

هغه شخص چې دجرم دارتکاب په وخت کښې يې داتلس کلنی عمر پوره کړی او د شل کلنی عمر يی نه وی پوره کړی په اعدام نه شی محکوميدلی.

په دی حالت کې دوام لرونکی حبس داعدام قايم مقام ګرځی.*

---

* ۹۳ ماده تعديل شوې، د تعديلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه یم- دارادی نشتوالی**

**۱- اکراه**

**څلور نوی یمه ماده:**
که شخص د مادی یا معنوی قوی دتاثیر لاندی چه دفع کول یې په بل ډول ممکن نه وی، دجرم په ارتکاب مجبور وګرځی، مسئول نه ګڼل کیږي.

**۲- اضطرار**

**پنځه نوی یمه ماده:**
که یو شخص د خپل ځان یا خپل مال یا دبل چا د ځان یا مال د خلاصون په منظور د داسی لوی او سملاسی خطر سره مخامخ شی چه بی د جرمی عمل دارتکاب څخه د هغی په دفع کولو قادر نه وی مسئول نه ګڼل کیږی، په دی شرط چه عمداً دذکر شوی خطر د پیدا کیدو سبب شوی نه وی او د کوم ضرر څخه چه ځان ژغوری د هغه ضرر څخه زیات شدید وي چه له جرم څخه پیدا کیږي.

**دوه یم فصل**
**دحکمی اشخاصو مسئولیت**

**شپږ نوی یمه ماده:**
۱- حکمی اشخاص د دولتی مؤسسو، دوایرواو تصدي ګانو په استثنی د هغه جرمونو څخه چه د هغوی ممثلین، رئیسان او وکیلان یي دوظیفی داجراء کولو په وخت کښې دحکمی اشخاصو په نامه او حساب ارتکاب کوونکی ګرځی مسئول ګڼل کیږي.
۲- محکمه نه شی کولی چه حکمی شخص په ارتکاب شوی جرم کې بې له نقدی جزأ، مصادری او امنیتی تدبیرونو چه په دی قانون کې ټاکل شوی محکوم کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- په هغه صورت کښې چه قانون په ارتکاب شوی جرم کې اصلي جزأ دنقدي جزا څخه په غیر بله جزا ټاکلی وی، دا جزأګانی په نقدی جزأ تعویضیږي.
۴- په پورتنی ترتیب دحکمی شخص محکومیت د حقیقی شخص چه د جرم ارتکاب کوونکی دی د هغه جزأګانو دتطبیق مانع نه ګرځی چه په دې قانون کښې ورته ټاکل شوی.

## څلورم باب
## جزأ

### لومړی فصل
### اصلی جزأګانی

**اووه نوی یمه ماده:**
اصلي جزأګاني عبارت دی له:
۱- اعدام.
۲- دوام لرونکی حبس.
۳-اوږد حبس.
۴- متوسط حبس.
۵- لنډ حبس.
۶- نقدي جزأ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اته نوی یمه ماده:**

اعدام عبارت دی د محکوم علیه د دار د زوړندولو څخه د مرګ تر وختـه پوری.*

**نهه نوی یمه ماده:**

۱- دوام لوونکی حبس عبارت دی د محکوم علیه د بندی کولو څخه په یوه محبس کښی چې ددولت له خوا ددې منظور دپاره تخصیص شوی وی.

۲- د دوام لرونکی حبس موده د شپاړسو څخه تر شلو کلونو پوری ده.

**سلمه ماده:**

۱- اوږد حبس عبارت دی دمحکوم علیه د بندی کولو څخه په یوه محبس کښی چه ددولت له خواددې منظور دپاره تخصیص شوی وی.

۲- د اوږده حبس موده دپنځو کلونو څخه کمه او پنځلس کلونو څخه زیاته نه وی.

۳- په دوام لرونکی او اوږده حبس کښی محکوم علیه مکلف دی چه هغه اصلاحی کارونه تر سره کې چه د محبسونو پوری په مربوط قانون کښې ټاکل شوی.

۴- هغه محبوس چه دشپیته کلنی عمر یی پوره کړی وی په کار کولو کـه څـه هم اصلاحی وی مکلف نه دی.

**یوسل او یوه ماده:**

۱- متوسط حبس عبارت دی د محکوم علیه د بندی کولو څخه په یوه محبس کښې چه ددولت له خوا ددې منظور دپاره تخصیص شوی وی.

---

* د ۹۸ مادې تعدیل او د اعدام د حکم د تحدید قانون د دغه قانون د تعدیلاتو په برخه کې راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- دمتوسط حبس موده دیوه کاله څخه کمه او د پنځو کلونو څخه زیاته نه وی.
۳- په متوسط حبس محکوم علیه د هغه اصلاحی کارونو په کولو مکلف دی چه دمحبسونو پوری په مربوط قانون کښی ټاکل شوی.

**یوسل او دوهمه ماده:**

۱- لنډ حبس عبارت دی د محکوم علیه د بندی کولو څخه په یوه محبس کښې چه ددولت له خوا ددې منظور دپاره تخصیص شوی وی.
۲- دلنډ حبس موده د (۲۴) ساعتونو څخه کمه او دیوه کال څخه زیاته نه وی.
۳- په لنډ حبس محکوم علیه په هیڅ نوع کار کولو مکلف نه دی.

**یوسل او دریمه ماده:**

۱- دحبس د جزأ محاسبه د هغی ورځی څخه پیل کیږی چه په هغی کښې محکوم علیه په محبس کې بندي شوی دی.
۲- دتوقیف موده د محکوم بها د حبس له مودې څخه کمیږي.

**یوسل او څلورمه ماده:**

نقدی جزأ عبارت ده د محکوم علیه دمکلف کولو څخه د محکوم بها پیسو په ورکولو سره د دولت خزانې ته.

**یوسل اوپنځمه ماده:**

نقدي جزأ په افغاني پیسو ټاکل کیږي.

**یوسل اوشپږمه ماده:**

دنقدی جزأ کمه اندازه دپنځوس افغانیو څخه نه شی کمېدلی.

**یوسل او اوومه ماده:**

د نقدي جزأ کمه اندازه او زیاته اندازه د قانون په حکم ټاکل کیږي. مګر داچه په قانون کښې بل ډول تصریح شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو اتمه ماده:**

محکمه به د نقدی جزأ په ټاکلو کښې دکمی او زیاتی ټاکل شوی جزأ ترمنځ د راتلونکو شرطونو او حالونو مراعات کوی:

۱- د جزائي هدف تأمین.

۲- دارتکاب کوونکی شخص، اجتماعي او اقتصادی حالونه.

۳- دهغی گټی اندازه چه دجرم دارتکاب څخه حاصله شوی یایی د حاصلولو هیله کیږي.

۴- دهغه حق ښیگڼی نوعیت چه پری تیری شوی دی.

**یوسل او نهمه ماده:**

محکمه کولی شی دخپل تشخیص یا دځارنوال دغوښتنی په اساس ددې قانون د (۱۰۸) مادې درج شوو شرطونو او حالونو په نظر کښې نیولو سره دنقدي جزأ زیاته ټاکل شوی جزأ تر دوه چنده پوري پورته بوځی په دی شرط چه دنقدي جزأ دزیاتی اندازی پورته وړل دمحکوم علیه د ټولی شتمنی دمنځه وړلو ته منجر نه شی.

**یوسل او لسمه ماده:**

په جنایتونو کښې دنقدي جزأ ټاکل جواز نه لری مگر هله چه قانون پری په صراحت حکم کړی وی.

**یوسل او یوولسمه ماده:**

دنقدي جزأ ورکول دجزأیی اجراآتو د قانون د حکمونو سره سم صورت مومی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم فصل
## تبعی جزأګانی

**یوسل او دوولسمه ماده:**
تبعی جزأګانی د هغه مجازات څخه عبارت دی چه په محکوم علیه د قانون په حکم بی له دی چه د محکمی په حکم کې تصریح شی تطبیقیږی.

**یوسل او دیارلسمه ماده:**
۱- هغه شخص چه په دوام لرونکی حبس یا په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات وی محکوم شی د راتلونکو حقوقو او امتیازونو څخه هم محرومیږي:
۱- د دولت ماموریت.
۲- په اردو کښې خدمت.
۳- دپارلمان، ښاروالیو، دولایتی او محلی جرګو دغړیتوب.
۴- په انتخاباتو کې درای ورکوونکی‌په حیث دبرخی‌اخستل.
۵- د دولتی عنوانونو داستعمال او دنښانونو دزوړندولو څخه اعم له دی چه کورنی وی اوکه دباندنی.
۶- دشرکتونو او بانکونو په مدیره هیئت کښې غړیتوب.
۷- وصایت او قیمومیت او په معاملو او دعوو کښې وکالت.
۸- دمحکومیت په موده کې په قرار دادونو او معاملو کښې شهادت.
۹- د دولتی دوایرو سره دقرار داد کول، یا ددولت له خوا امتیاز تر لاسه کول.
۱۰- دمجلو او ورځپاڼو د امتیاز خاوند، مسئول مدیر او دتحریر دهیئت رئیس.
۱۱- د محکومیت په موده کښې د مالونو او املاکو اداره کول، وقف او وصیت استثنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که محکوم علیه د حکم دصادریدلو په وخت کې دیوه پورتني حقوقو او امتیازونو څخه مستفید وی، د حکم دصادریدو سره یوځای ورڅخه محرومیږي.

**یوسل او څوارلسمه ماده:**

۱- په مالونو کښې د اداری او د تصرف محرومیت د ضرورت په حالت کښې په مؤقتی توگه د محکمی په اجازه مرفوع کیدای شي.

۲- که محکوم علیه هر نوع تعهد بی د محکمی د اجازی وکی د هغی صحت او عدم صحت د ذکر شوی محکمې د اجازی پوری موقوف دی.

**یوسل او پنځلسمه ماده:**

۱- محکمه کولی شی ددوام لرونکی یا دلسو کلونو څخه په زیات اوږده حبس محکوم علیه د غوښتنی په اساس خارنوال یا بل د علاقی خاوند د هغه د مالونو د اداری او سرپرستی د پاره قیم وټاکی.

۲- محکمه به قیم د مال د ضمانت په ورکولو مکلفوی او هغه ته به ددې وظیفی په مقابل کښې مناسبه اجوره ټاکی.

۳- دقیم تصرفونه د هغی مالونو په باره کښې چه د اداری لاندی یی دی دهغی محکمی دنظارت تابع دی چه قیم یی ټاکلی.

۴- دقیمومیت لاندی مالونه د مجازات د تطبیق څخه یا دهغی دتیریدو وروسته چه په هر سبب بناوی ذکر شوی محکوم ته بیرته ورکول کیږی او قیم به دخپلی اداری لاندی دمربوطو مالونو دحساب صورت هغه ته ښکاره کوی.

**یوسل اوشپاړسمه ماده:**

۱- هغه شخص چه داعدام په جزأ محکومیږی د حکم د تنفیذیدو تر وخته ددې قانون د (۱۱۳) مادی د (۱- ۱۱) فقرو دمندرجو حقوقو او امتیازونو څخه محروم پیژندل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- هغه شخص چه په اعدام محکوم شوی وی حقوقی تصرفونه یی باطل دی، محکمه کولی شی دڅارنوا ل یا دنورو علاقی لرونکو اشخاصو دغوښتنی په اساس د هغه د مالونو د سرپرستی او اداری دپاره قیم وټاکی.

## دریم فصل
## تکمیلی جزاگانی

**یوسل او اووه لسمه ماده:**

تکمیلی جزاگانی عبارت له:

۱- دځینو حقوقو او امتیازونو څخه محرومیت.

۲- مصادره.

۳- دحکم خپرول.

**یوسل او اتلسمه ماده:**

۱- محکمه کولی شی کوم وخت چه په اوږده حبس تر لس کلو پوری یا په متوسط حبس حکم کوی د جرم په اصلی جزأ علاوه شخص ددې قانون د (۱۱۳) مادی د (۱ – ۱۱) درج شوو فقرو د ځینو حقوقو او امتیازونو څخه محروم کې په دې شرط چه د محرومیت موده دیوه کا ل څخه کمه او ددری کلونو څخه زیاته نه وی.

۲- تکمیلی جزأ د اصلی جزأ دتطبیق څخه یا د هغی د تیریدو وروسته په هر سبب چه وی تنفیذیږي.

**یوسل اونولسمه ماده:**

۱- محکمه کولی شی په هغه مواردو کښې چه قانون مصادره د جزأ په حیث نه وی ټاکلی د هغه شیانو په مصادره چه د جرم دارتکاب څخه لاس ته راغلی وی یا دهغی په ارتکاب کښې استعمال شوی وی یا دجرم په ارتکاب کښې داستعمال په قصد تیار شوی وی حکم وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په مصادری حکم په هیڅ صورت د بل چا حقوق چه دښه نیت لرونکی وی نه اخلالوی.

**یوسل او شلمه ماده:**

۱- محکمه کولی شی چه پخپله خوښه یا د څارنوال د غوښتنې په اساس د حکم خپرول په فیصله کښې تصریح کې .

۲- دحکم خپرول دهغی دقطعی کیدو تر مخه جواز نه لری.

۳- دقذف، سپکاوی او ښکنځلو په جرمونو کښې دمجنی علیه موافقه د حکم په افشاء کولو او خپرولو کښی حتمی ده.

۴- که دقذف، سپکاوی او ښکنځلو جرمونه دمطبوعاتی وسیلو دلاری صورت موندلی وی محکمه به د هغی دخپریدو په باره کښې ددې مادی د (۳) فقری دحکم په نظر کښې نیولو سره د عین وسیلی په واسطی حکم کوی. په هغه صورت کې چې د معقول عذر څخه پرته د حکم د خپریدو څخه امتناع یا تعلل وشی مسئول مدیر په نقدی جزأ چه د (پنځه زرو) افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږی.

## څلورم فصل
## امنیتي تدبیرونه

### لومړی قسمت- عمومی حکمونه

**یوسل اویوویشتمه ماده:**

۱- محکمه هغه وخت ددې قانون په ټاکل شوو امنیتی تدبیرونو حکم کوی چه ثابته شی چه محکوم علیه د داسې عمل ارتکاب کوونکی ګرځیدلی دی چه د قانون په حکم جرم شمیرل شوی او د مجرم حالت دعمومی امنیت په ضد خطر وګڼل شی.

۲- د مجرم حالت هغه وخت د عمومی امنیت په ضد خطر ګڼل کیږی چه د هغه درویی څخه په حال او تیره زمانه کښې اویا د جرم د ارتکاب دحالونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



علتونو څخه داسی جدی احتمال وشی چه مجرم به د بل جرم ارتکاب ته اقدام وکی.
۳- امنیتي تدبیرونه یواځی ددې قانون ټاکل شوو حالونو او شرطونو کښې د محکمی د حکم مورد کیدی شی.

**یوسل او دوه ویشتمه ماده:**

امنیتی تدبیرونه عبارت دې له:
۱- د آزادي سلب کوونکی تدبیرونه.
۲- د آزادی تحدیدوونکی تدبیرونه.
۳- د حقوقو سلب کوونکی تدبیرونه.
۴- مالی تدبیرونه.

**دوه یم قسمت**

**د آزادی سلب کوونکی او تحدیدوونکی تدبیرونه**

۱- په مربوطو روغتونو کښې حجز

**یوسل او درویشتمه ماده:**

۱- محکمه کولی شی چه دمحکوم علیه دحجز د عقلی او عصبی مرضونو په یوه روغتون یا په بل کوم صحی مرکز کې چه د دولت له خوا ددې منظور دپاره تخصیص شوی د هغه د صحی وضعی دپاملرنی دپاره حکم وکی.
۲- په دې صورت کې به د حجز موده دشپږو میاشتو کمه نه وی.
۳- د روغتون اداره او نور صحی مرکزونه مکلف دی چه دحجز د محکوم به دصحي وضعی راپور د معالجو ډاکترانو دنظریی د اخستلو وروسته په هرو شپږو میاشتو کښی محکمی ته ښکاره کی. محکمه کولی شی د ښکاره شوی راپور په اساس د هغه په خارجیدلو حکم وکی.
۴- محکمه کولی شی د څارنوال یا دعلاقی لرونکی شخص دغوښتنی په اساس دمعالجو ډاکترانو په موافقه په روغتون کښې یا په مربوط صحی مرکز کې د محکوم علیه په حجز بیا حکم وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په ځینې ځایونو کښې د ګرځیدلو او استوګنې منع

**یوسلو او څلیر ویشتمه ماده:**

۱- محکمه هغه وخت د شخص دګرځیدلو په منع کیدو د هغه ځایو څخه چه د اخلاقی انحرافونو موجب ګرځی او د شخص موجودیت په هغی ځای کښې په قوي احتمال د جرم د ارتکاب د تکرار سبب ګرځی حکم کوي.

۲- که شخص له یوځل څخه زیات دمخدره یا نیشه یي موادو د جرم د استعمال په ارتکاب مجازات شی محکمه کولی شی چه هغه په اصلی جزأ علاوه دیوه یا څو ځایونو څخه منع کی. د دې ممانعت موده ددری کلونو څخه زیاتیدلی نه شی.

**یوسل او پنځه ویشتمه ماده:**

محکمه کولی شی په اصلی جزأ علاوه شخص په معینو ځایونو کښې دجزأ د تطبیق یا د هغی د تیریدلو وروسته داوسیدلو څخه منع کی. ددې ممانعت موده دیوه کال څخه کمه او دپنځو کلو څخه زیاتیدی نه شی. په دی حالت کښې به محکمه د محکوم علیه صحی، نفسي، روحي او اجتماعي وضعه په نظر کښې نیسي.

**یوسل او شپږ ویشتمه ماده:**

محکمه کولی شی د حیثیت سره منافی د جنایت یا جنحی محکوم علیه په اصلي جزأ علاوه په خاصو ځایونو کښې داوسیدلو څخه منع کی. د اوسیدلو دمنع کیدلو حکم دڅارنوال یا دمحکوم علیه دغوښتنې په اساس تعدیل یا لغو کیدی شی.

**دریم قسمت- د حقوقو سلب کوونکی امنیتي تدبیرونه**

۱- دولایت، وصایت او قیمومیت ساقطیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسل او اووه ویشتمه ماده:**
دولایت، وصایت او قیمومیت ساقطیدل د محکوم علیه محرومیدل دی، ددې نوع سلطی څخه اعم له دې چه دنفس یا مال پوری مربوط وی.

**یوسل او اته ویشتمه ماده:**
محکمه کولی شی په لاندنیو حالونو کښې د شخص دولایت، وصایت یا قیمومیت په ساقطیدو حکم وکی:
۱- که ولی، وصی یا قیم دداسی جنحی مرتکب شی چه د ذکر شوو وظیفو پوری مربوط قانونی مکلفیتونه اخلال کی.
۲- که ولی، وصی یا قیم دداسی جرم مرتکب شی چه دولایت، وصایت یا قیمومیت دوظیفو په اجرأ کولو کښې یې بی کفایتی ثابته کی.

**۲- دکسب او کار د مشغولیت څخه محرومیدل.**

**یوسل اونهه ویشتمه ماده:**
د کسب او کار د مشغولیت څخه محرومیدل د شخص دهر نوع کسب، کار او صنعتی ، تجارتی او فنی فعالیتونو څخه منع کیدو ته شامل دی چه په هغی مشغولتیا قانوناً دیوی رسمی صلاحیت لرونکی مرجع د اجازی پوری مربوط وی.

**یوسل او دیرشمه ماده:**
۱- که شخص دداسی جنایت یا جنحی د ارتکاب په سبب چه د مربوط کسب او کار د مکلفیتونو د اخلا ل څخه پیدا شوی وی د حبس په جزأ چه دشپږو میاشتو کمه نه وی محکوم شی، محکمه کولی شی چه هغه په اصلی جزأ علاوه د مربوط کسب او کار څخه محروم کی، ددې محرومیت موده دیوه کال څخه زیاتیدی نه شي.
۲- که نوموړی محکوم علیه د مربوط کار او کسب دمشغولیت څخه د محرومیت دمودی دپای ته رسیدو، وروسته د آخرنی حکم د نېټی دصادریدو څخه تر پنځو کلو پوری عین جرم یا دلمړنی جرم مماثل بیا مرتکب شی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمه کولی شی چه په اصلی جزأ علاوه د مربوط کسب او کار د مشغولیت څخه د هغه په محرومیت حکم وکی، ددی محرومیت موده ددری کلونو څخه زیاتیدای نه شی.

**یوسل او یو دیرشمه ماده:**
که شخص د ترافیکی جرم د ارتکاب په سبب په جزأ محکوم شی محکمه کولی شی چه په اصلی جزأ علاوه هغه د موټروانی د کسب د مشغولیت او د موټروانی د جواز د نوی کولو څخه محروم کی، ددې محرومیت موده ددری میاشتو څخه کمه او ددری کلونو څخه زیاته کیدی نه شی.

**څلورم قسمت- مالي امنیتی تدبیرونه**

**۱- مصادره**

**یوسل او دوه دیرشمه ماده:**
که ضبط شوی شیان دداسی شیانو د جملی څخه وی چه جوړول، استعمال، ساتل، عرضه کول او خرڅول یی پخپل ذات کښې جرم وی محکمه به په هر حال د هغی په مصادره حکم کوی که څه هم ذکر شوی شیان د محکوم علیه ملکیت نه وی اویا تورن د محکمی څخه برائت حاصل کی.

**۲- د محل بندول**

**یوسل او دری دیرشمه ماده:**
د هغه جرمونو په باره کښې چه قانون د هغی په جزأ کانو کې د جرم دارتکاب د محل بندیدل ټاکلی وی، محکمه کولی شی تورن د اصلی جزأ څخه علاوه د هغه ځای په بندولو محکوم کې چه د جرم د ارتکاب په مقصد ورڅخه کار اخستل شوی.
د بندیدلو موده د یوی میاشتی څخه کمه او د یوه کال څخه زیاتیدی نه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسل او څلور دیرشمه ماده:**
۱- د جرم د ارتکاب د محل د بندیدلو حکم د شخص تجارتی، صنعتی یا د محل پوری د مربوط کسب او کار فعالیت محرومیت ته شامل دی.
۲- په پورتنی حالت کښې د شخص محرومیت د محکوم علیه خپلوانو او نورو هغه اشخاصو ته شامل دی چه محکوم علیه د جرم د ارتکاب محل د جرم دارتکاب څخه وروسته هغوی ته پریږدی او یایی په اجاره ورکوی.
۳- د محل مالک یا بل شخص چه د جرم د ارتکاب په محل کښې عینی حق ولری که د جرمی عمل پوری ارتباط ونه لری د پورتنی محرومیت لاندی نه واقع کیږی.

## ۳- د حکمی شخص د فعالیت متوقف کول او د هغی انحلال

**یوسل او پنځه دیرشمه ماده:**
که د حکمی شخص یو رئیس ، مدیر، ممثل یا قانونی وکیل د حکمی شخصیت په نوم او حساب د جنایت یا جنحی ارتکاب کوونکی وګرځی او د هغی په سبب د حبس په جزأ چه د شپږو میاشتو څخه زیاته وی محکوم شوی وی، محکمه کولی شی چه د حکمی شخص فعالیت متوقف کی، دتوقف موده ددری میاشتو څخه کمه او ددری کلونو څخه زیاتیدی نه شی، د جنایت او جنحی دتکرار په صورت کښې محکمه به دهغی په انحلال حکم کوی.

**یوسل او شپږ دیرشمه ماده:**
۱- د حکمی شخص د فعالیت متوقف کول په محکوم بها موده کښی د حکمی شخصیت مربوطه اعمالو د مشغولیت منع کیدو ته شامل دی، که څه هم د ځانګړی عنوان یا د ځانګړی عامل هیئت د اداری لاندی صورت ونیسي.
۲- په حکمی شخصیت دانحلا ل حکم د هغه د شتمنی تصفیی او د ټولو حقوقی تصرفونو او اداری تشکیلونو لغو کیدوته شامل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم قسمت- د امنیتی تدبیرونو پوری مربوط متفرقه حکمونه

**یوسل او اووه دیرشمه ماده:**

ددې قانون د هغه مواردو څخه استثنی چه په (۱۲۳، ۱۲۷، ۱۳۲) مادو کښې ټاکل شوی، کوم اشخاص چه د محکوم بها امنیتی تدبیرونو څخه مخالفت وکی د حبس په جزأ چه دیوه کال څخه اوږده نه وی یا په نقدی جزأ چه د (دولس زرو) افغانیو څخه زیاتی نه وی محکومیږی.

**یوسل او اته دیرشمه ماده:**

د محکمی حکم چه د مجازات د تنفیذ په تعلیق شوی وی د امنیتی تدبیرونو تنفیذ ته نه شاملیږی، مگر په هغه حالونو کښی چه قانون یا محکمی د هغی په خلاف حکم کړی وی.

**یوسل او نهه دیرشمه ماده:**

که د مجازات د تنفیذ د تعلیق موده پای ته ورسیږی یا په دی موده کې د هغی په لغو کیدو حکم نه وی صادر شوی، امنیتی تدبیرونه اعم له دی چه نافذ یا متوقف شوی وی د هغی پوری مربوط حکم داسی ګڼل کیږی چه بیخی صادر شوی نه وی.

**یوسل او څلویښتمه ماده:**

۱- د حکمی شخص د مصادری او انحلال استثنی، محکمه کولی شی د نورو امنیتی تدبیرونو په باره کښې دحکم د صادریدو څخه وروسته د محکوم علیه یا د نورو علاقه لرونکو اشخاصو دغوښتنی په اساس ددې قانون د ټاکل شوو امنیتی تدبیرونو په تعلیق یا تعدیل حکم صادر کی.

۲- که د امنیتی تدبیرونو د تعلیق یا تعدیل غوښتنه د محکمی له خوا قبوله نه شی نو دیو کا ل د تیریدو تر مخه بیا غوښتنه نه شی کیدی.

۳- محکمه د څارنوال د غوښتنی په اساس یا پخپله خوښه کولی شی چه بی دنېتی دقیدولو څخه د امنیتی تدبیرونو په تعلیق حکم وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم فصل

## قانونی عذرونه او قضائي مخففه حالونه

**یوسل او یو څلویښتمه ماده:**

۱- عذرونه به یا د جزأ څخه برائت ورکوونکی او یا به تخفیف ورکوونکی وی، دجزأ څخه برائت ور کوونکی یا تخفیف ورکوونکی عذرونه په قانون کې تصریح کیږی، د هغی په غیر قضایي مخففه حالونه د هغه حالونو څخه عبارت دی چه د جرم ارتکاب دیوی شریفي انګیزی په اساس صورت موندلی وی او یا مجرم دمجنی علیه دناحقه تحریک په اثر دجرم ارتکاب ته اقدام کړی وی او یا یی محکمه دجرم او مجرم پوری د مربوطو حالونو او اوضاعو څخه استنتاج کی.

۲- محکمه باید پخپل حکم کښې د جزأ څخه برائت ورکوونکی عذرونه تصریح کی.

**یوسل او دوه څلویښتمه ماده:**

د جزأ څخه برائت ورکوونکی عذرونه د جزائی مسؤلیت د منع کیدو اساس تشکیلوي او په اصلي، تبعی او تکمیلی جزأګانو د حکم د صادریدلو مانع ګرځي.

**یوسل او دری څلویښتمه ماده:**

۱- که په داسی جنایت کښې مخففه عذرونه پیدا شی چه جزأیی اعدام وی محکمه کولی شی چه اعدام په دوام لرونکی حبس تبدیل کی.

۲- که د جنایت جزأ دوام لرونکی حبس یا اوږد حبس وی محکمه کولی شی چه ددوام لرونکی حبس جزأ اوږده حبس ته او د اوږده حبس جزأ متوسط حبس ته تنزیل کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسل او څلور څلویښتمه ماده:**

که په جنحه کښې مخففه عذرونه پیدا شی جزائی په لاندی توګه تخفیف پیداکوی:

۱- که ټاکل شوی جزأ کمه اندازه ولری محکمه د جزأ په ټاکلو کښی په هغی مقید کیدلی نه شی.

۲- که ټاکل شوی جزأ حبس او نقدی دواړو جزاګانو ته شامله وی محکمه کولی شی چه د هغوی څخه په یوه حکم وکی.

۳- که په قانون کښی د جزأ کمه اندازه نه وی ټاکل شوی محکمه کولی شی چه په نقدی جزأ حکم وکی.

**یوسل او پنځه څلویښتمه ماده:**

که محکمه ددعوی دغور په وخت کښې درک کی چه په ارتکاب شوی جنایت کښې د جرم او مجرم اوضاع او حالونه د زړه سوی ایجاب کوی، کولی شی چه د جنایت ټاکل شوو جزاګانو ته په لاندی توګه تغییر ورکی:

۱- د اعدام جزأ په دوام لرونکی یا اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه کمه نه وی.

۲- د اوږده حبس جزأ په متوسط یا لنډ حبس چه د شپږو میاشتو څخه کمه نه وی.

**یوسل او شپږ څلویښتمه ماده:**

که محکمه په دعوی د غور په وخت کښې درک کی چه په ارتکاب شوی جنحی کښی د جرم او مجرم اوضاع او حالونه د زړه سوی ایجاب کوی، کولی شی چه ددې قانون د (۱۴۴) مادی درج شوی حکمونه تطبیق کی.

**یوسل او اووه څلویښتمه ماده:**

په ټولو حالونو کښې چه محکمه ددې قانون د (۱۴۳، ۱۴۴، ۱۴۵، ۱۴۶) مادو د حکمونو سره سم په تخفیف حکم کوی مکلفه ده چه ټول هغه عذرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او احوالونه چه د هغی په موجب جزأ تخفیف مومی د خپل حکم په سببونو کښې تصریح کی.

## شپږم فصل
## عمومی مشددهٔ حالونه

**یوسل او اته څلویښتمه ماده:**

بی له دی چه په دی قانون کښی د جزأ د تشدید پوری تړاکلی خاص حالونه اخلا ل شی عمومی مشدده حالونه عبارت دی له:

۱- په هغه صورت کښې چه دجرم دارتکاب انګیزه ټیټه او سپکه وی.

۲- په هغه صورت کښې چه د جرم ارتکاب د مجنی علیه د ادراک د ضعف ددرک اویا ددفاع څخه د ناتوانی په وخت کښی شوی وی.

۳- په هغه صورت کښې چه جرم په وحشي توګه ارتکاب شوی وی یا مجنی علیه مثله شوی وی.

۴- په هغه صورت کښې چه د عمومی خدمتونو مؤظف د رسمی حیثیت او نفوذ څخه په استفادی سره د جرم مرتکب شي.

۵- په هغه صورت کښې چه د اقتصادی اضطرار د حالت څخه په استفادی سره د جرم ارتکاب وشی.*

**یوسل اونهه څلویښتمه ماده:**

که په جرم کښې مشدده حالونه موجود وی محکمه کولی شی په راتلونکی ترتیب حکم وکی:

۱- په هغه صورت کښې چه تړاکلی جزأ دوام لرونکی حبس وی په اعدام.

۲- په هغه صورت کښې چه تړاکلی جزأ اوږد، متوسط یا لنډ حبس وی دذکر شوی جزأ د اکثری اندازی څخه زیات، په دی شرط چه داصلی جزأ د اکثری

---

* د ۱۴۸ مادې تعدیل د دغه قانون د تعدیلاتو په برخه کې راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازی ددوه چنده تجاوز ونه کی. په هر حال د شدید اوږد حبس موده د شلو کلونو څخه زیاتیدی نه شی.

**یوسل او پنځوسمه ماده:**

۱– که مشدده حالونه د مخففه عذرونو یا قضائي مخففه حالونو سره چه د زړه سوی مستوجب وی په یوه جرم کښې جمع شی محکمه به اول مشدده حالونه بیا مخففه عذرونه او په آخر کښې به د قضائی مخففه حالونو چه د زړه سوی مستوجب وی مراعات کوی.

۲– که مشدده حالونه د مخففه عذرونو معادل او قضائی مخففه حالونه د زړه سوی مستوجب وی محکمه کولی شی بی له دی چه ټول دا حالونه په نظر کښې ونیسی د جرم په اصلی ټاکلی جزأ حکم وکی. که مشدده حالونه او قضائی مخففه عذرونه او احوالونه متعارض، پخپلو تاثیرونو کښې متفاوت وی محکمه کولی شی چه د عدالت د تأمین په منظور ډیر قوی ته ترجیح ورکی.

**یوسل او یو پنځوسمه ماده:**

۱– که د جرم ارتکاب دغیر مشروع کسب دحاصلیدلو په قصد شوی وی او په قانون کښې یی جزأ غیر د خساری د جبران څخه وی محکمه کولی شی چه په ټاکلی جزأ علاوه د خساری په جبران هم حکم وکی په دی شرط چه د خساری د جبران اندازه د هغه شی د قیمت څخه چه مجرم لاس ته راوړی یائی د هغی د لاس ته راوړلو قصد لرلو زیاته نه شی.

۲– دا حکم هغه وخت تطبقیږی چه قانون د هغی په خلاف تصریح نه وی کړی.

**یوسل او دوه پنځوسمه ماده:**

راتلونکی اشخاص د جرم متکرر ګڼل کیږي:

۱– هغه شخص چه دجنایت د ارتکاب په اثر په جزأ محکوم شوی وی د قطعی حکم د صادریدو وروسته او د هغه مودی د تیریدو تر مخه چه قانون د حیثیت د اعادی دپاره ټاکلی د جنایت یا جنحی ارتکاب کوونکی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- هغه شخص چه د جنحی د ارتکاب په اثر په جزأ محکوم شی د قطعی حکم د صادریدو وروسته او د هغه مودی د تیریدو تر مخه چه قانون د حیثیت د اعادی د پاره ټاکلی د جنایت یا د لمړنی جنحی دمماثلی جنحی ارتکاب کوونکی شی.

**یوسل او دری پنځوسمه ماده:**

هغه جرمونه چه د راتلونکو فقرو څخه په یوی فقره کښي ذکر شوی مماثل ګڼل کیږی:

۱- اختلاس، غلا، حیله او فریب، تهدید، په امانت کښي خیانت، دمالونو او سندونو غصبول او د هغه شیانو پټول چه له دی جرمونو څخه په لاس راغلی او یا د ذکر شوو شیانو حیازت په غیر مشروع صورت.

۲- قذف، ښکنځل، سپکاوي او د رازونو فاشول.

۳- د عمومی ادبونو او ښه اخلاقو په ضد جرمونه.

۴- قتل او عمدی اذیت.

۵- نور هغه عمدی جرمونه چه په دی قانون کښي د یوه باب لاندی تصریح شوی.

**یوسل او څلور پنځوسمه ماده:**

د باندنیو محکمو حکمونه دجرم په تکرار کښي د اعتبار وړنه دی، مګر داچه د افغانستان د دولت دپیسو د جعل د جرمونو په باره کي وی یا د نورو هیوادونو د پیسو د جعل په باره کښي صادر شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم فصل
## د جرمونو تعدد او په جزأ کښې دهغی تأثیر

**یوسل او پنځه پنځوسمه ماده:**
که د یوه فعل د ارتکاب څخه متعدد جرمونه پیداشی ارتکاب کوونکی د هغه جرم په جزأ محکومیږی چه جزأ یی ډیره شدیده وی. په هغه صورت کښې چه ټاکل شوی جزأګانی یو د بل مماثل وی د هغوی څخه په یوی حکم کیږی.

**یوسل او شپږ پنځوسمه ماده:**
که د متعددو جرمونو ارتکاب د متعددو فعلونو په نتیجه کښې صورت موندلی وی او دا جرمونه یو د بل سره داسی ارتباط ولری چه تجزیه قبوله نه کی او د یوه هدف تأمین ذکر شوي جرمونه یو تر بله سره جمع کړی وی، محکمه به د هر جرم په ټاکلی جزأ حکم کوی او یواځی به د ډیری شدیدی جزأ په تنفیذ تصریح کوی. دا حکم د تبعی، تکمیلی او امنیتی تدبیرونو جزأګانو چه د قانون په حکم ټاکل شوی وی یا د نورو جرمونو له امله محکوم بها واقع شوی وی، نه مانع کیږي.

**یوسل او اووه پنځوسمه ماده:**
که یو شخص په خفیفه جزأ محکوم شوی وی بیا د بل جرم د ارتکاب په علت د هغی په شدیده جزأ محکوم شی آخرنی جزأ وربانـدی تطبیقیږی او د حبس هغه موده چه د لومړنی محکومیت له امله ئی تیره کړی ورته یی مجرایی ورکول کیږي.

**یوسل او اته پنځوسمه ماده:**
که شخص دمتعددو جرمونو ارتکاب کوونکی شی او دا جرمونه یو د بل سره ارتباط ونه لری او د حکم د صادریدلو تر مخه د هدف یووالی چه ذکر شوی جرمونه سره یو ځای کې موجود نه وی، محکمه به د هر جرم په ټاکلی جزأ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم کوی او محکوم بها جزاګانی به یوه د بلی پسی وربانـدی تنفیـذیـږی، په دی شرط چه د حبس مجموعه دشلو کلو څخه زیاتی ونه کی.

**یوسل او نهه پنځوسمه ماده:**
که یو شخص د جرم د ارتکاب په اثر محکوم شوی وی بیا د بل جرم د ارتکاب په اثر په جزأ محکوم شی دواړه جزأګانی یوه د بلی پسی وربانـدی تنفیـذیږی که څه هم د حبس موده د شلو کلو څخه زیاتی وکی.

**یوسل او شپیتمه ماده:**
نقـدی، تبعـی، تکمیلـی او دامنیتـی تـدبیرونو جزأګـانی چـه پـه هـره انـدازه متعددی شی د تنفیذ وړ دی.

## اتم فصل
## د تنفیذ تعلیق

**یوسل او یو شپیتمه ماده:**
۱- که په داسی جرمونـو کښې چه جزأ یـی تـر (دوه کلونـو) پـوری حـبس یـا تـر (څلورویشتو زرو) افغانیو پوری نقدی جزأ وی، محکمـه دمحکوم د اخلاقـو، سابقو، عمـر یـا نـورو حـالونو لـه نظره چه د جـرم دارتکـاب موجب ګرځیـدلی یقین پیدا کی چه بیا به د جرم ارتکاب نه کوی، کولی شی چه د حکم د تنفیـذ پـه تعلیـق تـصریح وکـی او هغـه د تبعـی، تکمیلـی او د امنیتـي تـدبیرونو پـه جزأګانو کښې شامله کی.
۲- محکمه مکلفه ده پخپل حکم کښی د مجازات د تعلیق سببونه ذکر کی.

**یوسل او دوه شپیتمه ماده:**
د تنفیذ د تعلیق موده دری کاله ده او د حکم د قطعیت د نېټی څخه محاسـبه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسل او دری شپیتمه ماده:**

د تنفیذ تعلیق په یوه لاندنیو حالونو کښې لغو کیدی شي:

۱- په هغه حالت کښې چه محکوم علیه د تعلیق په موده کښې د مماثل جرم یا د هغې څخه د زیات شدید جرم ارتکاب کوونکی شي.

۲- په هغه حالت کښې چه د تعلیق دمودی په اوږدو کښې ثابته شي چه شخص د تنفیذ د تعلیق د حکم د صادریدو ترمخه د جنحی یا جنایت په جزأ محکوم شوی او محکمه پری خبره نه وه.

۳- په هغه حالت کښې چه محکوم علیه د تعلیق دمودی په اوږدو کښې د جنایت یا دداسی جنحی ارتکاب وکی چه جزأیی د دری میاشتو حبس څخه زیاته وی عام له دی چه د هغې په مجازات په دی موده کې یا د هغې د تیریدو څخه وروسته حکم صادر شي.

**یوسل او څلور شپیتمه ماده:**

د تنفیذ د تعلیق لغو کیدل د هغې محکمې له خوا کیږی چه د تنفیذ د تعلیق حکم یی صادر کړی. که د تنفیذ د تعلیق دلغو کیدلو سبب هغه جزأوي چه د تنفیذ د تعلیق څخه وروسته پری حکم شوی، په دی صورت کښې به د لغو کولو حکم هغه محکمه صادروی چه په ذکر شوی جزأیی حکم صادرکړی.عام له دی چه د حکم صادریدل پخپله د محکمې په خوښه شوی وی یا د څارنوال په غوښتنه.

**یوسل او پنځه شپیتمه ماده:**

د تنفیذ د تعلیق د حکم لغو کیدل د محکوم بها جزأ داعادی مستلزم ده په شمول د تبعی، تکمیلي او د امنیتي تدبیرونو جزأګانو.

**یوسل او شپږ شپیتمه ماده:**

که محکوم علیه د تنفیذ د تعلیق د مودی په اوږدوکښی د جرم ارتکاب کوونکی نه شی د حکم آثار دمنځه ځی داسی ګڼل کیږی چه بیخی حکم نه دی صادر شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم باب
## د جرمونو او جزاګانو سقوط

### لومړی فصل
### عمومي حکمونه

**یوسل او اووه شپیتمه ماده:**

جرم دلاندنیو سببونو څخه په یوه ساقطیږي:

۱- د تورن وفات.

۲- عمومي عفو.

**یوسل او اته شپیتمه ماده:**

۱- هغه حکم چه دامنیتی تدبیرونو د جزأ په باره کښې صادر شوی په عمومی عفو او د تنفیذ د تعلیق د مودی په تیریدو په دی شرط چه په ذکر شوی موده کښی د هغی د لغو کیدو موجبات نه وی واقع شوی، ساقطیږي.

۲- اصلي جزأ، تبعی جزاګانی، تکمیلی او امنیتی تدبیرونه د حکم د سقوط په اثر، د پورتنی فقری ددرج شوو سببونو څخه دیوه په علت د محکوم علیه په وفات او خاص عفوی ددې باب ددوه یم فصل ددرج شوو حکمونو د په نظر کښې نیولو سره ساقطیږي.

### دوه یم فصل
### تفصیلی حکمونه محکوم علیه وفات

**یوسل او نهه شپیتمه ماده:**

۱- که محکوم علیه د حکم د قطعیت څخه ترمخه وفات شی جرم د هغی د ټولو آثارو سره ساقطیږی. مګر هغه څوك چه ددی جرم په اثر متضرر شوی وی کولی شی چه په مدني اختصاصي محکمه کښې دعوی اقامه کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- کـه محکـوم علیـه د حکـم د قطعیـت څخـه وروسـته وفـات شـی جزأ او د محکـوم بهـا امنیتـی تدبیرونـه ساقطیږی دا امـر پـه مـالی جزأګـانو، مـالی امنیتی تدبیرونو، د تعویضاتو په ورکولو او هغه څه چه اعـاده یې لازمـه ده د هغه په متروکه باندی د حکم د تنفیذ مانع نه ګرځی.

## دوه یم قسمت- عمومی او خصوصی عفو

### ۱- عمومی عفو

**یوسل او اویایمه ماده:**

۱- عمومی عفو د قـانون پـه وسـیله صـادریږی د هغـی پـه اثـر دعـوی منقضـی کیږی او کوم حکم چه د مجرم په محکومیت صادر شوی محو کیږی.

عمـومی عفـو ټـولی اصـلي، تبعـی، تکمیلـي جزأګـانی او امنیتـی تدبیرونـه ساقطوی او په پخوانیو تنفیذ شوو جزأګانو تأثیر نه لری په دی شرط چه دعفـو قانون د هغی په خلاف حکم کړی وی.

۲- که د عمومی عفو قانون د محکوم بهـا جزأ دیو جزء پـه بـاره کښې صـادر شـوی وی د خصوصی عفـوی پـه حکـم کـی دی او دخصوصی عفـوی حکمونـه پری تطبیقیږي.

۳-عمومی عفو د غیر د حقوقو داخلال نه موجب کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- خصوصي عفو

**یوسل او یو اویایمه ماده:**

۱-خصوصی عفو د جمهوری فرمان په وسیله صادریږی او د هغی په اثر ټوله یا ځینی قطعی محکوم بها جزأ ساقطیږی او یا تر هغی په خفیفه جزأ چه په قانون کښې ټاکل شوی تبدیلیږی.

۲-خصوصی عفو، تبعی او تکمیلی جزاګانی، نور جزائی آثار او امنیتی تدبیرونه نه ساقطوی، همدارنګه په مخکنیو تطبیق شوو جزاګانو تأثیر نه لری مګر په هغه صورت کښې چه دعفوی فرمان د هغی په خلاف تصریح کړی وی.

## دریيم قسمت- دحیثیت اعادهٔ او د حکم د تنفیذ تأجیل

**یوسل او دوه اویایمه ماده:**

د حیثیت داعادی او دحکم د تنفیذ دتأجیل په باره کښې د جزائی اجراآتو دقانون حکمونه تطبیقیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم کتاب
## جنایتونه، جنحی، قباحتونه او د هغی جزاګانی

## لومړی باب
## دعمومی ګټو په ضد جنایتونه او جنحی

### لومړی فصل
### د دولت د باندنی امنیت په ضد جرمونه

**یوسل او دری اویایمه ماده:**
که شخص دداسي عمل ارتکاب کوونکی شی چه د هغی په نتیجه کښې د افغانستان د دولت ټولی مځکی او یایی یو قسمت د باندنی دولت د حاکمیت لاندی واقع شی او یا د هغی استقلال یا د مځکو تمامیت ته صدمه ورسیږي اویا ددولت د حاکمیت لاندی مځکو څخه یو قسمت دهغی دادارۍ څخه جلاشی، په اعدام محکومیږي.

**یوسل او څلور اویایمه ماده:**
که شخص هېواد ته ددښمن د داخلیدلو دپاره آسانتیاوی برابری کی یا ښار، کلا، تأسیسات، د اسلحی مرکز او ډیپو او جنګی وسایل، د ارتزاقي موادو ذخیره، مواصلاتي وسیله، فابریکه، تولیدی مرکز او نورشیان چه د هېواد څخه ددفاع په منظور تیار شوی او یا د هېواد څخه ددفاع په لار کښې په کار اچول کیږی دښمن ته تسلیم کی، په اعدام محکومیږي.

**یوسل او پنځه اویایمه ماده:**
که شخص د اشخاصو یا د باندنی دولت په ګډون یا هغه اشخاص چه دهغی دولت په ګټه کار کوی د افغانستان د دولت په ضد وسله وال قیام وکی، په اعدام محکومیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يوسل او شپږ اويايمه ماده:**

که شخص د باندنی دولت ته يا هغه اشخاصو ته چه د هغی دولت په گټه دوسله وال قيام په حالت په تيری کوونکی عملونو دافغانستان د دولت په ضد کار کوی جاسوسی وکی، په اعدام محکوميږي.

**يوسل او اووه اويايمه ماده:**

۱- که شخص د افغانستان سره په جنگ کښی داخلو وسله والو قواوو سره پيوسته شی، په اعدام محکوميږي.
۲-که دپورتنی فقری درج شوی جرم دجنگ د زمانی څخه په غير ارتکاب شی، ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوميږی.

**يوسل او اته اويايمه ماده:**

۱-که شخص د جنگ په زمانه کې په يو قسم داقسامو څخه د هېواد ددفاعی رازونو څخه يو راز د باندنی دولت ته يا هغه اشخاصو ته چه دهغی دولت په گټه کا رکوی تسليم يا افشاء کی، په اعدام محکوميږي.
۲-که د پورتنی فقری درج شوی جرم د جنگ د زمانی څخه په غير ارتکاب شی، ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوميږي.

**يوسل او نهه اويايمه ماده:**

۱- که شخص د جنگ په زمانه کښې په يو قسم د اقسامو د هېواد ددفاعی رازونو څخه په يوه راز داطلاع په پيداکولو د باندنی دولت ته د هغی دتسليمولو يا افشاء کولو په مقصد يا هغه اشخاصو ته چه د هغی هېواد په گټه کار کوی بوخت شی، په اعدام محکوميږي.
۲-که د پورتنی فقری درج شوی جرم د جنگ د زمانی څخه په غير ارتکاب شی، ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوميږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسل او اتیایمه ماده:**

۱-که شخص د جنګ په زمانه کښې داشیاوو څخه یو شی چه د هېواد ددفاعی رازونو څخه یو راز شمارل کیږی د باندنی دولت په ګټه تلف یا یی د استفادی څخه وباسی، په اعدام محکومیږي.

۲-که د پورتنی فقری درج شوی جرم د جنګ د زمانی څخه په غیر ارتکاب شی، ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکومیږی.

**یوسل او یو اتیایمه ماده:**

که شخص عسکر د باندنی دولت د بیرغ لاندی خدمت د پاره چه د افغانستان سره د جنګ په حالت کښې قرار لری تحریک کی اویا د هغی دپاره زمینه برابره کی یا په یو قسم داقسامو څخه د عسکرو ، اشخاصو، مالونو، تجهیزاتو په جمع کولویا وسیلو، یا دتدبیرونو په اتخاذ د هغه دولت په ګټه بوخت شی چه د افغانستان سره د جنګ په حالت کې دی، په اعدام محکومیږي.

**یوسل او دوه اتیایمه ماده:**

۱-که شخص د جنګ په زمانه کښې ددولت دوسله والو قواوو یا دخلکو ملی روحیه ددښمن په ګټه په هره وسیله چه وی متزلزله کی یا یی معنویات یائی دفاعی قدرت ضعیف کی، په اعدام محکومیږي.

۲-که د پورتنی فقری درج شوی جرمونه د جنګ د زمانی څخه په غیر ارتکاب شی، ارتکاب کوونکی په اوږده حبس محکومیږی.

**یوسل او دری اتیایمه ماده:**

۱-که مامور، اجیر یا د عمومی خدمتونو نور مؤظفین د جنګ په زمانه کښی د هېواد ددفاعی رازونو څخه یوراز بی له دی چه د باندنی هېواد ته یا هغه اشخاصو ته چه دهغی دولت په ګټه کار کوی دتسلیمولو یا افشاء کولو قصد ولری افشاء کی، په داسی ډول چه دهېواد دفاعی، سیاسي یا اقتصادی موقف متضرر کی ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم د جنګ د زمانی څخه په غیر ارتکاب شی، ارتکاب کوونکی په اوږده حبس محکومیږي.

**یوسل او څلور اتیایمه ماده:**

۱- که شخص د جنګ په زمانه کښې عمداً دروغجن یا مغرضانه خبرونه، اعلامیی او اظهارات خپاره کی یا عمداً په تحریکوونکی پروپاګند، شفوی یا تحریری تبلیغ په هره وسیله چه وی اقدام وکی په داسی ډول چه د هېواد دفاعی قدرت ته یا دوسله والو قواوو نظامی عملیاتو ته ضرر ورسوی یا داچه دخلکو ترمنځ نا آرامی تولید کی او یا د خلکو معنویات ضعیف کی، په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرمونه د باندنی دولت سره د مخابراتی تماس نتیجه وی ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس او که د مخابراتی تماس نتیجه داسی د باندنی دولت سره وی د افغانستان د دولت سره د جګړې طرف وی په اعدام محکومیږي.

۳- که ددې مادې د (۱) فقری درج شوی جرمونه دجنګ دزمانی څخه په غیر واقع شی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس محکومیږي.

۴- که ددې مادې د (۲) فقری درج شوی جرمونه د جنګ د زمانی څخه غیر ارتکاب شی،ارتکاب کوونکی داحوالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

**یوسل او پنځه اتیایمه ماده:**

که شخص د مادی یا معنوی ګټې په منظور د خپل ځان یا د بل شخص دپاره د دښمن وسله والو قواوو ته په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه په پورتنیو مادو کښې ددرج شوو حالونو څخه په غیر یو خدمت تر سره کی، په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسل او شپږ اتیایمه ماده:**

۱- که شخص دجنګ په زمانه کښې پخپله یا د بل شخص په وسیله د هېواد ځخه دننه یا د بل هېواد د لاری جنسونه، تولیدات او نور شیان بی د دولت د موافقی هغه هېواد ته چه د افغانستان سره په جنګ کښې داخل وی صادر اویا پورتنی ذکر شوی شیان د متحارب هېواد ځخه افغانستان ته وارد کی، دجرم دموضوع د مالونو په مصادری علاوه په اوږد حبس او د ذکر شوو اجناسو د قیمت په پنځه چنده نقدی جزأ محکومیږي.

۲- که د جرم دموضوع شیان ضبط شوی نه وی تورن د هغی د قیمت په ورکولو هم محکومیږي.

**یوسل او اووه اتیایمه ماده:**

۱- که شخص د جنګ په زمانه کښې پخپله یا د بل شخص په وسیله د اتباعو یا دولت سره چه د افغانستان د دولت سره په جنګ کښې داخل دی بی د دولت د موافقی ځخه یا د ذکر شوی دولت د تجارتی وکیلانو یا نمایندګانو سره په هر ځای کې چه یی اقامت وی تجارتی مناسبات قایم کی، د جرم دموضوع دمالونو په مصادری علاوه په اوږده حبس چه دلسو کلو ځخه زیات نه وی او په نقدی جزأ چه د سل زرو افغانیو ځخه کمه نه وی او د یو ملیون افغانیو ځخه زیاته نه وی محکومیږي.

۲- که په پورتنی فقره کښې درج شوی د جرم دموضوع شیان ضبط شوی نه وی محکمه به د هغی دقیمت په ادا کولو هم حکم کوی.

**یوسل او اته اتیایمه ماده:**

۱- که شخص د جنګ په زمانه کښی د دولت سره په خپلو ټولو یا یو قسمت تعهداتو کی چه د وسله والو قواوو د ضرورت وړ موادو په واردولو یا رسولو بناوی یا په ارتزاقی او یا نورو موادو کښی چه د خلکو د ساتنی دپاره ورځخه کار اخستل کیږی عمداً خلل ورسوی یا په یو قسم د اقسامو د ذکر شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعهداتو په اجراء کې د حیلې یا تقلب څخه کار واخلي په اوږده حبس محکومیږي.
دا حکم په ذکر شوو تعهداتو کښې وکیل، ممثل یا وسیط ته هم شامل دي.
۲- که په پورتنی فقری کښې درج شوی جرمونه د هېواد د قدرت او دفاعی حرکتونو یا دوسله والو قواوو د عملیاتو دضعیفه کیدو موجب شی، ارتکاب کوونکی په اعدام محکومیږي.

**یوسل او نهه اتیایمه ماده:**
که د جنګ په زمانه کښې ددې قانون په (۱۸۸) ماده کښې ددرج شوو ټولو یا ځینو تعهداتو په اجراء کولو کښې داهمال یا تقصیر په سبب اخلا ل واقع شی، ارتکاب کوونکی یې په متوسط حبس چه له یوه کال څخه کم نه وی او نقدی جزأ چه د پنځوس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

**یوسل او نوی یمه ماده:**
که شخص په غیر مشروع وسیله د هېواد درازونو څخه په یوه راز خبر شی په دې شرط چه د باندنی دولت ته یا هغه اشخاصو ته چه د هغی دولت په ګټه کار کوی د تسلیمولو یا افشاء کولو قصد یې نه وی کړی په متوسط حبس محکومیږي.

**یوسل او یو نوی یمه ماده:**
که یو شخص د باندنی دولت ته یا هغه چاته چه د هغه دولت په ګټه کا رکوی خبرونه، معلومات، شیان، لیکونه، سندونه، نقشي، رسمونه، او نور شیان چه دولتي دوایرو، دولت تصدي ګانو یا عام المنفعه مؤسسو پوری مربوط وی او د هېواد دسیاسي یا دفاعي ښیګڼو پوری مربوط نه وی اود باندنیو اشخاصو ته د قانون او مقرراتو د حکمونو سره سم د هغی خپرول او توزیع کول منع وي تسلیم کي، په متوسط حبس یا نقدي جزأ چه له دولس زرو افغانیو کمه او د شپیتو زرو افغانیو زیاته نه وي محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسل او دوه نوي یمه ماده:**

۱– که شخص عمداً د هوائی، ځمکنیو یا اوبنیو وسایلو څخه یوه، لار او نور داسی تأسیسات چه د عسکرو پوری مربوط وي او یا د ددولت دوسله والو قواوو د پاره تخصیص شوي وی، یو قسمت یا ټوله خرابه کی یا هغه د استفادی څخه وباسی، په اوږده حبس محکومیږي.

۲– که د پورتنی فقری درج شوی جرمونه په یوه راتلونکی حالت کښې ارتکاب شی ارتکاب کوونکی په اعدام محکومیږي:

۱– په هغه حالت کښې چه فعل دداسی دولت په ګټه ارتکاب شی چه د افغانستان سره په جنګ کښې داخل وی.

۲– په هغه حالت کښې چه د دولت ددفاعی احضاراتو فعل یا دفاعی قدرت اویا نظامي حرکتونه د هلاکت سره مخامخ کی.

**یوسل او دری نوی یمه ماده:**

۱– که شخص د پورتنیو ټاکل شوو مادو د حالونو څخه په غیر دیو عمل د ارتکاب په منظور ملی ګټو ته ضرر ورسوي، دباندنی هېواد څخه یا د هغه اشخاصو څخه چه د هغی هېواد په ګټه کار کوی د ځان دپاره یا د بل شخص دپاره پیسي یا ګټه پخپله یا د بل چا په وسیله واخلی، وغواړی یا قبوله کی، یا د هغی د اخستلو وعده ورکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وی او په نقدی جزأ چه د سل زرو افغانیو څخه کمه نه وی او د هغی اندازی څخه چه ورکول شوی یا په هغی وعده کړی شوی زیاتی نه وی محکومیږي.

۲–که ارتکاب کوونکی دماموړینو اجیرانو یا دنورو عمومی خدمتونو د مؤظفینو د جملی څخه وی یا دپورتنی فقری درج شوی جرم د جنګ په زمانه کښی ارتکاب شی، ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس او دپورتنی فقری په عین نقدی جزأ محکومیږي.

۳– که شخص د ملي ګټو مخالف عمل د ارتکاب په قصد دپورتنیو ذکر شوو شیانو څخه یو چاته ورکی یائی عرضه کی یائی دورکولو وعده وکی یائی په اجراء کولو کښی وساطت وکی، د پورتنی فقری په عین جزأ محکومیږی. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوساطت دقبولی غوښتنه یا وعده په لیکلی توګه شوی وی ذکر شوی جرم د مکتوب د صادریدو سره سم انجام شوی شمیرل کیږي.

**یوسل او څلور نوی یمه ماده:**

۱- راتلونکی اشخاص په دوام لرونکی حبس محکومیږي:

۱- شخص یا اشخاص چه د باندنی هېواد په ګټه کار کوی د افغانستان د حربي، سیاسي، دیپلوماسي یا اقتصادي مرکز ته د ضرر رسولو په قصد جاسوسي وکي.

۲- که شخص سره ددې چه د عمل په جرمی خاصیت علم لری پاڼی یا داسی اسناد چه د دولت د امنیت یا نورو ملی ګټو پوری مربوط وی عمداً تلف، پټی، اختلاس یا تزویر کی.

۲- که شخص ددې مادې ددرج شوو جرمونو د جنګ په زمانه کښې مرتکب شی، په اعدام محکومیږي.

**یوسل او پنځه نوی یمه ماده:**

که شخص په یو دولتی کار کښې د باندنی دولت سره د مذاکرو په اجرأ کولو مکلف شوی وی او عمداً یی د افغانستان د ګټو په ضد تر سره کی، په دوام لرونکی حبس محکومیږي.

**یوسل او شپږ نوی یمه ماده:**

۱-که شخص بی د دولت داجازی څخه دعسکرو په حاضرولو یا د باندنی دولت په ضد په بل تیری کوونکی عمل بوخت شی چه د هغی په اثر د افغانستان دولت د جنګ د خطر سره مخامخ شی په اوږده حبس چه دلسو کلو څخه زیات نه وی محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم عملاً په جنګ منجر شی ارتکاب کوونکی په اعدام محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳-که ددې مادې د (۱) فقرې درج شوی جرم یوائې د سیاسي علاقو په پرې کولو یا په بالمثل رویه منجر شی په اوږده حبس چه ددولس کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

**یوسل او اووه نوی یمه ماده:**

۱- راتلونکی اشخاص په متوسط حبس محکومیږي:

۱- هر افغان چه په خارج کښې عمداً غلط او غرض لرونکی خبرونه، بیانیی، یا پروپاګند د هېواد د کورنیو چارو په باره کښې خپری کې چه ددولت د مالی اعتبار، حیثیت یا اعتبار د ضعیفه کیدلو موجب وګرځی.

۲- هر افغان چه د هېواد څخه د باندی په یو قسم د اقسامو داسی فعالیت تر سره کی چه د هغی په اثر ملی ګټو ته ضرر ورسیږي.

۲- که ددې مادې درج شوی جرمونه د جنګ په زمانه کښې ارتکاب شی ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

**یوسل او اته نوی یمه ماده:**

۱- راتلونکی اشخاص په لنډ حبس او په نقدی جزأ چه پنځوس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي او یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوي محکومیږي:

۱-چه شخص بی د مربوطو مقامونو داجازی څخه د افغانستان په فضا کښې الوتنه وکی.

۲- چه شخص بی د مربوطو مقامونو د اجازی څخه کلاګانو، دفاعی یا امنیتی تأسیساتو، عکسري قشلو، جنګی موټرونو، او نورو نظامی یا امنیتی ځایو ته او فابریکو ته چه په کښې د هېواد ددفاعي ګټو دپاره کار جریان لري او عام خلک په هغی کښې دننوتلو څخه منع وی، داخل شي.

۳-چه شخص د عسکري مرکزونو یا نورو ممنوعه ځایونو د عکسونو، رسمونو یا نقشو اخستلو ته اقدام وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که ددې مادې په تېرلو درج شوو حالونو کښې جرم د فریب، جعل، د شخصیت، کار، کسب یا تابعیت د پټولو د وسیلو څخه په یوه وسیله ارتکاب شی او یا جرم د جنګ په زمانه کښې واقع شی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه د یوه کال څخه کم نه وی او نقدي جزأ چه ددولس زرو افغانیو کمه او د پنځوس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۳- په هغه صورت کښې چه ددې مادې د (۲) فقرې دواړه درج شوی حالونه سره یوځای شی ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.
۴- ددې مادې درج شوو فقرو په جرمونو شروع د ذکر شوو جرمونو د ارتکاب په حکم کی دی.

**یوسل نهه نوی یمه ماده:**

۱- راتلونکی اشخاص ددې فصل په درج شوو جرمونو کښې د جرم د شریک په حیث مجازات کیږي:
۱- چه شخص سره ددې چه د مجرم په جرمی قصد علم لری ورسره مرسته وکی یا د مجرم د پاره د ژوند کولو، اوسیدلو، د پناه ځای، ځای، داجتماع وسیلی یا نوری آسانتیاوی برابری کی یا د هغه د لیکونو حامل وګرځی یا یی پټ یائی نقل کی.
۲- که څوک سره د علمه هغه شیان چه د جرم په ارتکاب کښې استعمال شوی یا د هغی منظور د پاره تیار شوی یا هغه شیان چه د جرم د ارتکاب څخه په لاس راغلی وی پټ کی.
۳- که څوک یو سند چه د جرم په کشف او د مجرم د مجازات په دلایلو کښې آسانتیاوی برابروی تلف، اختلاس یا پټ کی او یا هغی ته تغییر ورکی.
۲- په پورتنیو حالونو کښې محکمه کولی شی چه د مجرم میره، ښځه اصول او فروع په جزأ محکوم نه کی مګر داچه قانون په بل ډول حکم کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سومه ماده:**

۱-که شخص د جرم د ارتکاب څخه وروسته او د عدلي تعقیب څخه تر مخه د قضائي ضبط مامورینو ته خبر ورکې د جرم د ارتکاب کوونکو یا شریکانو پوره شهرت یا دنورو ضروري معلوماتو چه د جرم د کشف پورې مربوط وې د قضائي ضبط مامورینو په لاس کښې کښېږدې یا داچه دارتکاب شوي جرم مماثل ارتکاب کوونکي مربوطو مقامـونوته معرفي کې محکمه کـولې شې چه د هغه په باره کښې مخففه حالونه مراعات کې.

۲- که اطلاع د جرم دارتکاب او تمامیدو تر مخه مربوطو مقامونو تـه ورکول شي، اطلاع ورکوونکې د مجازات څخه معافیږي.

**دوه سوه او یومه ماده:**

راتلونکې معلومات د هېواد د دفاعي اسرارو د جملې څخه شمېرل کیږي:

۱- نظامي، سیاسي، دیپلوماسي، اقتصادي او صنعتي معلومات چه د هغې د ماهیت له نظره د هغه اشخاصو څخه په غیر چه رسماً ورسره سر او کار لرې د هېواد دفاعي ښیګڼو لازمه کړې وې چه نور اشخاص پرې خبر نه شي.

۲- مکتوبونـه، لیکونـه، سندونه، رسمونه، نقشي، تـصویرونه، عکسونه او نور شیان چه د هېواد ښیګڼو لازم کړې وې چه غیر د هغـه اشخاصـو څخه چه ورسره سر او کار لـرې بل څوک پرې خبر شي.

۳- دنظامي تشکیلاتو او سوقیاتو پورې مربوط خبرونـه او معلومات، حربي وسیلي، په عمومي توګه هغه معلومات چه د نظامي او استراتیژیکي چارو پـورې مربـوط وې او داردو د عمـومي قوماندانې لـه خـوا د هغـې د خپرولـو لیکلې اجازه نه وې صادره شوې.

۴- خبرونـه او معلومات چه د تـدبیرونو او اجراآتـو پـورې مربـوط وې او ددې فـصل ددرج شـوو جرمونـو د کـشف او تحقیـق یـا دهغـې دارتکـاب کوونکـو د محاکمې دپاره اتخاذ کیږي.

سره ددې صلاحیت لرونکې محکمه کولې شي د هغه ګزارشاتو خپرونه چه ئې لازم وګڼي اجازه یې ورکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او دوه یمه ماده:**
د جنګ حالت عبارت دی د تصادم دپیل څخه تر پای پوری.
هغه موده چه په هغی کښی ددښمن سره د نږدی تصادم احتمال موجود وی هغه هم د جنګ د حالت په حکم کښی ده.

**دوه سوه او دریمه ماده:**
سیاسي جمعیتونه چه د افغانستان دولت یی په رسمیت نه پیژنی او د هغوی سره د جنګ په حالت کښې قرار ونیسي د باندنی هېواد په حکم کښی دی.*

## دوه یم فصل
## د دولت د کورنی امنیت په ضد جرمونه

**دوه سوه او څلورمه ماده:**
که شخص د افغانستان د جمهوري رژیم د پښنو غورځولو د پاره د قوی د استعمال سره اقدام وکی په اعدام محکومیږي.

**دوه سوه او پنځمه ماده:**
۱-که شخص د دولت داساسی قانون یا ددولت د شکل دچپه کولو یا تغییر دپاره د قوي د استعمال سره اقدام وکی په اوږده حبس محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرمی عمل دوسله و ال جمعیت په وسیله وشی تأسیس کوونکی ، رئیس او هر شخص چه په یوقسم د اقسامو د ذکر شوی وسله وا ل جمعیت رهبری په غاړه لری په اعدام محکومیږي.

**دوه سوه او شپږمه ماده:**
۱- که شخص د جمهور رئیس په ژوند تیري وکي یا ئي آزادي سلب کي په اعدام محکومیږي.

---

* د جزاء د قانون ۲۰۳ ماده لغو شوې، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- دپورتني فقري ددرج شوي جرم د شروع ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکومیږي.

**دوه سوه اوومه ماده:**

۱- که شخص د قوې په استعمال تهدید یا دهشت اچولو د دولت رئیس د داسې عمل په اجراء کولو مجبور کې چه قانوناً یې صلاحیت لري یا یې دهغې څخه په منع راوړلو په جبر مجبور کې په دوام لرونکي حبس محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم ددولت د رکنونو په یوه رئیس یا د حکومت او یا د پارلمان په یوه غړی وشي، ارتکاب کوونکی په اوږده حبس محکومیږي.

**دوه سوه اتمه ماده:**

که شخص د افغانستان د دولت په ضد د افغانستان اردو یا خلک وسله وا ل قیام ته دعوت کي په اعدام محکومیږي. په دي شرط چه ددې دعوت په نتیجه کښې قیام صورت ومومي د هغې په غیر ارتکاب کوونکی په اوږد حبس محکومیږي.

**دوه سوه نهمه ماده:**

که څوک ددې قانون د (۲۰۴، ۲۰۵ او ۲۰۸) درج شوو مادو د جرمونو د ارتکاب د پاره د خلکو په منځ کښې شفوي یا تحریري تبلیغ وکي د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**دوه سوه اولسمه ماده:**

که څوک خلک کورنی جنګ ته یو د بل په ضد تحریک کی د جنګ دواقع کیدو په صورت کښې په دوام لرونکی حبس، د جنګ دنه واقع کیدو په صورت کښې که د بی نظمی او لوټ کولو باعث وګرځی د احوالونو سره سم په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي. په هغه صورت کښې چه د ذکر شوي شخص تحریک مؤثر واقع نه شي ارتکاب کوونکي د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او یوولسمه ماده:**

۱- که څوک په جرمی قصد د یوی عسکري فرقې یا ګروپ، جنګي الوتکې، تانې یا عسکري قشلې لاربنوونه بی د دولت د امر څخه اوبې د مشروع سبب څخه په غاړه واخلي په اعدام محکومیږي.

۲- که شخص د دولت د امر په صادریدو د قیادت څخه منع کړي شو خو سره د هغی هم خپل عمل ته دوام ورکی یا داچه د عسکری قوماندانی قوه، د دولت د امر دصادریدو وروسته چه اسلحي د ایښودلو په باره کښې یې کړی، د خپل اثر لاندی عساکر مسلح او جمع وساتي په اعدام محکومیږي.

**دوه سوه او دوولسمه ماده:**

۱- څوک چه دوسله والو قواوو یا د ژاندارم او پولیسو په افرادو د امر او قوماندي حق لري د جرمي قصد لرلو سره د دولت دامرونو د معطلولو حکمونه صادر کي په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری د درج شوی جرم په اثر د دولت امرونه بالفعل معطل شي ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په اعدام یا دوام لرونکی حبس محکومیږي.

۳- لاندنی صاحبمنصبان که ددې حکمونو اطاعت وکی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

**دوه سوه او دیارلسمه ماده:**

۱- که څوک د یوی ډلی وسله والو جنایت کارانو ریاست یا په قسم د اقسامو په هغی کښې قیادت د دولتی ملکو یا مالونو یا دیو جمعیت خلکو د مالونو د غصبولو او لوټولو په مقصد په اوږه واخلی یا د هغه عسکرو یا امنیتي قواوو په مقابل کښې مقاومت وکی چه ددې ډلي جنایت کارانو د مجرمینو د تارو مار کولو دپاره مکلف شوی وی په اعدام محکومیږي.

۲- که څوک د پورتنی فقری درج شوی د جنایت کارانو ډله اداره او تنظیم کی د حالونو سره سم په دوام لرونکی حبس یا اوږده حبس محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د پورتنی فقری درج شوی د جنایت کارانو د ډلی نور غړی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

**دوه سوه او څوارلسمه ماده:**

راتلونکی اشخاص دحالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي:

۱- که څوک ددې قانون د (۲۱۳) مادې ددرج شوی د جنایت کارانو ډلې ته وسله او نورې جنګی وسیلې تیارې کی چه په جرم کښې ورڅخه استفاده وکي یا د هغې د جرمي خاصیت د علم لرلو سره ذکر شوي ډلې ته ارتزاقي مواد ولیږي.

۲- که څوک ذکر شوی ډلې ته د هغی جرمي صفت او هدف په علم لرلو سره د اوسیدلو یا پناه ځای ورکي یا هغوی ته د اجتماع ځای برابر کي.

**دوه سوه او پنځلسمه ماده:**

که څوک ددې قانون د (۲۱۳، ۲۱۴) مادو ددرج شوي جنایت کارانو په ډله کښې شامل وي او په هغی کښې کومه عهده او قیادت ونه لري او د عسکري یا امنیتي مقامونو د لمړني اخطار سره فوراً له ډلي ووځي، د جرم د شریک په حیث نه مجازات کیږي، مګر که د بل جنایت ارتکاب کوونکی شوی وی.

**دوه سوه او شپاړسمه ماده:**

۱- که څوک د قوی په استعمال د دولتی بناګانو، مؤسسو او نورو ځایونو چه د عمومي ښیګڼو په منظور آبادي شوي، اشغالولو ته اقدام وکی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم دوسله والی ډلي په وسیله ارتکاب شي، تأسیس کوونکی دډلی مشر او هغه شخص چه په قسم داقسامو ئي د هغي قیادت په غاړه وي په اعدام محکومیږي.

**دوه سوه اووه لسمه ماده:**

۱- که څوک عمداً آبادي، عمومي ملکیتونه، د دولتی دوایرو او عامو مؤسسو پوری خاص املاک یا هغه جمعیتونه چه په قانوني ډول د عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښيګڼو د تأمين په غرض تأسيس شوي وي په داسي توګه خراب شي چه په کلي يا جزئي صورت د ګټې اخستلو قابليت ونه لري، د احوالو نو سره سم په اوږد حبس يا متوسط حبس محکوميږي.

۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم د اضطرار په حالت کښې يا د بې نظمۍ د پيدا کولو په قصد او يا د خلکو په منځ کښې د وارخطايي او ويرې د پيدا کولو دپاره ارتکاب شي، ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو کم نه وي محکوميږي.

۳- که ددې مادې د (۱) فقری ددرج شوی جرم په اثر که څوک په ذکر شوو ځايونو کښې موجود وي مړ شي ارتکاب کوونکی په اعدام محکوميږي.

۴- ددې مادې په ټولو حالونو کښې مجرم په اصلي جزأ علاوه د هغه شيانو د قيمت په ورکولو چه يي وران يا خراب کړي هم محکوميږي.

**دوه سوه او اتلسمه ماده:**

که څوک د افغانستان د جمهوري بيرغ د سپکاوي په قصد را کښته کي او يائي څيرې کي په اوږده حبس محکوميږي.

دوه سوه او نولسمه ماده:

که څوک نور دداسی کار د ګډون د موافقي دپاره دعوت کې چه د هغې څخه د جرمونو څخه د يو جرم د ارتکاب غرض وي چه ددې قانون په (۲۰۴، ۲۰۵، ۲۱۲، ۲۱۴، ۲۱۶، ۲۱۷) مادو کښې ټاکل شوي په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي، په دې شرط چه ددې منظور د پاره د هغه بلنه نه وي قبوله شوی.

**دوه سوه او شلمه ماده:**

۱-که څوک ددې قانون د (۲۰۴،۲۰۵،۲۱۲، ۲۱۳، ۲۱۴، ۲۱۶، ۲۱۷) مادو کښې د ټاکل شوو جرمونو د ارتکاب په پلان علم ولري او د هغې څخه مربوطو مقامونو ته اطلاع ورنه کی د احوالونو سره سم په متوسط حبس محکوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- محکمه د پورتنی فقری په درج شوو حالونو کښې کولی شی چه د مجرم میړه، ښځه، اصول او فروع په جزأ محکوم نه کي مګر داچه قانون په بل ډول حکم کړی وی.

**دوه سوه او یوویشتمه ماده:**

۱- که څوک یو سازمان د حزب، جمعیت، هیئت، یا ډلې په نامه ایجاد، تأسیس، تنظیم یا اداره کې چه هدف یي چپه کول یا د منځه وړل دملي اساسي یا د دولت دسیاسي، اجتماعي، اقتصادي او کلتوري قبول شوو ارزښتونو څخه د یوه وي، یا دهغي رواجولو او قبولولو دپاره په هري وسیلي چه وي تبلیغونه یا خپروني وکي، د حالونو سره سم په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

۲- که د پورتني فقري درج شوي حزب، جمعیت، هیئت یا ډله د خپلو هدفونو د تأمین دپاره ددهشت اچولو یا نورو غیر مجازو وسیلو څخه کار واخلي ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکومیږي.

۳- ددې مادې د اولی او دوهمی فقرو درج شوی حکمونه په هر خارجی چه په افغانستان کې اوسیږي او په هر افغان چه په خارج کښې اوسیږي چه په ذکر شوو فقرو کښې ذکر شوي سازمانونه یا د هغي د فروعو څخه یوه فرعه په خارج کښې ایجاد، تأسیس، اداره یا تنظیم کي او یا په افغانستان کښې دننه ددې قسم سازمانونو دیوې فرعي دفروعو په ایجادولو، تأسیس، اداره یا تنظیم بوخت شي که څه هم دهغې مرکز د افغانستان څخه د باندې وي تطبیقیږي.

۴- که څوک ددې مادې د (۱) فقري د درج شوو سازمانونو څخه په یوه کې او یا د هغې د فروعو څخه یو فرعي ته ملحق شي ددې مادې د (۱) فقري په عین جزأ محکومیږي.

۵- که څوک پخپله یا د بل شخص په وسیله ددې مادې د (۱) فقري درج شوو سازمانونو سره یا دهغي دفروعو څخه دیوي فرعي سره د غیر مشروع هدفونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تأمین په منظور ارتباط قایم کي یا هغی ته دنورو اشخاصو دپیوستون د تشویق سبب وګرځي د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**دوه سوه او دوه ویشتمه ماده:**

که شخص پخپله یا د بل شخص په واسطه مطبوعات، لیکنی یا خپرونی ددې قانون د (۲۲۱) مادې ددرج شوو سازمانونو د هدفونو درواجولو د تأمین په منظور یا د هغی دفروعو څخه د یوی فرعی دپاره، د توزیع او د نورو د اطلاع دپاره تیاری کړی پخپل حیازت کښې یې ولري، خرڅی ئی کې یا یې دخرڅ د پاره عرضه کی، داحوالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**دوه سوه او دری ویشتمه ماده:**

که شخص د طبعي، ثبت، خپرولو یا اعلان د وسیلو څخه یوه وسیله د اعلامیو، قطعنامو، شبنامو، ترانو، رسالو، تبلیغاتو د طبع کولو، ثبتولو، خپرولو تیتولو په منظور د دې قانون د (۲۲۱) مادې د درج شوو سازمانونو پوری مربوط یا د هغی د فروعو څخه دیوی فرعی دهدفونو د رواجولو د تأمین د پاره چه د (۲۲۱) مادې په (۱) فقره کښې ذکر شوی پخپل حیازت کښې که څه هم مؤقتي وي ولري د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**دوه سوه او څلور ویشتمه ماده:**

۱- که شخص بی د صلاحیت لرونکو مقامونو د اجازی څخه په افغانستان کښې دننه د جمعیت، هیئت یا غیر سیاسي ډلي چه هېواد واله صبغه ولري په ایجاد، تأسیس، اداري، یا تنظیم بوخت شي په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری ددرج شوو سازمانونو ایجاد، تأسیس، اداره یا تنظیم د جعلي اجازه نامي په اساس بنا شوي وي ارتکاب کوونکی د ذکر شوی فقری په دوه چنده ټاکل شوی جزأ محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او پنځه ویشتمه ماده:**

۱- که شخص پخپله یا د بل شخص په وسیله په یو قسم د اقسامو پیسي یا بله هره نوع مادی ګټه یا مرسته دداخلی یا خارجی منابعو څخه ددې قانون د (۲۲۱، ۲۲۲، ۲۲۳، ۲۲۴) مادو ددرج شوو جرمونو د ارتکاب په منظور لاس ته راوړی د حالونو سره سم په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

۲- که څوک د پولی یا مادی مرستو له لاری ددې قانون د (۲۲۱، ۲۲۲، ۲۲۳، ۲۲۴) مادو کښې ددرج شوو جرمونو ارتکاب ته دنورو د تشویق سبب شي که څه هم په هغی کښی دارتکاب د ګډون قصدونه لری دپورتنی فقری د ټاکل شوی جزأ په نیمایی محکومیږي.

**دوه سوه اوشپږ ویشتمه ماده:**

ددې قانون د (۲۲۱، ۲۲۲، ۲۲۳) مادو په ټولو درج شوو حالونو کښې به محکمه د سازمانونو او د هغی د فروعو د انحلال، د مرکزونو، دفترونو او نمایندګیو د بندولو حکم کوی.

**دوه سوه او اووه ویشتمه ماده:**

۱- ددې قانون د (۲۲۱ تر ۲۲۶) مادو په ټولو درج شوو حالونو کښې به محکمه دشتمنی، پانو، سندونو او نورو شیانو په مصادره چه د جرم په ارتکاب کښې په کار اچول شوی حکم کوی.

۲- محکمه به د ټولو هغه مالونو او شیانو په مصادره حکم کوی چه په ظاهر کښې د محکوم علیه په املاکو او مالونو کښې داخل وي او دلیلونه او قریني یې ثابت کې چه په واقع کښې ددې مالونو او املاکو څخه ددې قانون د (۲۲۱) مادې د (۱) فقری درج شوو سازمانونو یا د هغی دفروعو څخه یوی فرعی دخپلومرامونو دوړاندی وړلو په منظور استفاده کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او اته ويشتمه ماده:**

که څوک ددې قانون د (۲۲۱) مادې د (۱) فقرې ددرج شوو سازمانونو څخه په يوه کښې او يا د هغې د فروعو څخه په يوې فرعې کښې شامل وي مګر د هغوی د خراب کارې يا توطئې څخه کاملاً بې خبره وي او د هغوی په هيڅ نوع فعاليت کښې يې برخه نه وي اخستې او يا د هغوی څخه عملاً جلا شوی وي د هغه جرمونو د جزاګانو څخه چه د سازمان يا د هغه د فروعو څخه يوې فرعې ارتکاب کړی معافيږي، مګر دا چه قانون بل ډول حکم کړی وي.

**دوه سوه او نهه ويشتمه ماده:**

۱- که څوک يو پټ جمعيت غير له هغې چه په پورتنيو موادو کښې يې ذکر شو ايجاد کې يا د هغې اداره يا د يوه عمده مرکز اداره په اوږو واخلې په متوسط حبس محکوميږي.

۲- د پټ جمعيت هر غړی په حبس چه له يوه کال څخه زيات نه وي يا نقدي جزأ چه له دولس زرو افغانيو تجاوز ونه کې محکوميږي.

۳- هر جمعيت چه خپل ټول يا يو قسمت فعاليتونه په پټه توګه تر سره کې اويايې هدف د قانون نه مغاير وي او يا خپل غرض په دروغجنو يا ناقصو اظهاراتو په وسيله دمربوطو مقامونو څخه پټ کې يا اساسنامه د فعاليت وسيله، يا دغږو نومونه يا وظيفي يا د خپلو غونډو موضوع ګانې پټې کې د پټ جمعيت په حکم کښې دی.

**دوه سوه او ديرشمه ماده:**

که پنځه يا تر هغې زيات کسان په يوه عمومې محل کښې د امنيت د اخلال په مقصد غونډه وکې او د امنيتې قواوو له خوا ورته د تيتدلو امر وشې د هغوی هريو چه امر ورته ابلاغ شوی او ورڅخه سر تاوکې، د حالونو سره سم په لنډ حبس يا نقدي جزأ چه د دولس زرو افغانيو زياته نه وي محکوميږی مګر دا چه قانون بل ډول حکم کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او یو دیرشمه ماده:**

۱– که څوک په عمومي محل کې خلک غونډې ته راوبلی یا سره ددې چه علم لری چه د امنیتی قواوو له خوا منع شوی په هغی کښی غونډه وکی په لنډه حبس یا نقدي جزأ چه ددولس زرو افغانیو څخه زیاتی نه وی محکومیږي.

۲– د پورتنی فقری د ذکر شوی غونډی تحریک کوونکی چه د خپرونی په یوی وسیلی سره یی کوی په عین جزأ محکومیږي.

**دوه سوه او دوه دیرشمه ماده:**

۱– که د غونډی هدف د جنایت یا جنحي ارتکاب یا د قوانینو یا د مقرراتو د عملي کولو منع کول یا د صلاحیت لرونکو مقامونو په عملونو تاثیر اچول یا د عمل د آزادي څخه د شخص محرومول وي، په هغه صورت کښې چه تاثیر یا محرومول د عنف او تهدید سره یوځای وي، بلونکې اداره کوونکې او هر څوک چه سره ددې چه د غونډې په هدف علم ولري په هغې کې ګډون وکي یا د علم حاصلولو وروسته د هغې غونډې څخه ونه وځي، په بند چه ددوه کلونو څخه زیات نه وي یا نقدي جزأ چه د څلورویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

۲– که یوه غونډه کوونکی د عنف او تهدید څخه کار واخلي یا د هغوی څخه یو ظاهري وسله یا جرمي نوري وسیلي چه د هغې استعمال کله کله په مرګ منجر کیږي د ځان سره ولري بلونکې، اداره کوونکې او هر بل شخص چه د غونډې د هدف د علم لرلو سره په هغی کښې ګډون وکی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

۳– که یو د غونډې کوونکو څخه د ذکر شوي غونډې د هدف د تر سره کولو په منظور د یو جرم ارتکاب کوونکی شی، ټول ګډون کوونکی چه د جرم د ارتکاب په وخت کښې په غونډه کې موجود وی په قانون کښې د هغی په ټاکلی جزأ محکومیږي. په دی شرط چه د غونډی په هدف علم ولری د غونډې بلونکی او اداره کوونکی که څه هم د جرم دواقع کیدو په وخت کښې په غونډه کښې موجود نه وی د هغی په ټاکلی جزأ محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- ددې مادې حکمونه د هغې ډیر شدیدی جزأ دتطبیق مانع نه گرځی چه په قانون کښې ټاکل شوی.

**دوه سوه او دری دیرشمه ماده:**

۱- که څوک خلک (مذهبی، قومی یا لسانی) تبعیض یا تفرقی ته راوبولی او یایی تحریک کی د حالونو سره سم په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږی.

۲- که د پورتنی فقری درج شوی بلنه یا تحریک نتیجی ته ورسیږی یا د عنف او تهدید سره یو ځای وی ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه د اووه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږی.

**دوه سوه او څلور دیرشمه ماده:**

۱- که څوک یو یا څو نفره د جنایت یا جنحی په ارتکاب دوینا، فعل یا اشاری په وسیله چه په علنی توگه ورڅخه صادر شوی وی یا د لیک، رسم، تصویر، رمز یا په نورو تمثیلی، سمعی اوبصری وسیلو په علنی ډول تحریک یا تشویق کی، د جرم د شریک په صفت پیژندل کیږي او د تحریک یا تشویق د جرم د موضوع په عین ټاکل شوی جزأ محکومیږی، په دې شرط چه ذکر شوی جنایت یا جنحه بالفعل د هغه د تحریک یا تشویق په سبب ارتکاب شوی وی.

۲- که د پورتنی فقری درج شوی تحریک یا تشویق یوازی د جرم د شروع سبب شوی وی، تحریک کوونکی یا تشویق کوونکی د جرم د شروع په جزأ محکومیږی.

**دوه سوه او پنځه دیرشمه ماده:**

که څوک نور په مستقیم ډول د قتل، لوټ او یا دامنیت محلو جرمونو ارتکاب ته په یوه علنی وسیله تحریک یا تشویق کی په هغه صورت کښې چه د هغه دا تحریک یا تشویق کومی نتیجی ته ونه رسیږی د حالونو سره سم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلور ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

**دوه سوه او شپږ دیرشمه ماده:**

۱- که څوک مطبوعات مخطوطات، رسمونه، سلایدونه، کلیشې، مجسمې، نقش شوي تصویرونه، رمزي اشاری او نور شیان او تصویرونه چه د عامو د کلتور او ادبونو منافی وی د تجارت، توزیع، اجاری په قصد عرضه یا الصاق کې یا یي پخپله حیازت کې ولری د حالونو سره سم په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلور ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

۲- که څوک عمداً پخپله یا د بل شخص په وسیله د پورتنی فقری درج شوی شیان د اخلاقو د فساد په منظور یا د پورتنیو ذکر شوو منظورونو د پاره صادر، وارد یا انتقال کی یا یي د نمایش د پاره د عامو خلکو دکتلو دپاره وړاندی کی یا یې په اجاره ورکی او یایی خرڅ کی یا یي د خرڅ یا اجاری د پاره که څه هم په غیر علنی ډول وی عرضه کی یا یي بل چاته په پټ یا علنی ډول که څه هم په وړیا ډول وی وسپاری یا هغه توزیع کی یا یی د توزیع د پاره بل چاته تسلیم کی، د حالونو سره سم په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلورویشتو زرو افغانیوتجاوز ونه کی محکومیږي.

۳- که څوک په یوه علنی وسیله د عمومی آدابو څخه مخالف په یو سرود یا خطابه بوخت شی یا خلک فحشاء او د اخلاق فساد ته وبلی یا ددی منظور د پاره اعلانونه یا رسالی خپری کی، د دې مادې د (دوه یمی) فقری په عین ټاکل شوی جزأ محکومیږي.

۴- ددې مادې د پورتنیو ذکر شوو فقرو ددرج شوو جرمونو د تکرار په صورت کښې ارتکاب کوونکی د ټاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او اووه دیرشمه ماده:**

۱- که ددې قانون د (۲۳۶) مادی درج شوی جرمونه د جریدو یا ورځ پاڼو له لاری ارتکاب شی مسئول مدیر او لیکونکی داصلی فاعلینو په صفت د خپریدو سره سم د هغی په تاکلی جزأ محکومیږي.

۲- ددې قانون د (۲۳۶) مادی په ټولو درج شوو حالونو کښې که د جرم اصلی فاعل تشخیص نه کړی شو طبع کوونکی او توزیع کوونکی او عرضه کوونکی د جرم د اصلی فاعلینو په صفت مجازات کیږي.

۳- محکمه کولی شی واردوونکی یا صادرروونکی یا دلال د جرم د اصلی فاعلینو په صفت هم په جزأ محکوم کی، په دې شرط چه ددې قانون د (۲۳۶) مادی درج شوی جرمونه چه د جریدو یا ورځپاڼو له لاری یی صورت موندلی وی د هغوی عمدی برخه په اثبات ورسوی.

**دوه سوه او اته دیرشمه ماده:**

په هغه حالونو کښې چه لیک، رسم، تصویر، عکس، چارت، رمز یا نوری تمثیلی وسیلی چه ددی قانون د (۲۲۱، ۲۲۲، ۲۲۹، ۲۳۰، ۲۳۴، ۲۳۶، ۲۳۷) مادو ددرج شوو جرمونو څخه د یوه په ارتکاب کښې چه د باندی خپور شوی وی او په هغه حالونو کښې چه د جرم د اصلی ارتکاب کوونکی تشخیص غیر ممکن وی، واردوونکی او طبع کوونکی د جرم د اصلی فاعل په صفت په جزأ محکومیږي.

که دواردوونکی او طبع کوونکی تشخیص ممکن نه وی خر څوونکی، توزیع کوونکی یا الصاق کوونکی د اصلی فاعلینو په صفت مجازات کیږي مګر داچه ددعوی د حالونو او کیفیتونو څخه دشخص عدم واقفیدل د لیک، رسم، تصویر، رمز یا د نورو تمثیلی وسیلو د جرمی ماهیت په محتویاتو ظهور ته ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او نهه دیرشمه ماده:**

که څوک په یوی علنی وسیلی خلک فتنی، بی نظمی، عصیان یا تمرد ته وبولی په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږی په دی شرط چه بلنه یی مؤثره واقع نه شی.

**دوه سوه او څلویښتمه ماده:**

۱- که څوک عمداً خبرونه، معلومات، دروغجنی بیانیی، غرض لرونکی تبلیغونه، یا تحریک آمیزه پروپاګندونه په هره وسیله د وسایلو څخه چه وی خپاره یا تیت کی، چه غرض یی د امنیت اخلا ل د خلکو ترمنځ د وحشت او دهشت ایجاد یا عمومی ښیګڼو او ګټو ته د ضرر رسول وی د حالونو سره سم په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلور ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی، محکومیږي.

۲- که شخص پخپله یا د بل شخص په وسیله مطبوعات، خپرونی یا نوشتی د توزیع او د نورو د اطلاع د پاره تیار دپورتنی فقری ددرج شوو جرمونو د ارتکاب په منظور پخپل حیازت کښي ولري یا د طباعتی ، ثبت یا اعلان هره وسیله د وسیلو څخه د همدی منظور د پاره پخپل حیازت کښي که څه هم په مؤقتی ډول وی راوړی، د حالونو سره سم د ذکر شوو وسیلو په مصادره علاوه په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلور ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

**دوه سوه او یو څلویښتمه ماده:**

که څوک په یوی علنی وسیلی د افغانستان ملت، بیرغ یا نښان سپک کی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**دوه سوه او دوه څلویښتمه ماده:**

۱- که څوک په یوه علنی وسیله جمهور رئیس ته سپکاوی وکی په متوسط حبس محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- کـه د پـورتني فقـرې درج شـوی جـرم د جمهـور رئـيس پـه محـضر کـښې ارتکاب شي مرتکب په اوږده حبس محکومیږي.

**دوه سوه او دري څلويښتمه ماده:**

راتلونکی اشخاص د حالونو سره سم په لنډ حبس يا نقدي جزأ چه د دولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي:

۱- که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه، د باندنیو هېوادونو رئیسانو ته ښکنځل وکی.

۲- کـه څـوک دیـوی علنـی وسـیلی پـه واسطه پـه افغانـستان کـښې د بانـدنيو هېوادونو رسمی نمایندګانو ته د هغوی د وظیفی په ارتباط ښکنځل وکی.

**دوه سوه او څلور څلويښتمه ماده:**

که څوک د یـوی علنـی وسـیلی پـه واسطه شـخص يـا اشـخاص د قـانون پـه بـی اطاعتی، تحریک، یا یو عمل چه قانون جرم شمارلی وی تمجید کی، پـه لنډ حبس چه ددری میاشتو څخه کم او نقدی جزأ چه ددری زرو افغـانیو څخـه کم او ددولـس زرو افغـانیو زیاتـه نـه وی یـا د دې دواړو جزاګـانو څخـه پـه یـوی محکومیږي.

**دوه سوه او پنځه څلويښتمه ماده:**

که څوک د یـوی علنـی وسـیلی پـه واسـطه د قبیلـی د افـرادو یـا د قبیلـو ترمنځ ددښمنی د ایجادولو تحریک وکی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم یـا نقـدی جـزأ چـه ددری زرو افغـانیو کـم او د دولـس زرو افغـانیو زیاتـه نـه وی محکومیږي.

**دوه سوه او شپږ څلويښتمه ماده:**

که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه لویه جرګه، پارلمان، حکومت، اردو، محکمی، یا نورو دولتی مقامونه سپک کی، پـه لنډ حبس چه ددری میاشـتو کم او نقدی جزأ چه د دری زرو افغانیو کمه او د دولس زرو افغـانیو زیاتـه نـه وی یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او اووه څلوېښتمه ماده:**

که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه د پارلمان د غونډو پټی مباحثی یا د هغی علنی مباحثی بی د امانت لرلو په بدنیت خپری کی په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم یا نقدی جزأ چه د دری زرو افغانیو کمه او د دولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.

**دوه سوه او اته څلوېښتمه ماده:**

که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه د عمومی خدمتونو مؤظف د وظیفی د ارتباط له امله توهین کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او د شپږو میاشتو زیات نه وی او نقدی جزأ چه د دری زرو افغانیو کمه او د شپږ زرو افغانیو تجاوز ونه کی یا ددی دواړو جزأگانو څخه په یوی محکومیږي.

**دوه سوه او نهه څلوېښتمه ماده:**

که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه د قاضی مقام، حیثیت یا سلطه ددعوو د غور په وخت کښې اخلا ل وارد کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او د شپږو میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د شپږ زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

**دوه سوه او پنځوسمه ماده:**

۱– که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه داسی مطالب خپاره کی چه په هغه قاضیانو د تاثیر قابلیت ولری چه د نظر لاندی قضیه د هغه د غور لاندی ده یا د قضایي ضبط په مامورینو د تاثیر قابلیت ولری یا په شاهدانو چه په ذکر شوی قضیي د تحقیق یا قضائي غور د شهادت د ادا کولو د پاره غوښتل کیږي یا د تاثیر قابلیت په عمومي افکارو د قضیي د طرفینو څخه د یوه په ګټه یا ضرر د تحقیق یا د قضائي غور په وخت کښې ولري، په لنډ حبس چه د دري میاشتو څخه کم او نقدي جزأ چه ددري زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو زیاته نه وی یا ددې دواړو جزأگانو څخه په یوی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که د پورتني فقری خپرونه عمداً د تاثیر د ایجاد په منظور وی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات او نقدي جزأ چه ددولس زرو افغانیو کمه او د څلور ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

**دوه سوه او یو پنځوسمه ماده:**

لاندنی اشخاص په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم او نقدی جزأ چه د دری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو زیاته نه وی یا ددی دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي:

۱- که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه د یوی مدنی یا جزأیي دعوی جریان چه محکمی یی پټ ټاکلی وی خپور کی.

۲- که څوک د یوی وسیلی په واسطه د قضائي اجراآتو ټول یا یو قسمت چه خپرونه یی د نظم او عمومی آدابو د ساتنی په منظور د محکمی د قضائي قرار په اساس منع شوی وی خپور کی.

۳- که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه د محکمو د پټو غونډو جریان یا د هغی د علنی غونډو جریان د بد نیت او بی د امانت لرلو خپور کی.

**دوه سوه او دوه پنځوسمه ماده:**

که شخص د یوی علنی وسیلی په واسطه د جرم د تحقیق په باره کښې یو خبر چه مؤظفو مامورینو د هغی اجرأ کول د جګړه والو په غیاب کې قرار ورکړی وی او یا یی د هغی خپرونه د نظم یا عمومی آدابو په منظور منع کړی وی خپور کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او د شپږو میاشتو زیات نه وی او نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د شپږو زرو افغانیو تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

**دوه سوه او دری پنځوسمه ماده:**

که څوک د یوی علنی وسیلی په واسطه د نقدی جزأ د اداکولو یا د محکوم بها مصرفونو یا تضميناتو په مقصد د اعانی د راټولولو دفتر خلاص یا اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی او نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو زیاته نه وی یا ددې دواړو جزأگانو څخه په یوی محکومیږي.

## دریم فصل
## رشوت

**دوه سوه او څلور پنځوسمه ماده:**

د عمومی خدمتونو هر مؤظف چه دیوی وظیفی د اجراء یا امتناع یا اخلا ل په مقصد چه پري مکلف شوی پخپل نوم یا د بل شخص په نوم نقدي پیسي، مال یا یوه گټه وغواړی یا د شخص څخه د هغی وعده واخلی اویا بخشش قبول کی رشوت اخستونکی شمارل کیږي.

**دوه سوه او پنځه پنځوسمه ماده:**

۱– رشوت اخستونکی په حبس چه ددوه کلونو څخه کم او د لسو کلونو زیات نه وی او په نقدی جزأ د هغه څه معادل چه د رشوت په حیث یی غوښتی یا ورکول شوی یا په هغی وعده ورکول شوی محکومیږي.

۲– رشوت ورکوونکی او درشوت واسطه د پورتنی فقری په عین درج شوی جزأ محکومیږي.

**دوه سوه او شپږ پنځوسمه ماده:**

که د رشوت څخه د داسی جرمی فعل ارتکاب غرض وی چه په قانون کښې د هغی تاکلی جزأ د رشوت د تاکلی جزأ څخه ډیره شدیده وی رشوت اخستونکی، رشوت ورکوونکی او د رشوت واسطه د رشوت د تاکلی نقدی جزأ علاوه د هغی جرم په تاکلی جزأ هم محکومیږي.

**دوه سوه او اووه پنځوسمه ماده:**

که څوک د عمومی خدمتونو مؤظف دمادی یا معنوی زور د لاری د ناحقه کار په اداء کولو مجبور کی یا د هغه د وظیفی د یوه مکلفیت داجرا کولو مانع

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګرځي يا په هغې کښې د اخلال باعث شي، د رشوت اخستونکي په حکم کښې حساب او دهغې په ټاکلي جزأ محکوميږي.

**دوه سوه او اته پنځوسمه ماده:**

که د عمومي خدمتونو مؤظف د وظيفې د تر سره کولو په مقابل کښې پخپل نوم يا د بل شخص په نوم څه شي وغواړي يا د هغه چا څخه چه د وظيفې دلحاظ يې ورته کار کړی بخشش واخلي او يايي قبول کې او يا د بخشش په منظور پخپل يوه وظيفوي مکلفيت کښې د کار د تر سره کيدو وروسته خلل وارد کي يا بي د پخواني موافقي د مکافات اخستلو په قصد د هغې څخه امتناع وکي يا په هغې کې خلل وارد کي په متوسط حبس او نقدي جزأ د هغه څه معادل چه د بخشش غوښتنه يا وعده شوي محکوميږي.

**دوه سوه او نهه پنځوسمه ماده:**

که د پارلمان، ښاروالی، د محلي او ولايتي جرګو غړی د خپل ځان يا بل شخص د پاره يو شي وغواړي يا په هغې وعده، قبوله کې يا بخشش واخلي او په دې منظور د نفوذ څخه کار واخلي او د عمومي خدمتونو د صلاحيت لرونکو مقامونو څخه حکمونه، قرار، امرونه، تعهد، ترخيص، موافقه، وارديدل، مؤظفيدل، قرار داد يا هر نوع بل خدمت او امتياز حاصل کې د رشوت اخستونکي په حکم کې حسابيږي د دې قانون د حکمونو سره سم مجازات کيږي.

**دوه سوه او شپيتمه ماده:**

که يو شخص رشوت عرضه کې خو د عمومي خدمتونو د مؤظف له خوا قبول نه شي رشوت ور کوونکي په متوسط حبس يا نقدي جزأ چه د دولس زرو افغانيو کمه او د شپيته زرو افغانيو زياته نه وي محکوميږي.

**دوه سوه او يو شپيتمه ماده:**

که د عمومي خدمتونو مؤظف سره ددې چه د عمل په جرمي خاصيت علم ولري، ددې قانون د (۲۵۴، ۲۵۸، ۲۵۹) درج شوو حکمونو سره سم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخشش یا ګټې یو ناچیزه قسمت بالواسطه قبول کې، په حبس چه دیو کال څخه زیات نه وي او په نقدي جزأ معادل د هغه څه چه یې اخستی یا قبول کړی محکومیږي.

**دوه سوه او دوه شپیتمه ماده:**

ددې فصل په ټولو درج شوو حالونو کښې په مصادره د هغه څه چه رشوت ورکوونکی یا د رشوت واسطې عرضه کړې حکم کیږي.

**دوه سوه او دري شپیتمه ماده:**

که رشوت د عمومي شتمنۍ په تلفیدو منجر شي یا د حق باطلیدو یا پټیدو ته یا د باطلو احقاق ته مفضي شوی وي، ارتکاب کوونکی ددې قانون د (۲۵۴) مادې د ټاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

**دوه سوه او څلور شپیتمه ماده:**

که شخص چه ورڅخه رشوت غوښتل شوی صلاحیت لرونکی مقامونه خبر کې او دذکر شوو مقامونو د تدبیرونو نیولو په اثر ثابته شي چه د عمومي خدمتونو مؤظف دی عمل ته لاس اوږد کړی، رشوت اخستونکی ددې قانون د حکمونو سره سم مجازات کیږي او اطلاع ورکوونکی بری الذمه ګڼل کیږي.

**دوه سوه او پنځه شپیتمه ماده:**

که هغه شخص چه رشوت ورته عرضه شوی درشوت د اخیستو تر مخه صلاحیت لرونکی مراجع خبر کې او په نتیجه کښې عرضه کوونکی بالفعل ونیول شي. ددې قانون د حکمونو سره سم مجازات کیږي.

**دوه سوه او شپږ شپیتمه ماده:**

د رشوت په جرم شروع د هغې د ارتکاب په حکم کې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او اووه شپيتمه ماده:**
درشوت په جزأ کښې د محکمې قطعی حکم چه د شخص په محکوميت صادر شوی خپريږي.

## ځلورم فصل
## اختلاس او غدر

**دوه سوه او اته شپيتمه ماده:**
۱- د عمومي خدمتونو هر مؤظف چه د دولت يا د افرادو مالونه ورته د وظيفي له حيثه سپارل شوی وی اختلاس يا پټ کی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زيات نه وی محکوميږي.
۲- که د پورتنی فقری جرم خزانه دار، تحويل دار، د تحصيلي مامور، صراف، د پترولو مامور، د شکري مامور، ګدام دار، نقدي او جنسي معتمدين، دارزاقو مؤظفين يا نور اشخاص چه دوظيفی له حيثه د اختلاس شوو يا پټو شوو شيانو په ساتنه مکلف وی ارتکاب کوونکی شی په اوږده حبس محکوميږي.
۳- د عمومی خدمتونو مؤظف چه د مسلک څخه په طرد يا دوظيفی څخه په انفصال محکوميږي د حيثيت داعاده کيدو وروسته د جزائي اجراآتو د قانون د حکمونو سره سم بيا د دولت په ماموريت يا خدمت منل کيږي.

**دوه سوه او نهه شپيتمه ماده:**
د عمومی خدمتونو هر مؤظف چه پيسي، قيمت لرونکی پاڼی، متاع ګانی يا د دولت د ملکيت نور مالونه بی له حقه د خپل مالکانه تصرف لاندی راوړی په متوسط حبس محکوميږي.

**دوه سوه او اويا يمه ماده:**
۱- د عمومی خدمتونو هر مؤظف چه په يو عقد يا عمل يا قضيه کښې د دولت دګټو په ساتنه مکلف وی د ګټی د حاصلولو په منظور د خپل ځان يا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل شخص د پاره ذکر شوی ګټی په کلي ډول متضرری کی په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زيات نه وی محکوميږي.

۲- که دپورتني فقری درج شوی ضرر جزئی وی ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په متوسط یا لنډ حبس محکوميږي.

**دوه سوه او يواويايمه ماده:**

دعمومی خدمتونو هر مؤظف چه په اداره، قرار دادونو، عوايدو، وارداتو يا د دولت پوری د نورو مربوطو امورو يا د هغی په مراقبت کښې مستقيم مکلفيت ولری او د هغی په اثر دپورتنيو امورو څخه په يوه کښی پخپل نوم يا د بل شخص په نوم د ځان د پاره ګټه حاصله کی اويا دهغی په حاصلولو پسي تشبث وکی په متوسط حبس چه د دری کلونو څخه کم نه وی محکوميږي.

**دوه سوه او دوه اويايمه ماده:**

د عمومي خدمتونو هر مؤظف چه د خپل لاس لاندی کارګران يا اجيران پخپلو شخصی کارونو کې په رسمي وخت کښې استخدام کی يا يی د قانونی جواز څخه د هغه ټول يا يو قسمت اجوره حجز کی په لنډ حبس يا نقدي جزأ چه ددولس زره افغانيو څخه زياته نه وی محکوميږي.

**دوه سوه او دري اويايمه ماده:**

۱- مجرم په دی فصل کښې په ټاکل شووجزأګانو علاوه د مال په ردولو او د اختلاس شوو مالونو معادل نقدي جزأ يا په هغه څه چه د دولت د مال څخه يي په خپل تصرف کی راوړی هم محکوميږي.

۲- په هغه صورت کښې چه د محکوم بها حبس موده ددري کلونو څخه زياته وی، ارتکاب کوونکی د مسلک څخه په طرد يا دوظيفی څخه په انفصال هم محکوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او څلور اویایمه ماده:**

ددې فصل په درج شوو جرمونو کښې د جزائي دعوی دمودی سقوط د وظیفی د پای ته رسیدو د نیټې څخه شروع کیږي په دې شرط چه تر هغی د مخی ورڅخه تحقیق نه وی شروع شوی.

## پنځم فصل

## د افرادو په مقابل کښې د عمومی خدمتونو د افرادو بده رویه

**دوه سوه او پنځه اویایمه ماده:**

۱- که د عمومی خدمتونو مؤظف تورن د اعتراف اخستلو په منظور شکنجه کی او یا په هغی امرو کی په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که تورن دشکنجی په نتیجه کښې قتل ته ورسیږی ارتکاب کوونکی په دی قانون کښی دعمد قتل په ټاکلی جزأ محکومیږي.

**دوه سوه او شپږ اویایمه ماده:**

که د عمومی خدمتونو مؤظف محکوم علیه د محکوم بها جزأ څخه زیات شدید مجازات کی او یا په هغی امر وکی او یا پری داسی جزأ تطبیق کی چه په هغی حکم نه وی شوی، د متوسط حبس په جزأ علاوه د مسلک څخه په طرد یا دوظیفی څخه په انفصال هم محکومیږي.

**دوه سوه او اووه اویایمه ماده:**

که د عمومی خدمتونو مؤظف، د خپلي وظیفي د صلاحیت څخه په استفادی سره د شخص کورته د هغه د اجازی په غیر او د هغه حالونو او ترتیب څخه په غیر چه قانون پری تصریح کړی داخل شی، په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلورویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

**دوه سوه او اته اویایمه ماده:**

که د عمومی خدمتونو مؤظف د خپل وظیفوی صلاحیت څخه په استفادی سره د شخص سره په داسی ډول شدت او خشونت وکی چه د هغه د جسمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دردونـو موجب یـایي د پت او حیثیت منـافي وگرځـي، د حـالونو سره سم پـه حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نـه وي یا نقدي جزأ چه د څلور ویشتو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

**دوه سوه او نهه اویایمه ماده:**

که د عمومی خدمتونو مؤظف د خپـل وظیفـوی صـلاحیت څخـه پـه استفادی سره د مـالک څخه د هغه منقول یا غیر منقول مال په زور واخلي یا بی لـه حقه هغه د خپل مـالکانه تصرف لاندي راوړي یا مـالک مجبور کی چه خپل مال پـه بل شخص خرڅ کی. عـلاوه د هغـه حبس څخه چه ددوه کلونـو څخـه زیـات او نقدي جزأ چه د څلور ویشتو زرو افغـانیو متجاوز نـه وی، د مسلک څخـه پـه طرد یا د وظیفی څخه په انفصال او د غصب شـوی شی پـه ردولـو او کـه عـین شی موجود نه وی د هغی په قیمت محکومیږي.

## شپږم فصل

## د رسمي پاڼو او سندونو غلا او تلف کول

**دوه سوه او اتیایمه ماده:**

۱- که د عمومی خدمتونو د مؤظف داهما ل په اثر چه ددولت پوری د مربوطو پاڼو، سندونو، یا دوسیو او یا دقضایي دعـوی د پاڼو پـه ساتنه مکلف وی، ذکر شوی پاڼی غلا، پټی یا تلف شی، مؤظف شـخص پـه لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی یا نقدی جزأ چه د دولس زرو افغـانیو څخه تجـاوز ونـه کـی محکومیږي.

۲- دپـورتنی فقـری ددرج شـوو شـیانو غـل، تلف کـوونکی یـا پټـوونکی پـه متوسط حبس محکومیږی.

۳- که ددې مادې د (۱) فقری د درج شوو شیانو فاعل د هغی محـافظ وی پـه اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- که ددې مادې د (۱) فقرې د درج شوو شیانو غلا کول، پټول یا تلف کول د محافظینو د اکراه په اثر صورت ونیسي ارتکاب کوونکی په اوږده حبس محکومیږي.
۵- د ملي ارزښتونو لرونکی سندونو، غل، تلف کوونکی یا پټوونکی د حبس د جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.
۶- که ددې مادې د (۵) فقرې ددرج شوو سندونو غلا یا تلفیدل د عمومي خدمتونو د مؤظف د اهمال په اثر صورت موندلی وی، ارتکاب کوونکی په متوسط حبس محکومیږي.

**دوه سوه اویو اتیایمه ماده:**
که د پست او تلگراف مؤظف تسلیم شوي مکتوب یا تلگراف پټ، افشاء یا خلاص کی یا ددې منظور د پاره د نورو د پاره آسانتیا برابره کی، د مسلک څخه په طرد یا د وظیفې څخه په انفصال علاوه په لنډ حبس چه د درې میاشتو کم نه وي یا نقدي جزأ چه ددرې زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

## اووم فصل
## د قانوني صلاحیت دحدودو څخه د عمومي خدمتونو د مؤظفینو تیری

**دوه سوه او دوه اتیایمه ماده:**
که د عمومي خدمتونو مؤظف دعوی د دواړو خواوو څخه یوه ته د گټې یا ضرر رسولو په مقصد د قاضي یا محکمې په نزد د امر، التماس غوښتنې یا سفارش په صیغه واسطه شي، په لنډ حبس چه ددرې میاشتو څخه کم نه وی یا نقدي جزأ چه ددرې زرو افغانیو څخه کمه او د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او دري اتیایمه ماده:**

که قاضي بی دقانونی جواز څخه د فیصلي او حکم د صادریدو څخه منع راوړی او یا ثابته شی چه ددې قانون د (۲۸۲) مادې ددرج شوو سببونو څخه د یوه په بنا ناحقه فیصله یې صادره کړي، د حالونو سره سم په متوسط حبس او دمسلک څخه په طردیدو محکومیږي.

**دوه سوه او څلور اتیایمه ماده:**

که قاضي د قانوني غوښتنی څخه وروسته، د حکم صادریدل رد یا متوقف کی، د حکم څخه منع کیدونکی شمارل کیږي. که څه هم په قانون کښې د حکم یا د هغی د صراحت په نیشتوالی استدلال وکی، مگر داچه قانون بل ډول حکم کړی وی.

**دوه سوه او پنځه اتیایمه ماده:**

۱- که د عمومي خدمتونو مؤظف د خپل وظیفوي صلاحیت څخه په استفادی سره عمداً د قوانینو حکمونه مقررات، حکم، د محکمې قرار اوامر، یا د حکومت د صلاحیت لرونکی مراجعو امرونه او یا د مالونو او مالیو تحصیل چه د قانون په حکم ټاکل شوی، بي د قانوني جواز څخه متوقف کی، دحالونو سره سم په لنډ حبس چه ددرې میاشتو څخه کم نه وي یا نقدي جزأ چه ددرې زرو افغانیو څخه کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی توقف په اثر دولت دپلانونو په اجراء کولو کښې تأخیر یا معطلي واقع شی او یا عمومی شتمنی ته صدمه ورسیږی، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په اوږده یا متوسط حبس محکومیږي.

**دوه سوه اوشپږ اتیایمه ماده:**

۱- که کمه اندازه دری نفره د عمومی خدمتونو مؤظفین د غیر قانوني شریک مرام ته درسیدو په مقصد خپله وظیفه که څه هم د استعفی په صورت وی ترک کی اویا عمداً د وظیفی د اداکولو څخه استنکاف وکی، هریو په لنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبس چه ددری میاشتو څخه کم او دشپږو میاشتو څخه زیات نه وی یا نقدي جزأ چه درې زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

۲- که د وظیفی د ترک یا استنکاف په نتیجه کښې ژوند ، صحت او عمومی امنیت د خطر سره مواجه شی یا د خلکو په منځ کښې فتنه او نا آرامی پیدا شی یا عمومی گټو ته ضرر ورسیږی، ارتکاب کوونکی دپورتنی فقری د اکثری اندازی په دوه چنده جزأ محکومیږي.

**دوه سوه او اووه اتیایمه ماده:**

۱- که دعمومی خدمتونو مؤظف د کار په جریان کښې دخلل اچولو یا معطلولو په قصد خپله وظیفه ترک کی یا ددې منظور د پاره د وظیفي د اداکولو څخه استنکاف وکی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو څخه کم نه وی او ددولس زرو افغانیو څخه زیات نه وی محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری ذکر شوی مؤظف په باره کښې ددې قانون د (۲۸۶) مادی د (۲) فقری حکم صدق پیداکی، ارتکاب کوونکی ددې مادې د (۱) فقری ددرج شوی جزأ د اکثری اندازی په دوه چنده محکومیږي.

**دوه سوه او اته اتیایمه ماده:**

۱- که شخص د تحریك له لاری د دی قانون د (۲۸۶ ، ۲۸۷) مادو د درج شوو جرمونو د جملی څخه په یوه کی گډون وکی، د حالونو سره سم د ذکر شوو مادو د ټاکل شوو جزأگانو په دوه چنده محکومیږی .

۲- که د پورتنی فقری ذکر شوی شخص د عمومی خدمتونو مؤظف وی په ټاکل شوی جزأ علاوه د مسلك څخه په طرد یا د وظیفی څخه په انفصال هم محکومیږی.

**دوه سوه او نهه اتیایمه ماده:**

۱- که شخص د عمومي خدمتونو مؤظف یا مؤظفین په یو قسم داقسامو د کار په ترک کولو او یا د یوه وظیفوي مکلفیت د اداکولو څخه په استنکاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحریک یا تشجیع کي او د هغه په تحریک یا تشجیع کومه نتیجه مرتبه نه شي، په حبس تر دري میاشتو یا نقدي جزأ تر دری زرو افغانیو محکومیږي.
۲– که محرک د عمومی خدمتونو مؤظف وی د پورتنی فقری د درج شوی جزأ په دوه چنده محکومیږي.

## اتم فصل
## د عمومی خدمتونو په مؤظفینو تیری

**دوه سوه او نوي یمه ماده:**
که شخص د عمومی خدمتونو په مؤظف د قوې په استعمال، شدت، ویرولو یا تهدید تیری وکي یا په تیري شروع وکی په لنډ حبس چه د شپږ میاشتو کم نه وی یا نقدي جزأ چه د شپږ زرو افغانیو کمه او د دولس زرو افغانیو زیاته نه وي اویاپه دواړو جزأګانومحکومیږي.

**دوه سوه او یو نوی یمه ماده:**
۱– که شخص د عمومی خدمتونو مؤظف په دوام لرونکی تعقیب د کور یا د وظیفی د محل په خوا کښی توقف، په هغه تهدید یا دوظیفی د اجراء څخه په منع کولو په یو قسم داقسامو د تیري لاندې واقع شي، ددې قانون د (۲۹۰) مادی په عین ټاکل شوی جزأ محکومیږي.
۲– که ارتکاب کوونکی د عمومی خدمتونو مؤظف وی د پورتنی فقری په درج شوی جزأ علاوه د مسلک څخه په طرد یا دوظیفی څخه په انفصال هم محکومیږی.

**دوه سوه او دوه نوی یمه ماده:**
که د عمومی خدمتونو په مؤظف د شخص د تیری یا مقاومت په اثر وهل یا زخم صورت ومومي، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدي جزأ چه د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه او دري نوي يمه ماده:**

۱- که ددې قانون د (۲۹۲) مادی د درج شوی وهلو یا زخم په اثر مجنی علیه په مؤقتي توګه معیوب شي یا دشلو ورځو څخه زیات د کار کولو څخه عاجز پاتی شي، ارتکاب کوونکی د خساری په جبیری علاوه په متوسط حبس چه د دوو کلونو څخه کم نه وی هم محکومیږي.

۲- که وهل یا زخم په دایمي معلولیت منجر شي یا دمخکنی تر صد او اصرار سره یوځای وي یا دوسلي سره یا ددوه نفرو څخه د زیاتو له خوایي صورت نیولي وی، ارتکاب کوونکی ددی قانون د (۴۰۸ تر ۴۱۳) مادو په ټاکل شوو جزاګانو محکومیږي.

**دوه سوه او څلور نوی یمه ماده:**

که شخص په اشاره یا قول یا تهدید د عمومی خدمتونو مؤظف دوظیفي د اجراء کولو په وخت کې یا دهغی په سبب سپک کی، په لنډ حبس چه دری میاشتو څخه کم او د شپږو میاشتو څخه زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

**دوه سوه او پنځه نوی یمه ماده:**

که سپکاوي د تلګراف یا تیلفون یا لیک یا رسم په وسیله شخص ته متوجه شی ارتکاب کوونکی ددې قانون د (۲۹۴) مادی د (۱) فقری په جزأ محکومیږي.

**دوه سوه او شپږ نوی یمه ماده:**

که شخص د عمومی خدمتونو سلطی یا د عمومی خدمتونو مؤظفین په دروغجنو اطلاع ګانو یا د حقیقت څخه خلاف عریضو یا په بل قسم د حادثو او مصیبتونو د واقع کیدو څخه چه بیخي واقعیت ونه لري سره ددې چه د هغې د عدم واقعیت څخه علم لری، په اضطراب کښې واچوي دلنډ حبس دجزأ څخه علاوه چه ددرې میاشتو څخه کم نه وي یا نقدي جزأ چه دري زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانیو څخه کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي د خساري په جبران چه د دې پلوه وارد شوي هم محکومیږي.

## نهم فصل
## د وظیفو او لقبونو انتحال

**دوه سوه او اوه نوی یمه ماده:**

کـه څـوک بـې لـه دې چـه د ماموریـت صـفت یـا ددولـت رسـمی اجـازه ولـرې د عمـومي وظیفـو څخـه پـه یـوې کـښې مداخلـه وکـې او یـا ددې وظیفـو پورې مربوط یو مکلفیت تر سره کې د حـالونو سره سم پـه متوسط حبس یا نقدي جزأ چـه ددولـس زرو افغـانیو کمـه او دشـپیتو زرو افغـانیو زیاتـه نـه وی محکومیږي.

**دوه سوه او اته نوي یمه ماده:**

که شخص بې له دې چه رتبـه یـا اسـتحقاق ولـرې عـسکری یونیفـورم پـه علنـې ډول استعمـال کـې یـا بـې لـه دې چـه قـانون جـواز ورکـړې وې د وظیفـې ممیـزه علامه حمل کې، د حـالونو سره سم په حبس چه ددوه کلونو څخـه زیـات نـه وی یا نقدی جزأ چه د څلور ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کې محکومیږي.

**دوه سوه او نهه نوی یمه ماده:**

که څوک بې له دې چه قانوني جواز ولري خپل ځان په افتخاري لقب یا رتبه یا وظیفـه ملقب کـې او یـا دقـضائي ضبط مـامور پـه حیث معرفي کـې او یـا پـه علني صورت داسي نښان زوړند کې چه ورتـه ورکـول شـوی نـه دی، پـه نقـدي جزأ د یوزر څخه تر پنځو زرو افغانیو محکومیږي.

**دری سومه ماده:**

که څوک بې د قانونی جواز څخه خپل ځان په خارجی افتخاري یا رتبـوی لقب ملقب کې او یا په علنی صورت بې د قـانونی جـواز څخـه یـا د دولـت د رئـیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



داجازی څخه خارجی نښان زوړند کی، ددې قانون د (۲۹۹) مادی په عین ټاکل شوی جزأ محکومیږي.

**دری سوه او یوومه ماده:**
ددې قانون د (۲۹۹، ۳۰۰) مادو په درج شوو حالونو کښې محکمه کولی شی د فیصلی د حکم لنډیز په ورځنی جریده کښی چه د محکمی له خوا ټاکل کیږي د محکوم علیه په مصرف خپور کی.

## لسم فصل
## د مروجو پیسو جعل

**دري سوه او دوه یمه ماده:**
۱- که څوک په هر کیفیت چه وي هغه پیسي چه په قانوني توګه په افغانستان کښې مروجی دی جعل کی په اوږده حبس محکومیږي.
۲- د مروجه پیسو تقلید، د مسکو کاتو د اصلی مقدار تنقیص یا د هغی ملمع کول په داسی قسم چه د نورو مروجو پیسو سره چه ارزش یې زیات دی شبیه وګرځي، جعل شمارل کیږي.

**دری سوه او دریمه ماده:**
راتلونکی اشخاص په اوږده حبس محکومیږي:
۱- څوک چه سره دعلمه جعلی پیسی رواج یا پری معامله وکی یا د رواجولو یا معاملی په قصد هغه پخپل حیازت کې راوړي.
۲- که څوک سره دعلمه پخپله یا د بل چا په وسیله جعلی پیسی افغانستان ته داخلی کی او یا یی ور څخه وباسی.
۳- که څوک آلات، سامان یا وسیلی دپیسو دجعل دپاره سازکی یا یی په کار واچوی یا یی خرڅ کی یا یی د خرڅ د پاره عرضه کی یا یی په اجاره ورکی یا یی بې دقانونی جواز څخه پخپل حیازت کښې راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درې سوه او څلورمه ماده:**

که ددې قانون د (۳۰۲، ۳۰۳) مادو د جرمونو د ارتکاب په اثر د افغانستان د پیسو ارزش یا دولتي سندونه ټيټ شي یا دننیو یا د باندنیو بازارونو اعتماد د هغې په اثر متزلزله شي، محکمه کولی شي ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوم کي.

**درې سوه او پنځمه ماده:**

کـه ددې قـانون د (۳۰۲، ۳۰۳) د درج شـوو جرمونـو څخـه د یـوه ارتکـاب دداسي پیسو په باره کښې صورت وموسي چه په دې دوه مـادو کښې نـه دې ذکر شوي، ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نـه وي محکومیږي.

**دري سوه او شپږمه ماده:**

که څوک په ښه نیت جعلي پیسي قبولې کې تر هغې وروسته چه په جعلي توب یې علم حاصل شي په هغې معامله وکې، دجعلي پیسو په دوه چنده جزأ چه پرې معامله شوې محکومیږي.

**درې سوه او اوومه ماده:**

هـر مجـرم چـه د جعلي پیـسو د پـه کـار اچولـو او د تحقیـق دپیـل څخـه ترمخـه دخپل جرم څخه ددولت صلاحیت لرونکو مقامونو تـه خبـر ورکـې، ددې قـانون د (۳۰۳، ۳۰۴، ۳۰۵) مادو ددرج شوو جزأګانو څخه معافیږي.

**دري سوه او اتمه ماده:**

محکمه کولی شي چه مجرم د تحقیق د پیل څخه وروسته د جزأ څخه معـاف کـې. پـه دې شـرط چـه د هغـه اطلاع د دولـت صـلاحیت لرونکـی مراجع پـه دې قادرې کې چه ددې جرم نور ارتکاب کوونکی یا د هغې جرم د مماثل ارتکـاب کوونکی ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسم فصل
## تزویر

**دری سوه او نهمه ماده:**

تزویر عبارت دی د حقیقت څخه خلاف دلیکونو، سندونو، امضاء او مهر جوړولو څخه یا هغی ته دیو ځای کیدو، تبدیلیدو، تقلید یا حذف په وسیله.

**دری سوه اوولسمه ماده:**

۱- که څوک یو راتلونکی شی تزویر یا سره ددې چه د هغی په تزویر علم لری استعمال یا یی افغانستان ته داخل کی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي:

۱- قانون، فرمان یا د جمهوری ریاست امر، د حکومت تصویب ، یا د صدارت فرمان او یا دمحکمی قطعی حکم.

۲- ددولت مهر، د دولت د رئیس مهر یا امضاء.

۲- که څوک یو راتلونکی شی د تزویر په قصد جوړ کی یا سره ددې چه د هغی په تزویر علم لری استعمال یائی افغانستان ته داخل کی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي:

۱- د دولت دیوی اداری یا تصدی مهر، ټاپه یا علامه.

۲- د عمومی خدمتونو دیوه مؤظف مهر، امضاء یا علامه.

۳- د طلا او دسپینو زرو د عیار رسمي مشخصه علامه.

۴- د معاشونو جدول یا د دولت د خزانو څخه صادر شوي سندونه.

۵- دبانک مالي پاڼی چه صادریدل یی په قانونی لحاظ مجاز وی.

۶- بری لیک یا تحصیلی سندونه عام له دی چه کورنی وی یا د باندنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درې سوه او یوولسمه ماده:**
ددې قانون د (۳۱۰) مادې په درج شوو حالونو کښې مجرم چه د جرم د تمامیدو یا د تحقیق د پیل تر مخه د خپل جرم نه د دولت صلاحیت لرونکو مراجعو ته خبر ورکې د جزأ څخه معافیږي.

**درې سوه او دوولسمه ماده:**
محکمه کولی شي ددې قانون د (۳۱۱) مادې درج شوې مجرم د تحقیق د پیل څخه وروسته د جزأ نه معاف کې. په دې شرط چه د هغه اطلاع د دولت صلاحیت لرونکې مقامونه په دې قادر کې چه ددې جرم یائې د مماثل جرم نور ارتکاب کوونکې ونیسي.

**درې سوه او دیارلسمه ماده:**
۱- که د عمومي خدمتونو مؤظف د وظیفې د اجراء کولو په وخت کښې صادر شوې حکمونه، تصویبونه، وثیقې، د سندونو د ثبت کتابونه، دفترونه او نور رسمي سندونه او نوشتې عمداً تزویر کې د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.
۲- که د پورتنې فقرې درج شوې تزویر په عرفي سندونو کښې صورت ونیسي، ارتکاب کوونکې د حالونو سره سم په متوسط یا لنډ حبس محکومیږي.

**درې سوه او څوارلسمه ماده:**
که ددې قانون د (۳۱۳) مادې د جرمونو ارتکاب کوونکې د عمومي خدمتونو مؤظف نه وي، دحالونو سره سم په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه تجاوز ونه کې محکومیږي.*

* ۳۱۴ ماده تعدیل شوې، د دغه قانون د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه او پنځلسمه ماده:**

د عمومي خدمتونو هر مؤظف چه د تزویر په قصد دسندونو متن یا شکل ته دلیکلو په وخت کښې د وظیفې له حیثه تغییر ورکی عام له دی چه دا تغییر د شخص په اقرار کی وی چه سند ورته لیکل کیږي یا تزویر شوی واقعه سره ددې چه د هغې په تزویر علم لری د صحیحي واقعي په شکل یې درج کی، دحالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

**دري سوه او شپاړسمه ماده:**

که څوک ددې قانون د (۳۱۳، ۳۱۴، ۳۱۵) مادو تزویر شوی پاڼې سره دې چه د هغې په تزویر علم لري استعمال کي، د حالونو سره سم په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي. *

**دری سوه او اووه لسمه ماده:**

که څوک د بل چا په لیک کښې د تزویر ارتکاب کوونکی شی یا سره ددې چه په تزویر علم لری تزویر شوی پاڼه استعمال کی، دحالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**دری سوه او اتلسمه ماده:**

که څوک په ناحقه د دولت حقیقي مهر یا د دولت د یوی اداری یا د یوی تصدی مهر لاس ته راوړی او هغه د عمومي یا خصوصی ګټو په ضد استعمال کی، د خساری په جبران علاوه په متوسط حبس محکومیږي.

**دری سوه او نولسمه ماده:**

۱- طبیب، جراح یا قابله چه تزویر شوی تصدیق یا اظهارات سره د دې چه د هغې په تزویر علم لری د حمل، د معلولیت د مرض، عیب یا وفات په مواردو

---

* ۳۱۶ ماده تعدیل شوې، د دغه قانون د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې شخص ته ورکې د حالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدي جزأ چه د (دوولس زرو) افغانیو څخه کمه او د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲– که د پورتنی فقرې درج شوی جرم د څه شي د غوښتنی په اثر د خپل ځان د پاره یا د بل شخص د پاره یا دوعدې یا د بخشش د قبلولو یا اخستلو په بدل کښې ارتکاب شي، ارتکاب کوونکې په متوسط حبس یا نقدی جزأ چه ددوولس زرو افغانیو څخه کمه اود شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.*

**دری سوه او شلمه ماده:**

که څوک پخپله یا د بل شخص په وسیله د معلولیت د اثبات په باره کښې تصدیق د خپل ځان یا د بل شخص د پاره ددې منظور د پاره چه محکمې ته ئې وړاندې کې یا په دې قصد چه خپل ځان یا بل شخص دیوه عمومې خدمت څخه خلاص کې د طبیب یا جراح په نوم تزویر کې، دحالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدي جزأ چه ددوولس زرو افغانیو کمه او د شپیتو زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.

**دری سوه او یو ویشتمه ماده:**

که څوک ددې قانون د (۳۱۹، ۳۲۰) مادو درج شوی تزویر شوی تصدیق سره ددې چه د هغې په تزویر علم لرې استعمال کې، په دې ډول هغه محکمې یا د دولت یوه صلاحیت لرونکې مقام ته وړاندې کې د (۳۱۹، ۳۲۰) مادو په عین تاکل شوی جزأ یا په نقدی جزأ چه د پنځو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.*

---

* ۳۱۹ ماده تعدیل شوې، د دغه قانون د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

* ۳۲۱ ماده تعدیل شوې، د دغه قانون د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دري سوه او دوه ویشتمه ماده:**
ددې فصل د حکمونو په تطبیق کښې د ګوتی نښه د امضاء په څیر اعتبار لری.

## دوولسم فصل

## دپوستی، تلګرافی او مالیاتی مطبوعو شیانو او علامو تقلید

**دري سوه اودرویشتمه ماده:**
راتلونکی اشخاص په لنډ حبس چه دشپږو میاشتو زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه د شپږو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- که څوک طبع شوی شیان یا دپوستی نمونی په هر قسم چه جوړی شوی وی تقلید کی په دی ډول چه پخپل ظاهری شکل کښی د افغاني پست او تلګراف د دوایرو د پستی علامو سره یا دپست او تلګراف د اتحادیي د غړو هېوادونو د ټکټونو د علامو سره مشابه وی او د حقیقي پاڼو په عوض کې په آسانتیا سره قبول کړی شی.
۲- که څوک د پورتنی فقری درج شوی طبع شوی شیان یا نمونی په افغانستان کښې رواج کی یا معامله کی، یائی خرڅی کی یا یی د خرڅ د پاره عرضه کی یا داچه درواجولو، معاملی یا خرڅولو په قصد ئی د ځان سره وساتي.

**دري سوه او څلیر ویشتمه ماده:**
راتلونکی اشخاص په لنډ حبس چه ددری میاشتو څخه کم او د شپږ میاشتو څخه زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او دشپږ زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي:
۱- که څوک داسی مطبوع شیان یا نمونی تقلید کی چه پخپل ظاهری شکل کښی د افغانی مالیاتي دوایرو د مالیاتی ټکټونو د علامو سره یا د افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



سري میاشتي د ټکټونو سره شباهت ولری په دې ډول چه د حقیقي پانو په عوض په آسانتیا قبولی کړی شی.

۲- که څوک د پورتنی فقری درج شوی مطبوع شیان یا نمونی په افغانستان کښې رواج کی یا ئی معامله کی یا یی خرڅ کی یا ئي دخرڅ د پاره عرضه کی یا داچه د رواجولو یا معاملی یا خرڅولو په قصد یي وساتي.

۳- په هغه صورت کې چه ددې فصل ددرج شوو جرمونو دارتکاب څخه گټه حاصله شوي وي، محکمه به د هغی د مثل په ردولو هم حکم کوی.

## دیارلسم فصل
## د مواصلاتو معطلول

**دری سوه او پنځه ویشتمه ماده:**

که څوک عمداً د عمومي ځمکنی، اوبنی او هوائی مواصلاتی وسیلو سلامتی په خطر کښی واچوی یا هغه د کاره واچوی په متوسط حبس محکومیږي.

**دری سوه او شپږ ویشتمه ماده:**

که ددې قانون د (۳۲۵) مادی ددرج شوی فعل د ارتکاب څخه شدید زخمونه پیدا شی د حالونو سره سم په اوږده حبس او که د هغی په اثر شخص یا اشخاص فوت شي، ارتکاب کوونکی دحالونو سره سم په اعدام یا اوږده حبس محکومیږي.

**دری سوه او اووه ویشتمه ماده:**

که څوک د بی احتیاطی په اثر د یوی حادثي سبب شی چه د هغی په اثر شخص یا اشخاص چه په یوي مواصلا تي ځمکنی، اوبنی یا هوائي وسیلي کښي سپاره وي د خطر سره مخامخ کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او د شپږو میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه او اته ویشتمه ماده:**
کـه د دی قـانون د (۳۲۷) مـادی د درج شـوی فعـل د ارتکـاب شخـه شـدیده جسمی صدمه یا مرگ پیدا شی، په متوسط حبس چه د دري کلونو شخه کم نه وی محکومیږی.

**دری سوه اونهه ویشتمه ماده:**
که شوک عمداً په یو قسم د اقسامو شخه د تیلفوني یا تلگرافي مخابرو د قطع کیدو سبب شي، د خساري په جبران علاوه په متوسط حبس چه د دوه کلونو شخه کم نه وي محکومیږي.

**دري سوه او دیرشمه ماده:**
که ددې قانون د (۳۲۹) مادی درج شوی مخابری د اهمال یا بی احتیاطی په اثر پری شي، مرتکب د خساري په جبران علاوه په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم یا نقدي جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه اوددوولس زرو افغانیو شخه زیاته نه وي محکومیږي.

**دري سوه اویو دیرشمه ماده:**
۱- که شوک د تیلفون لین یا نوري مخابراتي وسیلي دقوي په استعمال په خپل تصرف کښي راوړي یا یي تلف کي یایي په بل ډول د استفادی شخه وباسي، که شه هم په مؤقتي توگه وي یا داچه په زور او اکراه د هغی د ترمیم او جوړولو مانع وگرځي په دې ډول چه دا اقدام د مخابري د پري کیدو باعث وگرځي، د خساري په جبران علاوه په اوږده حبس چه دلسو کلونو شخه کم نه وي محکومیږي.
۲- که د پورتنی فقری درج شوي جرمونه د اضطرار په حالت کښې ارتکاب شي، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په اعدام یا دوام لرونکی حبس محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درې سوه او دوه دیرشمه ماده:**
که څوک عمداً د تیلفون مخابراتي وسیلو د بد استعمال په سبب د نورو د اذیت سبب شي، په لنډ حبس چه د درې میاشتو کم نه وی یا په نقدي جزأ چه د درې زرو افغانیو کمه او د دوولس زرو افغانیو زیاته نه وي محکومیږي.

## څوارلسم فصل
## دمحبوسینو فرار او د مجرمینو پټول

**درې سوه او درې دیرشمه ماده:**
۱– که څوک په قانوني توګه نیول شوی وي او فرار وکي په حبس چه ددرې میاشتو کم یا نقدي جزأ چه ددرې زرو افغانیو کمه او د شپږ زره افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲– که په حبس محکوم شخص د محکمې د حکم د تطبیق په منظور ونیول شي او د نیولو وروسته فرار وکي په محکوم بها جزأ علاوه په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وي یا نقدي جزأ چه د څلیر ویشتو زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.
۳– که د شخص فرار ددې مادې په (۱–۲) فقرو په درج شوو حالونو کښې دقوي د استعمال یا د بل جرم په اثر صورت وموميي په متعددو جرمونو محکومیږي مګر داچه په قانون کښې بل ډول حکم شوی وي.

**درې سوه او څلور دیرشمه ماده:**
که څوک د نیول شوي شخص په محافظت، ملګرتیا یا انتقال مکلف وي او د هغه د غفلت په سبب شخص فرار وکی په لاندي توګه مجازات کیږي:
۱– که نیول شوي شخص د جنایت په جزأ محکوم وي په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات یا نقدي جزاء چه ددوولس زرو افغانیو کمه او د څلیرویشتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د پورتنی فقری ددرج شوو حالونو په غیر مؤظف شخص په لنډ حبس چه ددرې میاشتو کم او د شپږو میاشتو زيات نه وي يا نقدي جزاء چه ددرې زرو افغانيو څخه کمه او د شپږ زرو افغانيو څخه تجاوز ونه کی محکوميږي.

**دري سوه او پنځه ديرشمه ماده:**

که څوک د نيول شوی شخص په محافظت، ملګرتيا يا انتقا ل مکلف وی د هغه سره په فراريدو کښې مرسته وکي يا فراريدل ورته آسان کي په لاندي توګه مجازات کيږي:

۱- که نيول شوي شخص د اعدام په جزأ محکوم وي مؤظف شخص د حالونو سره سم په اوږده حبس محکوميږي.

۲- که نيول شوي شخص دحد يا دوام لرونکی حبس په جزأ محکوم شوي وي يا په داسي جرم تورن وي چه جزايي اعدام وي، مؤظف شخص د حالونو سره سم په متوسط حبس محکوميږي.

۳- د پورتنيو فقرو ددرج شوو حالونو په غير مؤظف شخص په لنډ حبس چه ددرې مياشتو څخه کم نه وي محکوميږي.

**دري سوه او شپږ ديرشمه ماده:**

د عمومی خدمتونو هر مؤظف چه د شخص په نيولو مکلف وی د نيولو په لازمی اجراآتو کښې د تورن سره د محاکمی څخه د فراريدلو د مرستي په قصد اهمال وکی ددې قانون د (۳۳۵) مادی ددرج شوو حالونو سره سم مجازات کيږي.

**دري سوه او اووه ديرشمه ماده:**

هر شخص چه پخپله يا د بل شخص په واسطه هغه شخص چه د قانوني نيولو وروسته يي فرار کړي يا په داسي جرم تورن وي چه دنيولو امر يي صادر شوي وي، پټ کي يا د علم سره په يو قسم د اقسامو له محاکمي څخه دشخص په فراريدلو کښې مرسته وکي په لاندي توګه مجازات کيږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱– که شخص چه پټ کړی شوی دی یا د محاکمی څخه د هغه په پټیدو یا فراریدو کښی مرسته شوي په مرګ محکوم وي د حالونو سره سم په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.
۲– که د پورتنی فقري درج شوي شخص د حد یا دوام لرونکی حبس یا اوږده حبس په جزاء محکوم وي یا په داسي جرم تورن وي چه تاکل شوي جزایي اعدام وي د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.
۳– دپورتنیو فقرو ددرج شوو حالونو په غیر په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وي یا نقدي جزاء چه ددوولس زرو افغانیو څخه کمه او د څلیرویشتو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کي محکومیږي.

**دري سوه او اته دیرشمه ماده:**

که د شخص پټول یا په پټولو کښي مرسته یا د محاکمې څخه فرار د میړه، ښځې، اصولو یا فروعو له خوا وي نه مجازات کیږي.

**دري سوه او نهه دیرشمه ماده:**

۱– که څوک د قباحت څخه په استثنی د جرم په واقع کیدو علم حاصل کي او په یو قسم د اقسامو د محاکمې څخه د مجرم په فراریدو کښي مرسته وکي عام له دي چه مرسته یي مجرم ته د پناه ورکولو په شکل یا د جرم د اثبات ددلایلو په پټولو یا د جرم په باره کښي د غلطو معلوماتو ښکاره کول وي سره ددې چه د هغي په عدم صحت علم ولري په لنډ حبس چه ددرې میاشتو کم یا نقدي جزأ چه ددرې زرو افغانیو کمه او ددوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي. په دي شرط چه داجزاء د اصلي جزاء د نیمایي اکثري اندازې څخه تجاوز ونه کي.
۲– دپورتني فقرې درج شوي حکمونه د شخص په میړه، ښځې، اصولو او فروعو نه تطبیقیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځلسم فصل
## د مهر محو کول یا ماتول

**دري سوه او څلويښتمه ماده:**
که محل، پاڼې يا جنسونه د يوې دولتي اداري يا محکمي په امر د ساتني په منظور مهر شوي وي د ساتونکي داهمال په اثر محو يا مات کړی شي په لنډه حبس چه ددرې مياشتو کم اود شپږ مياشتو څخه زيات نه وي يا په نقدي جزأ چه ددرې زرو افغانيو څخه کمه او د شپږ زرو افغانيو څخه تجاوز ونه کي محکوميږي.

**دري سوه او يو څلويښتمه ماده:**
که مهر شوي پاڼې يا جنسونه د يو شخص پورې مربوطې وي چه په جنايت کښې محکوم عليه يا تورن شوي وي ساتونکي چه د هغه داهمال په اثر مهر محو يا مات کړي شوي په لنډه حبس چه ددري مياشتو کم او دنهه مياشتو زيات نه وي يا په نقدي جزأ چه ددري زرو افغانيو څخه کمه او د نهه زرو افغانيو څخه تجاوز ونه کي محکوميږي.

**دري سوه او دوه څلويښتمه ماده:**
۱- که څوک ددې قانون د (۳۴۱) مادی ددرج شوو پاڼو يا جنسونو مهر چه د ساتنی په منظور يی صورت نيولی وی محو يا يی مات کی په لنډه حبس چه د دری مياشتو کم نه وی محکوميږي.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب کوونکی ساتونکی شخص وی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکوميږي.

**درې سوه او دري څلويښتمه ماده:**
۱- که د جنسونو مهر بی له ساتنی په بل منظور صورت نيولی وی د محو کولو يا ماتولو ارتکاب کوونکی يی په لنډه حبس چه ددری مياشتو کم او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږو میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د دری زرو افغانیو څخه کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب کوونکی ساتونکی شخص وی په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم او د نهه میاشتو زیات نه وی محکومیږي.

## شپاړسم فصل
## د بناگانو او عمومی ملکیتونو تلفول

**دری سوه او څلور څلویښتمه ماده:**

که څوک عمداً د عمومی بنأ یا املاکو یا دداسی بنأیا املاکو چه د دولت دگټو، عام المنفعه مؤسسو د گټو دپاره تخصیص شوی وی یو قسمت یا تاریخی آثار تلف کی د خساری په جبران علاوه د حالونو سره سم په متوسط حبس یا نقدی جزأ چه ددوولس زرو افغانیو څخه کمه او د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

**دري سوه او پنځه څلویښتمه ماده:**

که څوک عمداً د سرک، پارک او د عمومي تفریح ځای ونی تلف یا پری کی د خساری په جبران علاوه په حبس چه د دری میاشتو زیات نه وی او نقدی جزأ چه دپنځه زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

## اووه لسم فصل
## دممنوعه شیانو تجارت

**دری سوه او شپږ څلویښتمه ماده:**

که څوک داسی شیان چه افغانستان ته یی واردول منع دی وارد کی یا ذکر شوی شیان دخرڅولو په غرض بار یا انتقا ل کی یا یی د خرڅولو د پاره عرضه کی یا ئي پټ کی یا یی په پټولو شروع وکی، دممنوعه مالونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصادری علاوه په لنډ حبس چه ددری میاشتو کمه نه وی او د مصادره شوی مال معادل په نقدی جزأ محکومیږي په دې شرط چه قانون بل ډول حکم نه وی کړی.*

## اتلسم فصل
## د ادیانو په ضد جرمونه

**دری سوه او اووه څلویښتمه ماده:**

راتلونکی اشخاص په متوسط حبس یا نقدي مجازات چه ددوولس زرو افغانیو کمه او د شپیتو زرو افغانیو څخه زیات نه وي محکومیږي:

۱- که څوک دیوه دین ددینی شعایرو یا مراسمو اداء کول په زور او اکراه اخلال یا معطل کی.

۲- که څوک مجاز معبدونه چه په کښې دیوه دین دینی شعایر اجراء کیږی یا نوری علامی چه د یوه دین دپیروانو په نزد محترمی وی خراب یا تلف کی.

**دري سوه او اته څلویښتمه ماده:**

که څوک د یوه دین په پیرو چه خپل مذهبي شعایر په علني صورت اجراء کوي د قول، فعل، لیک او نورو علنی وسیلو په واسطه تیری وکی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کمه او نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او ددوولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.

---

* ۳۴۶ ماده تعدیل شوې، او د دغه قانون د تعدیلاتو په برخه کې خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نولسم فصل
## د مخدره او نیشه یي موادو استعمال

**دري سوه او نهه څلویښتمه ماده:**

که څوک مخدره یا نیشه یي مواد استعمال کي ددري میاشتو څخه تر شپږو میاشتو پوري حبس یا ددري زرو افغانیو څخه تر شپږ زرو افغانیو پوري په نقدي جزأ یا په دواړو جزأگانو محکومیږي، مگر دا چه په قانون کښې بل ډول حکم شوی وي.

**دري سوه او پنځوسمه ماده:**

که څوک بل شخص په زور او اکراه د مخدره یا نیشه یي موادو په استعمال مجبور کی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کمه یا نقدی جزاء چه ددری زرو افغانیو کمه او ددوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

**دري سوه او یو پنځوسمه ماده:**

که څوک یو محل د مخدره یا نیشه یي موادو د استعمال د پاره تخصیص کی د احوالونو سره سم په متوسط یا لنډ حبس محکومیږي محکمه به په ذکر شوی مجازات علاوه د مخدره موادو پوری د مربوطو ادواتو، آلاتو او اثاثیه په ضبطولو هم حکم کوی.

**دری سوه او دوه پنځوسمه ماده:**

۱– که څوک په عمومی لار، عمومی محل یا د تفریح په عمومی ځای کښی د نیشی په حالت کښې په داسی ډول ولیدل شي، چه عقل یي د لاسه ورکړی وی یا دنورو د اذیت سبب وگرځي، په لنډ حبس چه ددري میاشتو کمه نه وي یا نقدي جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د دوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب کوونکی د محکمی د حکم د صادریدو وروسته د یوه کال په موده کښې دوباره د ذکر شوی جرم ارتکاب کوونکی شی په لنډ حبس چه د شپږ میاشتو کم نه وی یا نقدی جزأ چه د شپږزرو افغانیو کمه او د دوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.
۳- که محکمی ته ثابته شی چه متکرر مجرم د مخدره یا نیشه یي موادو په استعمال عادت لری، کولی شی چه ددې مادې د (۲) فقری ددرج شوی جزأ په عوض تر یوه کال پوری په یوه مربوط روغتون کښی بستری کی.
۴- محکمه کولی شی د څارنوا ل د غوښتنی په اثر او دروغتون د تصدیق په بنا ، د ارتکاب کوونکی په صحت ددې مادې د (۳) فقری ددرج شوی مودی د تیریدو ترمخه هغه خوشی کی.

## شلم فصل
## جواری

**دری سوه او دری پنځوسمه ماده:**
۱- که څوک یو محل ته د جواری د پاره تخصیص ورکی او هغه د خلکو د ننوتلو د پاره تیار کی، همدارنګه که شخص په عمومي محل یا یو محل کښې چه دعامو خلکو په مخ خلاص وي یا په یو محل یا کور کښې چه ددې منظور د پاره تیار شوی وی د جواری په تنظیم بوخت شی یا جزګیری وکی، په لنډ حبس او نقدی جزأ چه د دوولس زرو افغانیو زیاته نه وي یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.
۲- که څوک د پورتنی فقری په ذکر شوو حالونو کښې دجواری په حالت ونیول شی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی او نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د دوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۳- ددې مادې د (۱) او (۲) فقرو په درج شوو جزأګانو علاوه پیسي او د جواری ادوات هم مصادره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یو ویشتم فصل
## د مرستې څخه منع راوړل

**دری سوه او څلور پنځوسمه ماده:**
که څوک داور د واقع کیدو یا د بلی لویی حادثی په وخت کښې د عمومی خدمتونو د مؤظف د تقاضا سره بی د معقول عذر د مرستی کولو څخه ځان وژغوری، په حبس چه د شپږو میاشتو زیات نه وی او نقدی جزأ چه د شپږزرو افغانیو څخه زیات نه وی یا ددې دواړو جزأگانو څخه په یوی محکومیږي.

**دری سوه او پنځه پنځوسمه ماده:**
که څوک د قانون یا موافقی په حکم د یو شخص په ساتنه چه د صغارت یا سپین ږیرتوب یادصحی یا روحي یا عقلي حالت په نسبت ناتوانه وي مکلف وپیژندل شي، بي د معقول عذر څخه د خپلی وجیبی د ادا کولو څخه ځان وژغوری، په لنډ حبس او په نقدي جزأ چه ددوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزأگانو په یوی محکومیږي.

## دوه ویشتم فصل
## دبنوت، دناقص اهلیت دپاملرنی د صغیرانو او ضعیفانو د خطر سره د مخامخ کولو پوری مربوط جرمونه

**دري سوه او شپږ پنځوسمه ماده:**
که څوک نوی زیږیدلی کوچنی د هغه اشخاصو څخه چه ور باندی قانونی سلطه لری، لیری کی یا یی پټ کی یا یی په بل کوچنی بدل کی یا یی په دروغو د مور څخه په غیر بل چاته نسبت ورکی، د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**دري سوه اواووه پنځوسمه ماده:**
۱– که څوک د یوه کوچنی متکفل وی او د بل شخص د غوښتنی وروسته چه د محکمی د قرار یا حکم په اساس د کوچنی حضانت یا ساتنه هغه ته انتقال

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی وی، طفل ورته تسلیم نه کی په لنډ حبس یا نقدي جزأ چه د دری زرو افغانیو کمه اود دولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.
که څه هم متکفل شخص د کوچنی یو دوالدینو یا یو د جدینو څخه وي.
۲- که د والدینو یا د جدینو څخه یو خپل صغیر زوي یا لمسي پخپله یا د بل شخص په وسیله د هغه شخص څخه چه د محکمی په حکم دکوچنی حضانت یاساتنه ورته سپارل شوی، واخلی د پورتنی فقری په درج شوی جزأ محکومیږي. که څه هم بی له حیلی او اکراه څخه وی.

**دري سوه او اته پنځوسمه ماده:**

۱- که څوک پخپله یا د بل شخص په واسطه د یو شخص ژوند چه د پنځلس کلنی عمر یی نه وی پوره کړی، یا د هغه شخص چه دصحی، روحی یا عقلی حالت په سبب د خپل ځان د ساتنی څخه عاجزه وی د خطر سره مخامخ کی، په متوسط حبس چه د دری کلونو څخه زیات نه وی یا په نقدی جزأ چه د شپږ دیرش زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.
۲- که څوک کوچنی یا بی وسی شخص په کنډواله ځای کښی خوشی کی په متوسط حبس محکومیږي. که څه هم ذکر شوی جرم دوالدینو څخه د یوه په وسیله یا د هغه چا په وسیله چه د هغه د ساتنی یا پاملرنی متکفل وی، ارتکاب شوی وی.
۳- که ددې مادې د (دوهمی) فقری ددرج شوی جرم دارتکاب په اثر مجنی علیه معلول یا فوت شی او ارتکاب کوونکی د هغی قصد نه وی لرلی، دوهلو په ټاکل شوی جزأ چه په معلولیت یا مرګ منجر کیږي د حالونو سره سم محکومیږي.
۴- که کوچنی یا بی وسی شخص دداسی تغذیی یا پالنی څخه چه د هغه د حالت مقتضی ده عمداً محروم شی او د هغی په اثر د هغه ژوند دخطر سره مخامخ شي، ارتکاب کوونکی ددې مادې د (۳) فقری په درج شوی جزأ محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درې سوه او نهه پنځوسمه ماده:**

۱- که په يوه شخص د ښځې يا داصولو او فروعو د جملې څخه د يوه يا د بل چا دنفقې د اداکولو په منظور يا دحضانت يا درضاعت يا دسکونت د اجورې د ادا کولو په منظور د محکمې واجب التنفيذ حکم صادر شوی وي، د حکم د ابلاغ څخه تر يوې مياشتې پورې سره ددې چه د اداء کولو قدرت لري د هغې د اداء کولو څخه ځان وژغوري، په لنډ حبس او نقدي جزأ چه د پنځه زرو افغانيو څخه زياته نه وي يا ددې دواړو جزأګانو څخه په يوې محکوميږي.

۲- د پورتنې فقرې ددرج شوي جرم په باره کښې هغه وخت دعوی دائريږی چه د مصلحت خاوند ورڅخه شکايت کړی وي.

۳- دعوی د مصلحت او شکايت د خاوند د انصراف په اثر يا د هغه شی په اداء کولو چه د شکايت د طرف د شخص په ذمه باقي پاتی دی منقضی کيږی، که په دعوي کښې د حکم د صادريدو وروسته اداء يا انصراف صورت ونيسي د جزأ تطبيق متوقف کيږي.

## دروېشتم فصل
## اور او چاودنه

**درې سوه او شپيتمه ماده:**

۱- که څوک عمداً منقول يا غير منقول مال ته که څه هم خپل ملکيت يې وي اور واچوي، که د خلکو ژوند او مال د خطر سره مخامخ کي د حالونو سره سم په اوږده حبس محکوميږي.

۲- که اور اچول په يوه لاندني حالونو کښې صورت ونيسي ارتکاب کوونکي په دوام لرونکی حبس محکوميږي:

۱- په فابريکي ، د عسکرو د ضرورت وړ موادو په ډيپو يا وسلي او د هغې ملحقاتو کښې.

۲- معدن يا د نفتو او غاز په څاه کښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دسوځیدو موادو په ذخیره خانه یا په سوځیدونکو یا په چاودیدونکو موادو کښې.
۴-د برق، اوبو یا ذروي حرارتی استیشنو کښې.
۵- داوسپنی د ګاډی استیشن، د اوسپنی د ګاډی ماشین یا په هغه واګون کښې چه په کښې شخص یا اشخاص وی یا هوایی میدان، یا الوتکه یا بیړۍ یا د هغی بندر کښی.
۶- د اوسیدونکو په بنأ یا د ازدحامه ډک محل کښی.
۷- په هغه بنأ کښې چه یوه دولتی اداره، تصدي یا عمومی مؤسسه په کښی وی.
۳- که ددې مادې د (دوه یمی) فقری درج شوی جرم څخه غرض د جنایت یا جنحی د ارتکاب آسانول یا د هغی د آثارو د منځه وړل وی یا فاعل د اطفاییی آلي او وسیلي د کاره واچوي یا اور د اشخاصو دوام لرونکی معلولیت ته منجر شی یا اور د انفلاق کوونکو او چاودیدونکو موادو په وسیله صورت ومومي یا اور د انسان په مرګ منجر شی ارتکاب کوونکی په اعدام محکومیږي.

**دري سوه او یو شپیتمه ماده:**
۱- که څوک په منقول یا غیر منقول مال کښې د خطا په موجب د اور د پیدا کیدو سبب شي، که د خلکو ژوند او مال د خطر سره مخامخ کی په متوسط حبس یا په نقدي جزأ چه د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.
۲-که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم په اثر عمومی مواصلات معطل شی یا مالونو ته لوی ضرر ورسیږی مرتکب په اوږده حبس چه د اوو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.
۳- که ددې مادې د (۱) فقری د جرم په اثر انسان مړ شی ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه او دوه شپیتمه ماده:**

۱– که څوک د صلاحیت لرونکی مقامونو د اجازی په غیر منفلقه یا منفجره مواد جوړ کی یا یی وارد کی یا یی د ځان سره وساتی، د موادو په مصادری علاوه په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

۲– هغه ماده چه د منفلقه او منفجره موادو په ترکیب کښې په کار اچول کیږي د داخلي د وزیر د قرار سره سم چه په رسمي جریدي کښې خپریږي ټاکل کیږي. همدارنګه سامان، آلي او ادوات چه په جوړولو یا چاودولو کښې استعمالیږي دمنفلقه اومنفجره موادو په حکم کښی پیژندل کیږي.

**دری سوه او دري شپیتمه ماده:**

۱– که څوک عمداً منفلقه او منفجره مواد استعمال کی او د هغی په اثر د خلکو ژوند د خطر سره مخامخ شی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

۲– که د پورتنی فقری د ذکر شوو موادو د استعمال په اثر اشخاصو ته لوی ضرر ورسیږی یا د انسان مرګ ته منجر شی ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکومیږي.

**دری سوه او څلور شپیتمه ماده:**

۱– که څوک عمداً منفلقه یا منفجره مواد استعمال کي او د هغي په اثر د خلکو مال د خطر سره مخامخ شي د حالونو سره سم په اوږده حبس چه داووه کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

۲– که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم په اثر لوی ضرر ورسیږي ارتکاب کوونکی دپورتنی فقری د ټاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

**دري سوه او پنځه شپیتمه ماده:**

که څوک منفلقه او منفجره مواد ددی فصل ددرج شوو حالونو څخه په غیر، په غیر مشروع منظور استعمال کی د حالونو سره سم چه د لسو کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دري سوه او شپږ شپيتمه ماده:**
كه څوک منفلقه يا منفجره مـوادو تـه يا هغـه مـالونو تـه چـه داور د اخستلو قابليت ولري په يوه ځمكنى، او بنى يا هوايي يا په پوستي وسيلو اوپارسلونو كنبې دمربوطو مقرراتو په خلاف انتقال وركي او يا يي په انتقا ل شروع وكي، په متوسط حبس چه ددوه كلونـو څخـه كـم نـه وى او پـه نقـدى جزأ چـه د پنځه ويشتو زرو افغانيو څخه زياته نه وى محكوميږي.

## څلير ويشتم فصل
## د غرقيدو، مرفقونو او عمومي صحت پوري مربوط جرمونه

**دري سوه او اووه شپيتمه ماده:**
۱- كه څوک عمداً سيلاب وجود تـه راوړي يا پـرى شـروع وكـى چـه د هغـى پـه وسيله د خلكو ژوند يا مـال د خطر سره مخـامخ شى، د حـالونو سره سم پـه اوږده حبس محكوميږي.
۲- كه د پورتنى فقرى ددرج شوى جرم د ارتكاب په اثر د انسان مرګ صورت ومومى، ارتكاب كوونكى په دوام لرونكى حبس محكوميږي.
۳- كـه د ذكـر شـوى سـيلاب پـه اثـر مـالونو تـه لـوى ضـرر ورسـيږي ارتكـاب كوونكى په اوږده حبس چه د لسو كلونو څخه كم نه وى محكوميږي.

**دري سوه او اته شپيتمه ماده:**
۱- كه شخص په خطا سيلاب وجود ته راوړى چه د هغى په اثر دخلكو ژوند يا مالونه دخطر سره مخامخ شى، په لنډ حبس او نقدي جزأ چه دپنځه ويشتوزرو افغانيو څخه زياته نه وي يا ددې دواړو جزأګانو څخه په يوي محكوميږي.
۲- كـه د ذكـر شـوى سـيلاب پـه اثـر عمـومي مرفقونـه معطل شي يا د عـامو خلكـو مـالونو تـه زيـات ضـرر ورسـيږي ارتكـاب كـوونكى پـه اوږده حـبس چـه داووه كلونو څخه زيات نه وي محكوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- کـه ددې مـادې د (۱) فقـرې ددرج شـوی جـرم ارتکـاب د انـسان پـه مـرګ منجـر شـی، مرتکـب پـه اوږده حـبس چـه دلـسو کلونـو څخـه زیـات نـه وي محکومیږي.

**دري سوه او نهه شپیتمه ماده:**

۱- که څو ک عمداً د زهرناکو مکروبي یا نـورو مضرو شیانو په اچولو چه د عامو خلکو صحت ته مضر وي په څاه، د اوبو په مخزن، عمومي ذخیره خاني یا نورو شیانو تـه چه دعـامو خلکـو د استعمالولو په منظور تیـار شوي وی د خلکـو ژونـد یامالونـه د خطـر سـره مخـامخ کـي پـه دوام لرونکـی حـبس محکومیږي.

۲- که دپورتنی فقری ددرج شوو جرمونو ارتکاب د انسان مرګ ته منجر شی ارتکاب کوونکی په اعدام محکومیږي.

۳- کـه څـوک پـه خطـا ددې مـادې د (۱) فقـري دیـوه درج شـوی جـرم ارتکـاب کوونکی شی، په متوسط حبس او نقدي جزأ چه د پنځه ویشتو زرو افغـانیو زیاته نه وي یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوي محکومیږي.

۴- کـه ددې مـادی د (۳) فقـری ددرج شـوی جـرم ارتکـاب د انـسان مـرګ تـه منجر شی، ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نـه وی محکومیږي.

**دري سوه او اویایمه ماده:**

که څوک څاه، یا عمومي مخزن یا بل هر شي چه لـه دي نوعي څخه وي فاسد کي په داسي ډول چه د هغي په اثر يي مطلوبه ګټـه کمـه شي، پـه لنډ حبس یا نقدي جزأ چه ددولس زرو افغانیو زیاته نه وي محکومیږي.

**دري سوه اویو اویایمه ماده:**

۱- که څوک آلي، نل یا د اوبو، برق، غـاز دمرفقونـو مخصوصي آلي یا نـور عمومي مرفقونـه عمداً مـات یا تلف کی چه د هغی پـه اثر عمـومی مرفقونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معطل شي، په متوسط حبس او نقدي جزأ چه دپنځه ويشتو زرو افغانيو څخه زياته نه وي يا ددې دواړو جزاګانو څخه په يوې محکوميږي.
۲- که څوک عمداً صحي ثابت يا د انتقال وړ تأسيسات يا په هغې کښې موجود وسايل خراب، تلف يا متضرر کې يا د هغې يو شي د کاره واچوی يايې د استفادې څخه وباسې په متوسط حبس چه د دوه کلونو څخه کم نه وي محکوميږي.
۳- که څوک په خطا سره ددې مادې د (۱) فقرې د يوه درج شوی جرم ارتکاب کوونکی شی په لنډ حبس او نقدی جزأ چه دپنځه زرو افغانيو څخه زياته نه وی محکوميږي.

**دري سوه او دوه اويايمه ماده:**

۱- که څوک د پورتنيو حالونو په غير عمداً دداسی عمل ارتکاب کوونکی وګرځی چه دخطر ناک مرض د خپريدو موجب شی په لنډ حبس چه ددری کلونو څخه زيات نه وی محکوميږی.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی فعل د ارتکاب په اثر انسان فوت يا دايمي معلوليت پيدا شی، مرتکب د حالونو سره سم په دې قانون کې ددايمی معلوليت د جرم په ټاکل شوی جزأ محکوميږي.

**دري سوه او دري اويايمه ماده:**

۱- که څوک په خطا سره د خطرناکه مرض د خپريدو سبب شي په لنډ حبس او نقدي جزأ چه دپنځه زرو افغانيو څخه کمه نه وي محکوميږي.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی فعل دارتکاب په اثر انسان فوت يا دايمی معلوليت پيدا شي، ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم د خطا د قتل په ټاکل شوی جزا يا د بدنی خطا د اذيت په جزأ محکوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځه ویشتم فصل
## دقضاء تضلیل

**دري سوه او څلور اویایمه ماده:**
که څوک د قضاء د تضلیل په قصد اشخاصو، ځایونو یا شیانو حالت ته تغییر ورکی یا د جرم دلیلونه پټ کی، یا د جرم پوری مربوط دروغجن معلومات سره ددې چه د هغی په عدم صحت علم لری ورانډی کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.

**دري سوه او پنځه اویایمه ماده:**
د هغه شخص چه محکمی یا د قضائی ضبط مامورینو د هغه شهرت غوښتی هغه په غلط ښکاره کی په متوسط حبس چه د دری کلونو څخه زیات نه وی او نقدی جزاء چه د پنځلس زرو افغانیو تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

**دري سوه او شپږ اویایمه ماده:**
۱– که څوک د قضاء یا د قضائي ضبط د مامورینو د تضلیل په قصد وثیقه یا جرمی شی چه محکمی یا د قضائي ضبط مامورینو ته وړاندي شوي اختلاس، پټ یا تلف کی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او نقدي جزاء چه دپنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲– که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب کوونکی د عمومی خدمتونو مؤظف وی په دې ترتیب چه ذکر شوی شیان ورته سپارل شوی وی یا د وظیفی دلحاظه ورسره په امانت ایښودل شوی وی په اوږده حبس چه داووه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږ ویشتم فصل
## د دروغو اطلاع د حقیقت داظهار څخه ځان ژغورل

**دري سوه او اووه اویایمه ماده:**
که څوک په دروغو یوی قضائی یا اداری مرجع ته د یو جرم څخه اطلاع ورکی چه د هغی د نه واقع کیدو څخه علم لری یا ذکر شوو مراجعو ته په بدنیت سره ددې چه د خپلي اطلاع په دروغو علم لري د یو شخص د جرم په ارتکاب اطلاع ورکی یا دواقعیت څخه خلاف د شخص د جرم په ارتکاب مادی دلیلونه خلق کی یا د یو شخص په ضد سره ددې چه د هغه په برائت علم لري د قانوني اجراآتو د نیولو سبب شي په لاندي توګه مجازات کیږي:
۱- که ددروغو اطلاع د جنایت په جرم کښې وې ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه له دري کلونو کم او نقدي جزاء چه د پنځلس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.
۲- که ددروغو اطلاع په جنحه یا قباحت کښی وي ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددری کلونو زیات نه وی او نقدی جزاء چه د پنځلس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوی محکومیږي.

**دري سوه او اته اویایمه ماده:**
که څوک سره ددې چه دواقعیت څخه خلاف علم لري یوه قضائي یا اداري مرجع یا د عمومي خدمتونو یو مؤظف ته په یوي وسیلي د یو لوي مصیبت، حادثي یا خطر دواقع کیدو څخه اطلاع ورکي په متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات نه وي او نقدي جزاء چه د پنځلس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

**دري سوه او نهه اویایمه ماده:**
که څوک په رسمي صفت د عمومي خدمتونو د یو مؤظف په اطلاع ور کولو په قانوني توګه مکلف شوي وي او هغه ته دروغجنه اطلاع ورکی او هر بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص چه په رسمي صفت د عمومي خدمتونو یو مؤظف ته په داسی شیانو اطلاع ورکي چه په دروغویي علم ولري او د هغي ځخه مقصد دوجیبو په خلاف د وظیفي په اجراء کولو مجبورول یا ورڅخه منع کول وي، په دي ډول چه که د عمومي خدمتونو مؤظف ته دواقعي حقیقت معلوم وای هغه یې په ښه توګه تر سره کولو، په لنډ حبس چه ددوه کلونو کمه نه وي او نقدي جزأ چه د شل زرو افغانیو ځخه زیاته نه وي یا ددې دواړو جزأ ګانو ځخه په یوي محکومیږي.

**دري سوه او اتیایمه ماده:**

که څوک قضائي یا اداري مراجعو ته په صدق او بي د بدنیتي ځخه د داسی عمل په ارتکاب اطلاع ورکی چه فاعل یی دجزأ مستوجب ګرځی نه مجازات کیږي.

**دري سوه او یو اتیایمه ماده:**

۱– که څوک قانوناً د عمومي خدمتونو یوه مؤظف ته د یوه کار یا د معلومو اموراتو په اطلاع ورکولو مکلف وي او د هغی د اطلاع ځخه په مطلوب کیفیت او په قانون ټاکلي وخت کښې عمداً ځان وژغوري. د حالونو سره سم په متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات نه وي یا نقدي جزأ چه د څلیر ویشتو زرو افغانیو ځخه تجاوز ونه کي محکومیږي.

۲–د عمومي خدمتونو هر مؤظف چه د جرمونو په کشف او د مجرم په نیولو مکلف شوی وی او د علم راوړلو ځخه وروسته د ذکر شوو جرمونو په اطلاع کښې اهمال وکی، د پورتنی فقری په درج شوی جزأ محکومیږی. په دې شرط چه په ذکر شوی جرم کې ددعوی وړاندی کول د شرط پوری معلق نه وی یا مجرم د عمومی خدمتونو د مؤظف میړه، ښځه یا یو د اصولو یا فروعو ځخه یا ورور یا خور یا د مصاهرت د محارمو ځخه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه ویشتم فصل
## د دروغو شهادت

**دري سوه او دوه اتیایمه ماده:**
که شاهد د محکمي په وړاندی یا د قضائي ضبط د مامورینو په نزد د قانوني قسم د اداء کولو څخه وروسته عمداً په باطلو اظهاراتو، د حق په انکار، د ټولو یا ځینو هغه واقعو په پټولو چه د هغی په باره کښې شهادت اداء کوي بوخت شي د هغه شهادت دروغ شمارل کیږي.

**دري سوه او دري اتیایمه ماده:**
۱- که څوک په یو جرم کښې د تورن په ګټه یا ضرر په دروغو شهادت اداء کي، په متوسط حبس چه ددوه کلونو کم او نقدي جزأ چه د څلیر ویشتو زرو افغانیو زیاته نه وي محکومیږي.
۲- که تورن ددروغو د شهادت په اثر محکوم علیه شوي وي شاهد د هغه جرم په ټاکلي جزأ محکومیږي چه په محکوم علیه صادره شوي.
۳- که څوک په غیر جزائي دعوي کښې د محکمې یا دقضایي ضبط د مامورینو په نزد ددروغو شهادت اداء کې په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او نقدي جزأ چه د لس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

**دري سوه او څلور اتیایمه ماده:**
که څوک ددروغو شهادت په منظور څه شی وغواړی یا د هغی بخشش یا وعده واخلی اویایی قبوله کی، هغه او هغه شخص چه بخشش یا وعده یی ورکړی یایی په هغی کښی وساطت کړی د رشوت یا ددروغو شهادت په ټاکلي جزأ چه هره یوه ډیره شدیده وي محکومیږي.

**دري سوه او پنځه اتیایمه ماده:**
راتلونکی اشخاص عیناً ددروغو د شهادت په ټاکلی جزأ محکومیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- که څوک په اکراه، اغرأ یا په بله وسیله شاهد د شهادت په نه اداء کولو یا د دروغو په شهادت مجبور کی که څه هم خپل مقصد ته ونه رسیږي.
۲- که څوک د بخشش، وعدی یا فریب په اثر د شهادت د اداَ کولو څخه ځان وژغوری.

**دري سوه او شپږ اتیایمه ماده:**

راتلونکی اشخاص عیناً د دروغو د شهادت په ټاکلی جزأ محکومیږي:
۱- که څوک د یوی محکمی یا د قضائي ضبط دیوه مامور لـه خوا دیوه ترجمان په صفت مکلف شي او حقیقت په هره توګه چه وي عمداً یي تغییر کي.
۲- که څوک د یوه سند په ترجمه کې چه د محکمي په نزد دحق د اثبات په باره کښې د هغی د استعمال امکان موجودوي تزویر وارد کی.
۳- که څوک تزویر شوی تصدیق سره ددې چه د هغی په تزویر علم لری په یوی قضائي دعوی کښې د استفادی په منظور صادر یا امضاء کی په دې شرط چه ددې قسم تصدیق ورکول او امضاء قانوناً مطلوبه وی.
۴- که څوک سره ددې چه په تزویر علم لری په قضائي دعوی یا تحقیق کښی تصدیق، اظهار، ترجمه، سند، وثیقه یا نور تزویر شوی شیان استعمال کی.
۵- که څوک د تحقیق ددعوي د جریان په وخت کښې په دفتر یا دوسیه یا نورو پاڼو کښې چه د اثبات د پاره د هغی استعمال ممکن وی یو غیر صحیح شی درج کی، په دې توګه چه د هغی په اثر د محکمی سره خطا راي پیداشی او په حکم کی تاثیر وارد کی.

**دري سوه او اووه اتیایمه ماده:**

راتلونکی حالونه مخففه عذرونه شمارل کیږي:
۱- ددعوی په موضوع کښې د حکم د صادریدو تر مخه یا په تحقیق کښې د تحقیق د هیئت د قرار د صادریدو ترمخه د دروغجنو اظهاراتو څخه دشاهد رجوع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په هغه حالت کښې چه د حقیقت اظهار شاهد دلوی خطر سره مخامخ کی په داسې ډول چه د هغه په آزادي یا شرف صدمه وارده کی یا د هغی په اثر ښځه یی یا یي د اصولو یا د فروعو څخه یو یایي خور یائي ورور دخطر سره مخامخ شي.

**دري سوه او اته اتیایمه ماده:**
ددروغو د شهادت حکمونه په هغه شخص چه شهادت یي د شاهد په حیث لاژم نه وی یا په هغه شخص چه قانوناً پري شهادت لاژم دی د شهادت داداء کولو څخه ځان وژغوری نه تطبیقیږي.

## اته ویشتم فصل
## ناحقه قسم

**دري سوه او نهه اتیایمه ماده:**
۱- که په قضائي دعوي کښې ددعوي د خواو څخه یوه ته سوګند متوجه شي او په ناحقه قسم وکي په متوسط حبس چه ددوه کلو نو څخه کم نه وي محکومیږي.
۲- که څوک ددروغو د قسم وروسته او د حکم د صادریدو څخه تر مخه ددعوي په موضوع کښی حقیقت ته رجوع وکي په جزاً نه محکومیږي.

**دري سوه او نوي یمه ماده:**
که څوک د حقیقت د اظهار د پاره د قاضي یا د قضائي ضبط د مامورینو له خوا وغوښتل شی او بی د شرعی او قانونی عذر څخه د قانونی قسم څخه ځان وژغوری په لنډ حبس چه د شپږ میاشتو زیات او نقدي جزاء چه ددری زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهه ویشتم فصل
## دمړو او قبرونو بی حرمتی

**دری سوه او یو نوی یمه ماده:**

راتلونکی اشخاص په لنډ حبس او نقدي جزاء چه د پنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي او یا ددي دواړو جزاګانو څخه په یوي محکومیږي:

۱– څوک چه بی د شرعی جواز څخه قبر یا مقبره خرابه یا تلف کی.

۲– که څوک عمداً د مړی د ټول جسد یا جزء سره یي بی حرمتی وکی یا د مړی کفن وباسي، که ذکر شوی فعل دمړی څخه دانتقام یا د هغه د تشهیرولو په منظور ارتکاب شوی وی په دي صورت کښي مرتکب په متوسط حبس چه ددري کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

**دري سوه او دوه نوی یمه ماده:**

که څوک په علمی یا تعلیمي غرض دوارث د اجازی په غیر د مړی ټول جسد اخستلو ته یا یي جزء ته اقدام وکي په لنډ حبس چه د شپږ میاشتو زیات نه وي یا په نقدي جزاً چه د شپږ زره افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي.

**دري سوه او دري نوي یمه ماده:**

۱– که څوک عمداً په جنازه کي جار اوجنجال وکی یا یي ښخول په شدت او تهدید معطل کی په لنډ حبس یا نقدي جزا چه د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲– که څوک د حقیقت په خلاف یو محل دمقبرې یا مزار په حیث جوړ کی په لنډ حبس محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم باب
## د افرادو په ضد جنایتونه او جنحې

### لومړی فصل
### عمدي قتل

**دري سوه او څلور نوي یمه ماده:**
که په عمدي قتل کښې قصاص په یوه ساقطوونکی سبب یا د شرطونو دنه یوځای کېدو له امله ساقط شی ددې فصل د حکمونو سره سم په تعزیري توګه مجازات کیږي.

**دري سوه او پنځه نوي یمه ماده:**
د عمدی قتل ارتکاب کوونکی په یوه راتلونکی حالت کښې په اعدام محکومیږي:
۱- په هغه حالت کښې چه قتل د پخواني اصرار او ترصد سره یوه ځای وي.
۲- که قتل د زهر ناکو بي هوشه کوونکو یا چاودیدونکو موادو د استعمال په وسیله صورت موندلي وي.
۳- که قتل په ټیټه انګیزه یا د اجوری په مقابل کښې یا په وحشي توګه صورت موندلي وي.
۴- که مقتول د قاتل د اصولو څخه وي.
۵- که د قتل عمل د عمومي خدمتونو په مؤظف د وظیفي د اجراء کولو په وخت کښې یا د هغي په سبب صورت موندلي وي.
۶- که قاتل دیوه نفر څخه د زیاتو د قتل قصد لرلي وي او د یوه فعل په اثر د ټولو قتل صورت موندلی وی.
۷- که قتل د بل جنایت یا جنحي سره یو ځاي صورت موندلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- که قتل د بل جنایت یا جنحی د تمهید ، اسانتیا ، تنفیذ ، قادرید لو د ارتکاب په منظور چه جزأ یي دیوه کال څخه کمه نه وي تاکل شوي یادجزأ څخه دفراریا خلاصون په منظور صورت موندلي وي.
۹- که دعمدی قتل ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوم وی او د حکم د تنفیذ دمودی په اوږدوکې دبل عمدی قتل ارتکاب کوونکی یا په هغی کښی شروع کوونکي شي.

**دري سوه او شپږ نوي یمه ماده:**

دعمدي قتل ارتکاب کوونکي په یوه راتلونکي حالت کښې دحالونو سره سم په دوام لرونکی حبس یا اعدام محکومیږي:
۱- په هغه حالت کښې چه قاتل دیوه شخص دقتل قصد ولري او فعل یي دیوه نفر څخه د زیاتو قتل ته منجر شي.
۲- په هغه حالت کې چه قاتل د مقتول جسد مثله کي.
۳- په هغه حالت کښې چه مجرم ددې قانون د (۳۹۵) مادی د (۱، ۲) جزونو دمندرجو حالونه په غیر د قتل ارتکاب کوونکی وګرځي.

**دري سوه او اووه نوي یمه ماده:**

۱- که شخص بل څوک انتحار ته تحریک کی یا په یو قسم داقسامو د هغه په انتحار کښې کمک وکي د حبس په جزأ چه داووه کلونو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲- که د تحریک په اثر په انتحار کښې شروع شوي وي تحریک کوونکی په لنډ حبس محکومیږي.
۳- په انتحار شروع کوونکی نه مجازات کیږي.

**دري سوه او اته نوي یمه ماده:**

که شخص د خپلي ښځي یا دیوي خپلي محرمي دناموس څخه ددفاع په اثر دزنا کولو په حالت کښې یایي وجود د بل چا سره په یوي بستره کښې مشاهده کي او في الحا ل دواړه یا یو د هغوی په قتل ورسوي یایي زخمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د قتل او زخم دجزأ څخه معاف مګر په تعزيري توګه دحالونو سره سم په حبس چه ددوه کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي.

## دوه يم فصل
## وهل چه په مرګ منجر کيږي او د خطا قتل

**دري سوه او نهه نوي يمه ماده:**

۱- که څوک بی له دی چه دقتل قصد ولری په بل چا پـه وهلو، زخمی کولـو، مضره موادو په ورکولو يا دهر نوع فعل په ارتکاب چه د قانون نه مخالف وي تيری وکي په داسې توګه چه فعل يي دمجني عليه په مرګ منجر شي د حالونو سره سم په اوږده حبس محکوميږي.

۲- که د پورتني فقری ددرج شوو جرمونو ارتکاب د پخواني اصرار سره يا د عمومی خدمتونو په مؤظف د وظيفی په اجراء کولو په وخت کې يا يي د هغی په سبب صورت موندلی وی يا مجنی عليه د هغه داصولو څخه وی ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوميږي.

**څلور سوومه ماده:**

۱- که څوک د خطا په اثر چه د اهمال، غفلت، بي احتياطي، د بی مهارتی، د قانون، مقرراتو، لايحو او امرونو دنه مراعات کولو څخه يي نشأت کړی وی د بل شخص د قتل ارتکاب کوونکی وګرځی يا بی له عمده د قتل سبب شی په حبس تر دری کلونو او نقدی جزأ چه د شپږ ديرش زرو افغانيو څخه زياته نه وی يا ددی دواړو جزاګانو څخه په يوی محکوميږي.

۲- که خطا دداسی اصولو د جسيم تخلف په نتيجه کښې صورت وموميي چه وظيفی، کسب يا کار پری لازم کړی وی يا خطا د ارتکاب په وخت کښی د مخدره او نيشه يي موادو د استعمال څخه پيدا شوی وی يا د حادثی دواقع کيدو په وخت کښی د مجنی عليه د مرستی څخه سره ددې چه پری قدرت لری ځان وژغوری ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو کم نه وی او په نقدی جزأ چه د پنځوس زرو افغانيو زياته نه وی محکوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- که د پورتنیو فقرو ددرج شوی فعل د ارتکاب په اثر د یو نفر څخه زیات مړه شي مرتکب په متوسط حبس چه ددری کلونو کم نه وی او په هغه صورت کښی چه د (۲) فقری د حالاتو څخه ورسره یویو ځای شی ارتکاب کوونکی په حبس چه داووه کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

## دریيم فصل
## دمقتول د جسد پټول

**څلور سوه او یوومه ماده:**
که څوک سره ددې چه په قتل علم لری د مقتول جسد بی له دې چه صلاحیت لرونکی مقامونوته اطلاع ورکی او د قتل د کشف د حالت او د سببونو ترمخه هغه پټ یا ښخ کی، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږي.

## څلورم فصل
## د جنین سقطیدل

**څلور سوه او دوه یمه ماده:**
که څوک عمداً د حاملي ښځي جنین دوهلو یا د هر نوع بل اذیت دلاري اسقاط کی په اوږده حبس چه د اووه کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

**څلور سوه او دریيمه ماده:**
۱- که څوک ددوا په ورکولو یا د نورو وسیلو په استعمال د حاملی ښځی دجنین د سقط موجب وګرځی که څه هم د جنین اسقاط د حاملی ښځی په رضا صورت موندلی وی په متوسط حبس یا نقدی جزأ چه د دولس زرو افغانیو کمه او شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
۲- که دوا په سهوه ورکول شوی وی ارتکاب کوونکی په لنډ حبس یا نقدی جزأ چه د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او څلورمه ماده:**

۱- که اسقاط کوونکی طبیب، جراح، دوا جوړوونکی یا قابله وی د ټاکل شوی جزأ په اکثری اندازی محکومیږي.

۲- که دپورتنیو اشخاصو اقدام د تداوی د لاری دمورد ژوند د خلاصون په منظور صورت موندلی وی ارتکاب کوونکی نه مجازات کیږي.

**څلور سوه او پنځمه ماده:**

که ښځه سره ددې چه د عمل په عواقبو علم لری ددوا یا نورو وسیلو په استعمال راضی شی یا بل شخص ته د ذکر شوو وسیلو د استعمال اجازه ورکی او د هغی په اثر د جنین اسقاط محقق شی په لنډ حبس یا نقدی جزأ چه ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او شپږمه ماده:**

د جنین د اسقاط په جرم شروع د مجازات وړ نه ده.

## پنځم فصل
## وهل اوزخم

**څلور سوه او اوومه ماده:**

۱- که یو شخص عمداً بل شخص په داسي ډول زخمي یا ووهی چه د پری کیدو یا نقصان یا ماتیدو یا د بدن د اعضاوو څخه د یوی عضوی د کاره ولیدو یا په دوام لرونکی معلولیت منجر یا د هغه د یوی حواس د فقدان موجب وګرځی د خساری په جبران علاوه په متوسط حبس چه ددری کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

۲- که دا عملونه د مجنی علیه د عقل په زوا ل منجر شی یا د پخوانی اصرار او ترصد سره یو ځای وی ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او اتمه ماده:**

۱- که زخم یا وهل د عضو د عطالت یا د کار څخه د شلو ورځو څخه زیات د بي وسي موجب وگرځی ارتکاب کوونکی د خساری په جبران علاوه په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

۲- که ذکر شوی عمل د پخوانی اصرار او ترصد سره یو ځای وی ارتکاب کوونکی د تاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

**څلور سوه او نهمه ماده:**

۱- که وهل یا زخم د عضوی د معلولیت او عطالت موجب نه شی یا د کاره څخه د شلو ورځو څخه کم د بی وسی موجب وگرځی ارتکاب کوونکی په لنډ حبس چی د شپږ میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چی د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز و نه کی محکومیږی .

۲- که ذکر شوی عمل د پخوا نی اصرار او ترصد سره یو ځای وی ارتکاب کوونکی د تاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږی.

**څلور سوه اولسمه ماده:**

که د پورتنیو موادو درج شوی وهل یا زخم د یو نفر څخه د زیاتو له خوا یا دوسلي په استعمال یا دوهلو او زخمی کولو په نورو آلو صورت ومومی ارتکاب کوونکی د تاکل شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

**څلور سوه او یوولسمه ماده:**

که یو شخص بل چاته ضررناکه مواد چه وژونکی نه وی ورکی چه د هغه ددوام لرونکی معلولیت، دعضوي د عطالت، یا د کاره څخه د هغی د ولیدلو یا د هغه د یوي حاسي د فقدان موجب وگرځی دخساری په جبران علاوه په متوسط حبس چه ددری کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او دوولسمه ماده:**
که یو شخص د یوی خطا په اثر چه د اهما ل، بی احتیاطی او بی مهارتی څخه نشأت کړی وی بل شخص زخمی یا ووهی د خساری د جبران څخه علاوه په حبس چه ددری میاشتو کم او ددوه کلونو څخه زیات یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د څلیر ویشتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او دیارلسمه ماده:**
۱- که د مغلوبه جنګ په اثر قتل یا شدید زخم واقع شی هر یو شخص ته چه په جنګ کښی یی ګډون کړی وي په دې سبب چه په جنګ کښی یی ګډون کړی په متوسط حبس یا نقدی جزأ چه د شپیتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږی مګر دا چه د هغه عدم مسئولیت ثابت شی.
۲- که د پورتنی فقری په درج شوی حالت کښی د جنګ د تحریک کوونکی د قتل یا زخم فاعل تشخیص کړای شی ارتکاب کوونکی د خساری په جبران علاوه د جرم په ټاکلی جزأ محکومیږي.

## شپږم فصل
## غیر قانوني نیول او توقیف کول

**څلور سوه او څوارلسمه ماده:**
که شخص په غیر قانوني تصریح شوو حالونو یا د صلاحیت لرونکو مقامونو دامر څخه غیر بل شخص ونیسي، توقیف یی کی یا یی د کار څخه منع کی، دحالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**څلور سوه او پنځلسمه ماده:**
که نیول، توقیف او منع کول دداسی شخص په وسیله تر سره شی چه رسمی لباس بی له دې چه حق یی ولری استعمال کی یا خپل ځان په دروغجن صفت متصف یا یو جعلی امر ددولتی مقامونو دامر په عنوان خلکو ته ښکاره کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



داحـوالونو سـره سـم پـه اوږده حـبس چـه د لـس کلونـو څخـه زیـات نـه وی محکومیږي.

**څلور سوه او شپاړسمه ماده:**

که نیول، توقیف او منع کول په زور او اکراه یا د قتل په تهدید یا د بدنی اذیت د تهدید سره یو ځای وی یا دا چه ارتکاب کوونکی د دولتی مؤظفینو د جملی څخه وی ددې قانون د (۴۱۵) مادی د تاکل شوی جزأ په اکثری اندازی محکومیږي.

**څلور سوه او اووه لسمه ماده:**

که شخص سره د علمه یو محل دیو انسان د غیر قانوني توقیف د پاره په عاریت ورکی په متوسط حبس چه ددری کلونو څه زیات نه وی محکومیږي.

## اووم فصل
## اختطاف

**څلور سوه او اتلسمه ماده:**

که یو شخص یو طفل چه داووه کلنی عمر یی نه وی پوره کړی یا نور اشخاص چه د خپل ځان په ساتنه قادر نه وی پخپله یا د بل شخص په وسیله اختطاف او یایی په کندواله کښی خوشی کی په متوسط حبس چه ددری کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او نولسمه ماده:**

ددې قانون د (۴۱۸) مادی ددرج شوی جرم په اثر د طفل یا شخص داعضاوو څخه یوه عضوه تلف یا معیوبه شی ارتکاب کوونکی د عمدی زخم په جزأ او که په مرګ منجر شی دعمدی قتل په تاکل شوی جزأ محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او شلمه ماده:**

۱- که یو شخص یو طفل چه اتلس کلنی عمر یی نه وی پوره کړی پخپله یا د بل شخص په واسطه بی له حیلی او اکراه څخه اختطاف کی په اوږده حبس چه داووه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

۲- که اختطاف شوی طفل جلۍ وی ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او یوویشتمه ماده:**

۱- که شخص طفل چه داتلس کلنی عمریی نه وی پوره کړی پخپله یا د اکراه سره پخپله یا د بل شخص په واسطه اختطاف کی په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که طفل جلۍ وی اختطاف کوونکی دپورتنی فقری ددرج شوی جزأ په اکثره اندازه محکومیږي.

**څلور سوه او دوه ویشتمه ماده:**

که یو شخص یو سړی چه داتلس کلنی عمر یی پوره کړی وی پخپله یا د بل شخص په وسیله اختطاف کی په متوسط حبس ددری تر پنځو کلونو پوری محکومیږي.

**څلور سوه او درویشتمه ماده:**

که ددې قانون د (۴۲۰ - ۴۲۱) مادو درج شوی عملونه دداسی شخص په وسیله ارتکاب شی چه مجنی علیه د هغه د نفوذ او اختیار یایي د تربیي او ساتنی لاندی واقع وی یا ذکر شوی جرم د مجنی علیه د مستخدم له خوا یا د څو نفرو په مرسته صورت ومومی ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او څلیر ویشتمه ماده:**

که شخص یوه ښځه چه د اتلس کلنی عمر یی پوره کړی وی پخپل یا د بل شخص په وسیله اختطاف کی په اوږده حبس محکومیږي که اختطاف شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړوخه ښځه وي یا د اختطاف شوی ښځې سره نا مشروع فعل تر سره شي ارتکاب کوونکی د تاکل شوی جزأ په اکثری اندازی محکومیږي.

**څلور سوه او پنځه ویشتمه ماده:**
که شخص یوه ښځه چه د شپاړس کلنی عمریی تکمیل کړی وی دواده په منظور د هغی د اولیا وو د اوسیدلو د ځای څخه د ځان سره ویسي په هغه صورت کښې چه په رضا او رغبت د قانون سره سم د هغی سره واده وکی داعمل اختطاف نه شمارل کیږي.

## اتم فصل
## زنا، لواطت او دناموس هتک

**څلور سوه او شپږ ویشتمه ماده:**
که په جرم کښی د حد د تطبیق شرطونه موجود نه شی یا د شبهی یا د بل علت په وسیله حد ساقط شی ارتکاب کوونکی ددې فصل ددرج شووحکمونو سره سم مجازات کیږي.

**څلور سوه او اووه ویشتمه ماده:**
۱- که شخص دمؤنث سره زنا یا لواطت یا دنر سره لواطت وکی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.
۲- دپورتنی فقری فعل په یوه راتلونکی حالت کښې د مشدده حالونو څخه شمارل کیږي:
۱- په هغه حالت کښې چه مجنی علیه اتلس کلنی عمر نه وی پوره کړی.
۲- په هغه حالت کښې چه ارتکاب کوونکی ددرییمی درجی پوری د مجنی علیه دخپلوانو څخه وی.
۳- په هغه حالت کښې چه ارتکاب کوونکی د مجنی علیه تربیه کوونکی، ښوونکی، مستخدم یا په یو قسم د اقسامو په هغه نفوذ او اختیار ولری.
۴- په هغه حالت کښی چه مجنی علیه مړوخه ښځه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵-** په هغه حالت کښې چه د مجنی علیها بکارت د فعل دارتکاب په سبب زایل شوی وی.
**۶-** په هغه حالت کښې چه دوه نفر یا دهغی څخه زیاتو په مجنی علیه د غلبې پیدا کولو د پاره یو تر بله سره مرسته کړی وی یا فعل یو د بل پسې مرتکب شوی وی.
**۷-** په هغه صورت کې چه مجنی علیه د فعل د ارتکاب په سبب په تناسلی مرض اخته شوی وی.
**۸-** په هغه حالت کښې چه مجنی علیها حامله شوی وی. *

**څلور سوه او اته ویشتمه ماده:**

که ددې قانون د (**۴۲۷**) مادې د (۱) فقرې درج شوی فعل دمجنی علیه مرګ ته منجر شی ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په اوږده حبس یا اعدام محکومیږي.

**څلور سوه او نهه ویشتمه ماده:**

۱- که شخص په عنف یا تهدید یا حیلې د چا په ناموس عام له دی چه مذکر وی یا مونث تیری وکی او یا پری شروع وکی په اوږده حبس چه د اووه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

۲- که مجنی علیه د اتلس کلنی عمر ته نه وی رسیدلی یا د جرم ارتکاب کوونکی ددې قانون د (**۴۲۷**) مادی د (۲) فقرې ددرج شوو اشخاصو د جملې څخه وی په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

---

* ۴۲۷ ماده تعدیل شوې، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم فصل
## فسق او فجور ته تحریکول

**څلور سوه او دیرشمه ماده:**

۱- که شخص مذکر یا مؤنث چه د اتلس کلنی عمر یی نه وی پوره کړی فجور یا دفسق اتخاذ ته د کسب په حیث تحریک کی یا په دی باره کښنی هغوی ته آسانتیاوی برابری کی په متوسط حبس چه ددری کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

۲- که ارتکاب کوونکی ددې قانون د (۴۲۷) مادی د (۲) فقری ددرج شوو اشخاصو د جملی څخه وی یا د خپل عمل د اجراء کولو څخه لاس ته د گټی راوړلو قصد ولری په اوږده حبس چه دلسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

## لسم فصل
## د اوسیدلو ځای او د نورو مسلک د حرمت هتک

**څلور سوه او یو دیرشمه ماده:**

۱- راتلونکی اشخاص په لنډ حبس او نقدی جزأ چه دپنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزأگانو څخه په یوی محکومیږي:

۱- که شخص د اوسیدلو یا د اوسیدو د پاره تیار محل ته یا د هغی یوی الحاقیی ته د هغی د خاوند د رضا څخه په غیر یا بی د قانونی جواز څخه داخل شی.

۲- که شخص د پورتنی جزء په درج شوو محلونو کښنې په پټ شوی حالت پیدا شی.

۳- که شخص ددې فقری د(۱) جزء درج شوو محلونو ته په مشروع ډول داخل شی د حق د خاوند د ارادی په خلاف هلته پاتی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که د پټیدو د ځای د داخلیدو یا په هغې کښې د پاتې کیدو څخه قصد د محل د خاوند دقوی په زور د حیازت منع کیدل یا هغې کښې د جرم ارتکاب وی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه د دوه کلونو څخه زیات نه وی او نقدی جزأ چه د لس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

۳- که د پورتنی فقری درج شوی جرم د لمر لویدو او لمر ختو ترمنځ یا د ماتیدو یا د پورته کیدو په وسیله یا دیو شخص څخه چه ظاهری یا پټه وسله یی حمل کړی وي یا ددوه نفرو یا د هغی څخه د زیاتو له خوا یا د هغه شخص له خوا چه د عمومی خدمتونو د مؤظف صفت یي ځان ته نیولی وی یا د عمومی خدمتونو د مؤظف ادعا وکی یا خپل ځان په دروغجن صفت متصف کی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او دوه دیرشمه ماده:**

۱-که ددې قانون (۴۳۱) مادې ددرج شوی جرم د مال د ساتلو په مختض ځای کښی او په عقار کښی غیر له هغی څخه چه په دې فصل کښې ذکر شوی ارتکاب شي، ارتکاب کوونکی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی یا نقدی جزأ چه ددري زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری جرم کم تر کمه دوه نفره چه د هغوی څخه یوه ظاهری یا پټه وسله حمل کړی وي یا ددوه نفرو څخه زیات ارتکاب کوونکی شی، په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه دلس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی یا د دې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسم فصل
## تهدید

**څلور سوه او دري دیرشمه ماده:**

۱– که شخص بل څوک د جنایت په ارتکاب پخپله د هغه د نفس یا مال په ضد یا د بل د نفس یا مال په ضد په لیکلي توګه تهدید کی یا تهدید د شرف د مخلو امورو یا د هغی دافشا کولو په استناد وی، په اوږده حبس چه د اووه کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي. په دې شرط چه تهدید د یوشي د غوښتنی یا د یو فعل په مکلف کولو یا د هغی څخه د ځان ژغورلو سره یو ځای نه وی.

۲– که تهدید د مرسل د نوم څخه د خالی لیک په وسیله وي یا د هغی صادریدل یو پټ موجود یا موهوم جمعیت ته منسوب وي د پورتنی فقری په عین درج شوی جزأ محکومیږي.

**څلور سوه او څلور دیرشمه ماده:**

که شخص بل څوک د جنایت په ارتکاب پخپله د هغه د نفس یا مال په ضد یا د بل د نفس یا مال په ضد یا د شرف د مخلو امورو یا حیثیت یا د هغی د افشاء کولو په استناد په غیر ددې قانون د (۴۳۳) مادی د حالونو څخه تهدید کی په متوسط حبس محکومیږي.

**څلور سوه او پنځه دیرشمه ماده:**

که شخص بل چاته پخپل قول یا فعل یا دبل شخص په وسیله په غیر ددې قانون د (۴۳۳ او ۴۳۴) مادو د مندرجو حالونو څخه تهدید کی، په لنډ حبس یا نقدي جزاء چه د دولس زرو افغانیو زیاته نه وي محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوولسم فصل

## قذف

**څلور سوه او شپږ دیرشمه ماده:**

۱- قذف دیوي معیني واقعي په علني وسیله غیر ته د نسبت ورکولو څخه عبارت دی په داسي ډول که یي حقیقت لرل نو هغه څوک چه ورته د تور نسبت شوي یا به په جزأ محکوم شوی وای یا به دخلکو په منځ کښی سپک وای.

۲- که د قذف په جرم کښې دحد داقامه کولو شرطونه موجود نه شي یا د شبهي په علت یا په یو قسم د اقسامو د قذف محکوم بها حد ساقط شي ارتکاب کوونکي، په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وي او نقدي جزأ چه د لس زره افغانیو کمه او دشل زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا ددې دواړو جزاءګانو څخه په یوي محکومیږي.

**څلور سوه او اووه دیرشمه ماده:**

که قذف د زنا یا د نسب د نفي کولو څخه غیر په بل تور وي په داسي توګه چه قذف کوونکی مقذوف ته دداسي شیانو نسبت وکي چه که یي حقیقت لرلي یا به په قانوني حکم د جزاء مستوجب کیده او یا به د خلکو منځ کښی سپک شي، ارتکاب کوونکی ددې قانون د (۳۸۴) مادې په ټاکلی جزاء محکومیږي.

**څلور سوه او اته دیرشمه ماده:**

که قذف کوونکی د فعل یا واقعي صحت چه مقذوف ته یي نسبت ورکړی اثبات کی په هیڅ نوع جزاء نه محکومیږي.

**څلور سوه او نهه دیرشمه ماده:**

که مقذوف تر مخه په داسي جرم محکوم شوی وی چه قذف کوونکی په هغی مقذوف ته قذف ویلی وی ذکر شوی قذف کوونکی په لنډ حبس چه ددری

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتو کم نه وی یا نقدی جزاء چه د دری زرو افغانیوکمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

**څلور سوه او څلویښتمه ماده:**

د قذف په جرم کښی هیڅ نوع تحقیق، تعقیب او د دعوی اقامه صورت نه شي نیولي مگر د مقذوف د شکایت په اساس.

## دیارلسم فصل
## ښکنځل

**څلور سوه او یو څلویښتمه ماده:**

ښکنځل بل چاته د یو شي د نسبت ورکولو څخه عبارت دی په داسی توگه چه د هغی په اثر د شخص اعتبار یا حیثیت جریحه دار شی که څه هم یوی معیني واقعي ته داستناد متضمن نه وی.

**څلور سوه او دوه څلویښتمه ماده:**

که ښکنځل یوی معینی واقعی ته په استناد کولو مشتمل نه وی بلکه په یو قسم د اقسامو د شخص اعتبار یا حیثیت جریحه دار کی، په هغه صورت کښې چه ښکنځلو په یوی علنی وسیلی تحقق موندلی وی ارتکاب کوونکی په لنډ حبس چه د دری میاشتو کم نه وی یا نقدی جزاء چه ددری زرو افغانیو کمه او ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

**څلور سوه او دری څلویښتمه ماده:**

که ښکنځلو په علنی وسیلو صورت نه وی نیولی بلکه د تیلفون، د لیک داستولو یا د بل شخص په وسیله ابلاغ شوی وی، مرتکب د حبس په جزأ چه ددری میاشتو کمه او د شپږو میاشتو زیاته نه وي یا نقدي جزأ چه ددري زرو افغانیو کمه او د شپږ زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او څلور څلويښتمه ماده:**

۱- که د جګړه والو خواوو څخه يوه په محکمو يا د تحقيق په وخت کښې په دومره اندازه چه دفاعيه يې ايجاب کوی بل ته ښکنځل وکی په جزأ نه محکوميږي.

۲- که په يو شخص د بل شخص له خوا تيری وشي او دغضب د فوران په وخت کښې هغه ته ښکنځل وکی په جزأ نه محکوميږي.

## څوارلسم فصل
## د اشخاصو درازونو افشاء کول

**څلور سوه او پنځه څلويښتمه ماده:**

۱- هر شخص چه دوظيفی په حکم کسب، کار، صنعت، فن يا دخپل کار د طبيعت له لحاظه درازونو څخه په يوه راز علم حاصل کی او هغه د قانوني تصريح شوو حالو څخه په غير افشاء کي، يا هغه پخپله ګټه يا د بل شخص په ګټه استعمال کي په متوسط حبس چه ددوه کلو څخه زيات نه وي يا نقدي جزاء چه د څلير ويشتو زرو افغانيو څخه زياته نه وي محکوميږي.

۲- که د مصلحت خاوند دراز په افشاء کولو اجازه ورکړه يا دراز دافشاء کولو څخه مقصود د جنايت يا جنحی څخه اخبار يا د هغی د ارتکاب منع کول وی ارتکاب کوونکی په جزأ نه محکوميږي.

**څلور سوه او شپږ څلويښتمه ماده:**

راتلونکی اشخاص په لنډ حبس يا نقدی جزاء چه ددولس زرو افغانيو څخه زياته نه وي محکوميږي:

۱- هغه شخص چه په يوی علنی وسيلی خبرونه، تصويرونه يا لوحی چه دافرادو د فاميلی او کورنی ژوند درازونو پوری مربوط وي افشاء کي که څه هم حقيقت ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲– هغه شخص چه په تیلفون کې یا د لیږل شوی لیک په وسیله په رازونو علم حاصل کی او د ضرر په قصد هغه افشاء کې.

## پنځه لسم فصل
## دلارې وهل

**څلور سوه او اووه څلویښتمه ماده:**

۱– که څوک د مغالبی د لارې د مال داخستلو په قصد په عمومی لار کې یا په بل هر محجور ځای کښې دوسلی سره یا دداسی آلي سره چه دوسلی سره مشابه وی ځای ونیسي، او د یوه راتلونکی فعل، ارتکاب کوونکی شی لاروهونکی شمارل کیږي:

۱– دلار وي ویرول.

۲– دتهدید یا اکراه سره د غیر مال اخستل.

۳– دانسان قتل.

۴– دانسان د قتل او د غیر د مال اخستل.

۲– که دلار وهنی په جرم کښې د حد داقامه کیدو شرطونه پوره نه شی یا په یو قسم د اقسامو د حد محکوم بها جزاء ساقط شی ارتکاب کوونکی ددې فصل ددرج شوو حکمونو سره سم په تعزیري توګه مجازات کیږي.

**څلور سوه او اته څلویښتمه ماده:**

په هغه قتل کښې چه دلار وهونکی په وسیله کیږي عمدی والی شرط نه دی.

**څلور سوه او نهه څلویښتمه ماده:**

لار وهونکی قاتل په اعدام محکومیږي.

**څلور سوه او پنځوسمه ماده:**

لار وهونکی چه لاروی وویروی په متوسط حبس چه ددری کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او یو پنځوسمه ماده:**

لا ر وهونکی چه دغیر مال اخستی وی په اوږده حبس محکومیږي.

**څلور سوه او دوه پنځوسمه ماده:**

لا ر وهونکی چه دفعل په ارتکاب کښې شروع وکی، په جرم کښې د شروع په ټاکلي جزأ محکومیږي.

**څلور سوه او دري پنځوسمه ماده:**

که لا ر وهونکی دداسی جرمونو ارتکاب کوونکی شی چه په دی فصل کښی نه دی ذکر شوی د ارتکاب شوی جرم په ټاکلي جزأ محکومیږي.

## شپاړسم فصل
## غلا او غصب

**څلور سوه او څلور پنځوسمه ماده:**

۱- که دغلا په جرم کښې د حد د اقامه کیدو شرطونه پوره نه شي یا د شبهی په اثر ممتنع یا په یو قسم داقسامو د حد محکوم بها جزاء ساقطه شی غل ددې فصل ددرج شوو حکمونو سره سم مجازات کیږي.

۲- ددې قانون په مقصد که شخص د غیر د ملکیت منقول او متقوم مال په پټه توګه واخلي غل شمارل کیږي.

**څلور سوه او پنځه پنځوسمه ماده:**

که څوک د راتلونکو څلورو شرطونو د یوځاي کیدو سره غلا وکي په دوام لرونکی حبس محکومیږي:

۱- دلمر لویدو او لمر ختو په منځ کښې غلا.

۲- ددوه شخصو یا د هغی څخه د زیاتو له خوا غلا.

۳-که غله یا یو غل د ځان سره ظاهری یا پټه وسله ولری او غلا وکی.

۴- په مسکون محل کښی په ننوتلو یا په هغه محل کښی چه داوسیدلو دپاره تیار شوی وی یا د هغی په یوی الحاقیه کی غلا کول په دیوا ل دپورته کیدو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې دسورې کیدو، ددروازې د ماتیدو او د هغې امثالو په وسیله د جوړې کړې شوو کنجې ګانو، عسکرې، یا پولیس یا د عمومې خدمتونو د نورو مؤظفینو د لباس په وسیله یا دتزویر شوی امر په وسیله په دې ادعا چه ددولت د صلاحیت لرونکو مقامونو له خوا صادر شوي یا دمحل دیوه اوسیدونکي سره په جوړښت یا د هرې نوعې حیلې په وسیله چه وی صورت یې موندلی وی.

**څلور سوه او شپږ پنځوسمه ماده:**

۱- که څوک د وسلې د استعمال د اکراه یا تهدید په اثر د غلا ارتکاب کوونکي شي په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که د اکراه په اثر زخم واقع شي ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکومیږي.

**څلور سوه او اووه پنځوسمه ماده:**

هغه اشخاص چه دلمر لویدو او لمر ختو ترمنځ د غلا ارتکاب کوونکی شي او تعداد یې دوه یا د دوه ووڅخه زیات وی، کم تر کمه د هغوی څخه یو ظاهری یا پټه کړې شوی وسله د ځان سره وړې وی په اوږده حبس محکومیږي.

**څلور سوه او اته پنځوسمه ماده:**

که څوک آلات یا وسیلې چه په تیلفونی یا تلګرافی مواصلاتو کې په کار اچول شوی وی غلاکې په متوسط حبس محکومیږی. په دې شرط چه په دې جرم کښې ددې قانون د (**۴۵۵**، **۴۵۶**، **۴۵۷**) مادو ددرج شوو مشدده حالونو څخه کوم یو موجود نه وي.

**څلور سوه او نهه پنځوسمه ماده:**

راتلونکی اشخاص په متوسط حبس چه ددرې کلونو څخه کم نه وی محکومیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- که څوک د عبادت په یوه ځاي کې مسکن، محل، او هغه محل کې چه د سکونت د پاره تیار شوی وی یا د هغی په ملحقاتو کښی غلا وکی.
۲- که څوک احاطی ته په داخلیدو سره د احاطی د ماتولو دجوړ شوو کنجی ګانو د استعمال په وسیله یا په بله هره طریقه چه داحاطی داخل ته یی نفوذ کړی وی، غلا وکی.
۳- که څوک دلمر لویدو او لمر ختو ترمنځ غلا وکي.
۴- که څوک دیوه نفر یا د هغه د زیاتو په شرکت غلا وکی، شریک عیناً دفاعل په جزاء محکومیږي.
۵- که څوک د ظاهری یا پټی کړی شوی وسلی سره غلا وکی.
۶- که څوک مستخدم یا اجیر وی
مخدوم ته د ضرر رسولو په منظور غلا وکی.
۷- که څوک د فابریکی کارګر وی او د ګټی خاوند ته دضرر رسولو په منظور غلا وکی.
۸- که څوک حمال، یا دحمل او نقل یا د بار وړونکی یوی وسیلی چلوونکی وی یا په هر قسم د اقسامو د مال په وړلو او راوړلو مکلف وی د هغی څخه غلا وکی.

**څلور سوه او شپیتمه ماده:**

که د غلا په جرم کښې ددې فصل هېڅ یو مشدده حالت موجود نه شي یا د غلا شوي مال قیمت ناچیزه وي ارتکاب کوونکی، د حالونو سره سم په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم یا په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او یو شپیتمه ماده:**

که څوک غلا یا دکرهڼی محصولات چه لا لو یا ټول شوی نه وی غلا کی د غلا شوی مال په دوه چنده قیمت محکومیږی په دې شرط چه د غلا شوی مال قیمت د سلو افغانیو څخه زیات نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او دوه شپیتمه ماده:**
که څوک په غلا شروع وکې په جزأ د اصلې جرم د نیمایي اکثري ټاکل شوی اندازې څخه زیاته نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او دری شپیتمه ماده:**
ددې فصل په ټولو درج شوو حالونو کښې محکمه به غل په ټاکل شوی جزأ علاوه د غلا شوی مال په بیرته ورکولو یا د هغې په قیمت محکوموي.

**څلور سوه او څلور شپیتمه ماده:**
۱- که څوک په عنف، اکراه یا تهدید په غصب سره سند، امضاء، مهر یا دګوتې نښانې واخلې د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.
۲- که څوک د پورتنې فقرې دیوی وسیلې په واسطه بل څوک د پورتنیو ذکر شوو شیانو څخه د یوه شي په لغو کولو، تلفولو یا تعدیل یا په امضاء مهر یا د ګوتې په نښه مجبور کې د پورتنې فقرې په عین ټاکل شوی جزأ محکومیږی مګر دا چه قانون په زیاتې شدیدې جزأ حکم کړی وی.
۳- که ددې مادې د (۱) او (۲) فقرې ددرج شوو جرمونو د ارتکاب څخه ارتکاب کوونکی ته فایده رسیدلې وی او مجنی علیه ته ضرر نه وی رسیدلی ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**څلور سوه او پنځه شپیتمه ماده:**
۱- که څوک ددې قانون د (۴۶۴) مادې ددرج شوو موادو څخه په غیر بل شخص د تهدید په وسیله د پیسو یا نورو شیانو په تسلیمولو مجبور کې په اوږده حبس چه داووه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.
۲- که د پورتنې فقرې درج شوی جرم د تهدید یا عنف په وسیله صورت وموموي ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه لسم فصل

## په امانت کښې خيانت

**څلور سوه او شپږ شپيتمه ماده:**

۱- هغه شخص چه منقول مال ورسره په امانت ايښودل شوی يا په بل هر قسم چه ورته ذکر شوی مال سپارل شوی وی، په بد نيت يی د خپل ځان د پاره يا دخپل ځان د ګټې د پاره يا د بل شخص د ګټې د پاره استعمال يا د قانون او مقرراتو مخالف د هغه غرض په خلاف چه ورته سپارل شوی په کښې په بدنيت تصرف وکی د حالونو سره سم په متوسط حبس يا نقدی جزاء چه ددولس زرو افغانيوکمه او دشپيتوزرو افغانيو څخه زياته نه وی محکوميږي.

۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم ديوه راتلونکي شخص په وسيله د هغه مال په مورد کښې چه د وظيفي په مقتضا ورته سپارل شوي ارتکاب شي ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه د دوه کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي:

۱- د مالونو دوړلو راوړلو د کسب خاوند عام له دی چه د ځمکی، هوا يا د اوبو د لاری وی يا د هغه يو همکار.

۲- مدافع وکيل، دلال يا صراف.

۳- مامور، اجير، مستخدم.

۴- هغه شخص چه د محکمي په امر ورته مال سپارل شوي وي يا په قاصر يا د اهليت په فاقد وصي يا قيم ټاکل شوي وي يا په يوي خيريه مؤسسه کښې د مؤسسې د مالونو د اداري مسئول وي، ددي مادي د (۱) فقري ددرج شوو جرمونو ارتکاب کوونکی شي په اوږده حبس چه د اووه کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او اووه شپیتمه ماده:**

۱- که د منقول مال مالک چه مال یي د محکمي په قرار د حجز لاندی راغلی یا د قضاء د تصرف لاندي ایښودل شوی وی، ذکر شوی مالک هغه مال په بدنیت د خپل ځان د پاره یاد خپلی ګټی د پاره یا بل شخص د ګټې د پاره استعمال کی یا په هغی کښې تصرف وکی یا یی پټ کی یا د هغه شخص د پاره چه په ذکر شوی مال کښی ورڅخه د غوښتني حق لری تسلیم نه کی په داسی توګه چه په ذکر شوی مال کښی د نیول شوو اجراآتو غرض تر سره نه شي، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د دوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

۲- که ګروي دارګرو شوی منقول مال د هغی د مالک سره په امانت کښیږدی او ذکر شوی مالک د خپل ځان دپاره یا د خپلی ګټی د پاره یا دبل شخص د ګټی د پاره په بدنیت استعمال یا د هغه غرض په خلاف چه ورته سپارل شوي تصرف وکي، دپورتني فقری په عین ټاکل شوي جزأ محکومیږي.

**څلور سوه او اته شپیتمه ماده:**

۱- که څوک منقول ما ل واخلي او خر څوونکی هغه د بیعی د ټول قیمت دورکولو په غرض پخپل ملکیت کښی وساتي اواخستونکی دخرڅوونکی د پخوانی اجازی په غیر په داسی توګه په هغی کښی تصرف وکی چه ذکر شوی مال د خرڅوونکی د حیازت څخه وباسي. په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو کمه او د دوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲- د پورتنی فقری په درج شوی جرم کښی دعوی دخر څوونکی د شکایت په غیر نه شی اقامه کیدی او په هغی کښی دعوی د آخرنی حکم څخه تر مخه دشکایت څخه دخرڅوونکی په انصراف ساقطیږی او که انصراف د آخرنی حکم د صادریدو څخه وروسته وشی د حکم تنفیذ په کښی معطلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتلسم فصل
## فریب کاری

**څلور سوه او نهه شپیتمه ماده:**

۱-که څوک د بل چا د منقول مال د حیازت په تسلیمولو یا انتقال د خپل ځان د پاره یا د بل شخص د پاره په یوي راتلونکی وسیلي متوصل شی په لنډ حبس چه ددري میاشتو څخه کم نه وي محکومیږي:

۱- دفریب کارانه وسیلو استعمال.

۲- د دروغجن نوم یا صفت څخه کار اخستل، یا په یوی ټاکلی حادثی کی د غلطی اطلاع ورکول په داسي توګه چه د هغی په اثر مجنی علیه فریب وخوری تسلیمیدوته مجبور شی.

۳- که څوک دپورتنی فقری د یوی درج شوی وسیلی په واسطه بل شخص د قرض د سند د حیازت یا د بل سند چه استعمال یی د ملکیت د حق په اثبات یا په بل عینی حق کښی امکان ولری په تسلمیدو یا انتقا ل یا په مال کښی په تصرف یا په ابراء کولو مجبور کی، د پورتنی فقری په عین ټاکل شوی جزأ محکومیږي.

۴- که یو شخص ددې مادې د (۱) فقری په یوی درج شوی وسیلی بل شخص په امضاء کولو، مهر، د ګوتی په نښه یا ددې مادې د (۲) فقری ددرج شوو سندونو څخه دیو سند په لغو کولو، تلفولو یا تعدیلولو مجبور کی ددې مادې د (۱) فقری په عین درج شوی جزأ محکومیږي.

**څلور سوه او اویایمه ماده:**

که شخص سره ددې چه علم لری چه ملکیت یی نه دی یا په دی علم چه د تصرف حق په کښی نه لری په منقول مال یا عقار کښی تصرف وکی سره ددې چه په هغی کښی د پخوانی تصرف یا د دواړو خواوو د عقد علم ولری تصرف کی، په داسی توګه چه د هغی په اثر بل چاته ضرر ورسیږی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او یواویایمه ماده:**

۱- که شخص د یو قاصر چه داتلس کلنی عمر یی پوره کړی وی، داحتیاج، عدم مهارت یا د نفس د ضعف څخه په داسی توګه بده استفاده وکی چه په حیله د لیکلو په واسطه، د ملکیت داسنادو په امضاء کولو، یا د قرضونو پوری د مربوط رسید خط یا طلباتو یا د تجارتی پاڼو څخه په فراغت یا نورو مثبته سندونو ذکر شوی شخص ته ضرر ورسوی په لنډ حبس چه ددری میاشتو څخه کم نه وی محکومیږي.

۲- لیونی، معتوه، محجور او هغه شخص چه د اتلس کلنی د عمر د پوره کیدو وروسته ور باندی دوصایت داستمرار حکم صادر شوی د قاصر په حکم کښی شمارل کیږي.

۳- که ددې مادې د (۱) فقری ددرج شوو جرمونو ارتکاب کوونکی په مجنی علیه، ولی، وصی یا قیم وی یا په یو قسم داقسامو د هغه په سر پرستی یا د هغه د ګټو په ساتنه مکلف وی عام له دی چه د قانون په تقاضا، د محکمی په حکم یاپه خاصه موافقه وی. په اوږده حبس چه د اووه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

**څلور سوه او دوه اویایمه ماده:**

که څوک په بدنیت بی له دی چه شتمنی ولری عام له دی چه نقدی پیسي وي یا اعتبار بل شخص ته چک ورکی یا د هغه د اعتبار وجه د چک څخه کمه وی یا داچه د چک ورکولو وروسته دوجهی ټول یا یو قسمت چه د هغی په اعتبار چک صادر شوی د بانک څخه وباسی، په داسی ډول چه پاتی شتمنی یی د چک وجه پوره نه کی یا د هغی مرجع څخه چه پیسي اخلي دپیسو په نه ورکولو امر وکی یا عمداً چک په داسي توګه تحریر یا امضاء کي چه د پیسو دورکولو مانع وګرځي، په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی او نقدی جزأ چه ددوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځلور سوه او دري اویایمه ماده:**
که ددې فصل ددرج شوو جرمونو د ارتکاب په اثر مجني علیه ته ضرر ورسیږي، ارتکاب کوونکی په اصلي جزأ علاوه د خساری په جبران هم محکومیږي.

## نولسم فصل
## دهغه شیانو پټول چه د جرم د ارتکاب په نتیجه کښی لاس ته راځي

**ځلور سوه او ځلور اویایمه ماده:**
۱- که شخص سره دعلمه هغه شیان چه دجنایت د ارتکاب په نتیجه کښې لاس ته راغلي پخپل حیازت کښې راوړی یا یي پټ یا یي استعمال کی یا په یو قسم د اقسامو په هغی کښی تصرف وکی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي، مګر داچه په قانون کښې زیاته شدیده جزأ ټاکل شوی وی.
۲- که د پورتنی فقری درج شوی شیان د جنحی د ارتکاب په نتیجه کښی لاس ته راغلی وی په حبس چه ددری کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي، په دې شرط چه جزأیی د اصلی جرم د اکثری اندازی د ټاکلی جزأ څخه چه ذکر شوی شیان د هغی دارتکاب په نتیجه کښی لاس ته راغلی زیاته نه وی، او هغه شخص چه د جرم په ارتکاب کښی یی ګډون نه وی کړی لاس ته راوړی شیان پخپل حیازت کښې راوړی وی یا یی پټ کړی وی یائی استعمال کړی وی یا یی په یو قسم د اقسامو په کښی تصرف کړی وی.
۳-که شخص یو شي چه د جنایت یا جنحي د ارتکاب په نتیجه کښې حاصل شوی په داسی حالونو کښی لاس ته راوړی چه باید د هغی په عدم مشروعیت یی علم پیدا کړی وی په لنډ حبس یا نقدی جزأ چه د دوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او پنځه اویایمه ماده:**

۱- که ددې قانون د (۴۷۴) مادی ددرج شوو جرمونو ارتکاب کوونکی د هغه جرمونو د ارتکاب کوونکو په باره کښې چه ذکر شوی شیان د هغوی څخه لاس ته راغلی د اقدام تعقیب او لټونی تر مخه صلاحیت لرونکو مراجعو ته خبر ورکی په جزاء نه محکومیږي.

۲- که صلاحیت لرونکو مراجعو ته د تحقیق د پیل څخه وروسته اطلاع ورکی د هغه د اطلاع مخففه حالت شمارل کیږي.

## شلم فصل
## مشترک حکمونه

**څلور سوه او شپږ اویایمه ماده:**

۱- ددې باب ددرج شوو فصلونو په جرمونو کښې چه د هغی څخه میره، ښځی یا داصولو او فروعو څخه یوه ته ضرر ورسیږی ددعوی تحریک او نور اجراآت د هغوی په ضد جواز نه لری، مګر د مجنی علیه په شکایت د جزائی دعوی د قطعی حکم دصادریدو ترمخه چه مجنی علیه د شکایت څخه انصراف وکي ساقطیږي.

۲- که د پورتنی فقری په درج شوو جرمونو کښې انصراف د محکمی دقطعی حکم څخه وروسته صورت ومومی د حکم تنفیذ متوقف کیږي.

۳- په هغه حالت کښې چه دجرم د محل شیان دقضاء په حکم یا د قانونی صلاحیت لرونکو مراجعو په حکم د حجز لاندی واقع شوی وی یا دقضاء په تصرف کښې ایښودل شوی وی یا د غیر ګروی وی یا د غیر دانتفاع په حق کښی راغلی وی ددې مادی حکمونه نه تطبیقیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوویشتم فصل
## دمناقصاتو او مزایداتو په آزادي کښی مداخله

**څلور سوه او اووه اویایمه ماده:**
که څوک د تقلب یا دنورو غیر مشروعو وسیلو په واسطه د مناقصاتو او مزایداتو په آزادی او سلامتی کښی چه ددولت د مؤسسو یا دشرکتونو چه دولت په کښی سهم لری یا د رسمی یا نیمایی رسمی دوایرو پوری اړه نه نیسي اخلال وارد کی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او نقدی جزأ چه د پنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزاءګانو څخه په یوی محکومیږي.

## دوه ویشتم فصل
## د تجارت پوری مربوط جرمونه

### لومړی قسمت – غیر قانونی ربحه

**څلور سوه او اته اویایمه ماده:**
که شخص په علنی یا پټه توګه بل شخص ته په غیر مجاز ربحی قرض ورکی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی او نقدی جزأ چه دپنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزاء ګانو څخه په یوی محکومیږي.

### دوه یم قسمت – په تجارتی معاملو کښی تقلب

**څلور سوه او نهه اویایمه ماده:**
که یو شخص عمداً د مختلفو واقعو یا د دروغجنو خبرونو یا پروپاګند د خپرونی له لاری یا د نورو عملونو د لاری چه د تقلب یا دفریب متضمن وی د جنسونو د قیمت، درواجولو دپاره د تیارومالی پانو د پورته کیدو یا کښته کیدو سبب وګرځی یا د استهلاک د پاره یو تیار شوی جنس پټ کی یا د هغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پتېدو سبب وګرځی په لنډ حبس او نقدی جزأ چه دپنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددی دواړو جزاءګانو څخه په یوی محکومیږي.

**څلور سوه اواتیایمه ماده:**

که څوک د عقد کوونکی سره په یوه راتلونکی مواردو کې تقلب وکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات نه وی او نقدی جزاء چه د لس زرو افغانیو تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي:

۱- په تعداد ، مقدار ، مقیاس ، وزن ، پیمانی ، طاقت او د ترکیبی موادو په فیصدي کښی.

۲-د جنس په عین کښې په دې توګه چه مقابل طرف ته غیر د هغی چه تعهد یی کړی تسلیم کی.

۳-دشی په ماهیت، اساسی صفتونو، ګټورو او ترکیبی عناصرو کښی.

۴-دشی په نوع، جنس او منبع کی.

**درېیم قسمت- دافلاس پوری مربوط جرمونه**

**څلور سوه او یو اتیایمه ماده:**

د هغه تاجر په افلاس چه قطعی حکم صادر شوی په یوه راتلونکی حالت کښی متقلب مفلس شمارل کیږي:

۱- په هغه حالت کښې چه خپل ټول یا ځینی دفترونه یی پټ، تلف، تغییر یا تبدیل کړی وی.

۲- په هغه حالت کښی چه دائنینو ته دضرر رسولو په غرض د خپل مال یوه حصه یی اختلاس یا پټه کړی وی.

۳- په هغه حالت کښی چه په صوری دین اعتراف وکی یا خپل ځان یی په داسی دین مدیون کړی وی چه په حقیقت کښې د هغه په ذمه نه وي عام له دی چه دا دین ئی په دفترونو ، بودجی یا پخپلو نورو پاڼو کښی ثبت کړی وی یا یی په شفوی ډول په هغی اعتراف کړی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- په هغه حالت کښې چه په بدنیت د صلاحیت لرونکو مقامونو د غوښتنې په صورت کښې د پاڼو یا د توضیحاتو دوړاندې کولو څخه ځان وژغوری. او په هغه آثارو چه په ژغورنه یې مرتبیږي علم ولري.

**څلور سوه او دوه اتیایمه ماده:**

متقلب مفلس په اوږده حبس چه د اووه کلونو خخه زیات نه وی محکومیږی.

**څلور سوه او دری اتیایمه ماده:**

۱- هغه تاجر چه په افلاس یې قطعی حکم صادر شوی او د لوی تقصیر په سبب د خپلو دائنینو د خساری باعث ګرځیدلی مقصر مفلس شمارل کیږي.

۲- مفلس تاجر په یوه راتلونکی حالت کښې لوی مقصر شمارل کیږي:

۱- په هغه حالت کښې چه شخصی یا فامیلی مصرف یې نسبت عایداتو ته ډیر زیات وی.

۲- په هغه حالت کښې چه زیاتی پیسي په جواری، د بخت آزمایلو په ټکټونو یا شرط تړلو کښې مصرف کی.

۳- په هغه حالت کښې چه یوه متاع واخلی او په ټیټ قیمت یې خرڅه کی، یا زیاتی پیسی قرض کی یا قیمت لرونکی پاڼی صادری کی یا نوری وسیلی استعمال کی په داسی ډول چه لویه خساره ورته عاید شی، په دی منظور چه مال لاس ته راوړی او د دی لاری خپل افلاس په تاخیر واچوی.

۴- په هغه حالت کښې چه ددین د اداکولو د متوقفیدو وروسته نورو دائنینو ته د ضرر رسولو په منظور یا صلحی کولو ته د رسیدو په قصد، د یوه دائن دین تأدیه کی.

۵- په هغه حالت کښې چه د تقلب په وسیله د دائنینو سره مصالحی ته ورسیږي.

**څلور سوه او څلور اتیایمه ماده:**

لوی مقصر مفلس په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او پنځه اتیایمه ماده:**

هغه تاجر چه په افلاس یی قطعی حکم صادر شوی په یوه راتلونکی حالت کښی مقصر مفلس گڼل کیږي:

۱- په هغه حالت کښی چه تجارتی قوانینو د تجارتی دفترونو لړل لازم کړی وی او هغه دا دفترونه ونه لری یا دفترونه په داسی ډول نا مکمله او نا منظمه وی چه د هغی څخه د هغه شتمنی، او قرضونه معلوم نه شی.

۲- په هغه حالت کښی چه د خپل بیلانس پاڼه په قانونی موده کښی وړاندی نه کی.

۳- په هغه حالت کښی چه د تأدیاتو د متوقف کیدو وروسته صحیح اظهارات چه قانوناً پری مکلف دی وړاندی نه کی.

۴- په هغه حالت کښی چه بی د معقول عذر څخه د غوښتنی په صورت کښی شخصاً هغه مرجع ته چه د هغه د افلاس حکم یی صادر کړی حاضر نه شی یا کوم اظهارات چه ذکر شوی مرجع یی غواړی وړاندی نه کی یا ددې اظهاراتو عدم صحت ظاهر شی.

۵- په هغه حالت کښی چه د غیر د گټی د پاره بی له عوضه داسی لوی قرار داد عقد کی چه د عقد په وخت کښی د هغه مالی وضعه یی اجازه نه ورکوی.

**څلور سوه او شپږ اتیایمه ماده:**

۱- که دیوه تجارتی شرکت افلاس په اشتهار قطعی حکم صادر شی په هغه صورت کښی چه د عمومی مجمع یا مدیره هیئت په یوه غړی ددی قانون د (۴۸۱) مادی د یوه درج شوی فعل ارتکاب ثابت شی ددې قانون د (۴۸۲) مادی په ټاکلی جزاء محکومیږي.

۲- که د عمومی مجمع یا مدیره هیئت یو غړی د تقلب یا فریب په واسطه دداسی فعل ارتکاب کوونکی شی چه د هغی په اثر شرکت مفلس شی یا د شرکت د تأدیاتو په متوقف کیدو کښی مرسته وکی ددې قانون د (۴۸۲) مادی په ټاکل شوی جزاً محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه او اووه اتيايمه ماده:**
که د صغير يا محجور عليه د افلاس په اشتهار يا د هغه شخص چه تجارت يي يو امين شخص اداره کوی، قطعی حکم صادر شی د فريب يا د تقصير د اعمالو، جزائی مسئوليت هغه ولی، وصی يا امين ته متوجه دی چه ددی فصل د تيرو درج شوو مادو د تقلب يا فريب د افعالو ارتکاب پری ثابت شی او د حالونو سره سم د هغی په ټاکلی شوی جزاء محکوميږي.

**څلور سوه او اته اتيايمه ماده:**
راتلونکی اشخاص په متوسط حبس چه ددوه کلونو زيات او په نقدي جزأ چه د لس زرو افغانيو تجاوز ونه کي يا ددي دواړو جزاء ګانو څخه په يوی محکوميږی، په دی شرط چه په قانون کښی زياته شديده جزأ نه وی ټاکل شوی:
۱- هغه شخص چه د مفلس ټول يا ځينی مالونه پټ کی که څه هم د هغه ښځه يا يو د اصولو او فروعو څخه يی وی.
۲- هغه شخص چه د دائنينو د جملی څخه نه وی او د تقلب په وسيله د صلحی پوری مربوطو مذاکرو کښی دخالت وکی يا د تقلب په وسيله د مفلس مديون د مرستی په منظور د حقيقت په خلاف يو دين پخپل نوم يا د بل شخص په نوم وښيي.
۳- هغه دائن چه خاصه موافقه د خپلی ګټی او د نورو دائنينو دضرر په منظور عقد کی.
۴- هغه دائن چه د تقلب په وسيله د خپل دين اندازه زياته کی يا په مفلس يا په بل شخص خاص امتيازونه د صلحی يا د مفلس د دارايي په مذاکرو کښی د رأی ورکولو په بدل کښی يا د هغی په وعده شرط کښيږدی.

**څلور سوه او نهه اتيايمه ماده:**
محکمه کولی شی چه ددي فصل ددرج شوو جرمونو د محکوميت د حکم په خپرونی امر وکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دروېشتم فصل

## دمعنوي ملکیت په حقوقو تېری

**څلور سوه او نوی یمه ماده:**

۱- که یو شخص د غیر د معنوي ملکیت په یوه حق چه قانون یا نړیوالی معاهدی چه افغانستان ورته الحاق کړی حمایه کړی وی، تېری وکی په نقدی جزأ چه ددوولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومېږی مګر داچه خاص قانون په زیاتی جزاء حکم کړی وی.

۲- هغه شیان چه د غیر په حق د تېری په نتیجه کښی چه په پورتنی فقره کښی درج شوی لاس ته راشی مصادره کېږي.

## څلیر ویشتم فصل

## د تخریب، تلفولو او د حدودو د انتقال جرمونه

### لومړی قسمت- د تخریب او تلفولو جرمونه

**څلور سوه او یو نوی یمه ماده:**

که یو شخص عقار یا منقول یا غیر منقول مال چه د غیر ملکیت وی تخریب یا تلف کی یا یی داستفادی څخه وباسی یا ورته ضرر ورسوي یا په هر قسم چه وی هغه بیکاره کی په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی او نقدی جزأ چه د لس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومېږی. مګر دا چه قانون زیاته شدیده جزأ ټاکلی وی.

**څلور سوه او دوه نوی یمه ماده:**

۱- که چېری یو ډله چه کم تر کمه دپنځو نفرو څخه تشکیل شوی وی د غیر د ملکیت عقار یا منقول مال منهدم، خراب یا تلف کی یا یی د استفادی څخه وباسی یا ورته ضرر ورسوی یا په هر قسم چه وی هغه بیکاره کی. د هغوی هر یو د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که د پورتنی فقری جرم دعنف سره په اشخاصو واقع شی ارتکاب کوونکی په اوږده حبس چه داووه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.
۳- که د پورتنی فقری درج شوی جرم د اضطراب، نا آرامی یا د لوی فاجعی د حالت دوجود څخه په استفادی سره صورت ونیسي په اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

**څلور سوه دری نوی یمه ماده:**

۱- راتلونکی اشخاص د خساری په جبران علاوه په لنډ حبس او نقدی جزأ چه د پنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا د دې دواړو جزاګانو څخه په یوی محکومیږي:
۱- هغه شخص چه د غیر د ملکیت د کرهنی محصولات چه لوشوی نه وی یا په پټیو کښی هر نوع موجود نباتات تلف کی.
۲- هغه شخص چه د بل د ملکیت کرلی فصل تلف یا په کښی مضر مواد یا نباتات وشندی.
۳- هغه شخص چه د بل د ملکیت ونه د بیخه وباسی یا یی پری یایی تلف کی یا مضره لښته په کښی زرع کی او یا ورڅخه دوچیدلو په منظور پوست لیری کی.
۲- که د پورتنی فقری ددرج شوی جرم ارتکاب د لمر لویدو او لمر ختو ترمنځ کم تر کمه ددری نفرو په وسیله یا ددوه نفرو په وسیله چه یو یی د عنف څخه کار واخلی یا یو د هغوی ظاهری یا پټه وسله د ځان سره ولری، صورت ومومی هر یو ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

**دوه یم قسمت - دحدودو انتقال**

**څلور سوه او څلور نوی یمه ماده:**

۱- که یو شخص د بل د ملکیت د حدودو څخه یوحد خراب کی یا بله علامه چه د مساحت یا حدود د ضبطولو په منظور یا د ملکیتونو ترمنځ د جدایي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظور نصب شوی وی انتقال ورکی یا یی زایل کی، په متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلیر ویشتو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزاء ګانو څخه په یوی محکومیږي.*

۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم پر اشخاصو په عنف یا د بل د ملکیت د ځمکی د غصبولو په قصد ارتکاب شی په هغه علامی چه د رسمی او نیمایی رسمی مراجعو له خوا وضع شوی وی د پورتنی منظور د پاره لیری کی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

## پنځه ویشتم فصل
## د حیواناتو د قتل او هغی ته د ضرر رسولو جرمونه

**څلور سوه او پنځه نوی یمه ماده:**

راتلونکی اشخاص د خساری په جبران علاوه په لنډ حبس او نقدی جزأ چه د پنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزاء ګانو څخه په یوی محکومیږي:

۱- هغه شخص چه عمداً یا بی له اقتضاء د بل د ملکیت د سورلی حیوان ووژنی یا یې شدیداً زخمی کی یا په بل صورت ورته لوی ضرر ورسوي.

۲- هغه شخص چه په سیند، نهر، غدیر یا حوض کښی موجود ما هیان مسموم کی یا یې په ښکار کښی د ډوله ایز قتل دوسیلو څخه لکه د چاودیدونکو موادو استعمال د کیمیاوی موادو، برقی او داسی نورو وسیلو څخه کار واخلی.

۳- هغه شخص چه عمداً او بی له اقتضاء څخه د بل د ملکیت دوریښمو چنجی، د شاتو د مچیو مجموعه مړه کی او یا ورته لوی ضرر ورسوي.

---

* د ۴۹۴ مادې (۱) فقره تعدیل شوې، د تعدیلا تو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم باب
## قباحتونه

### لومړی فصل
### د عمومي لارو او ځایونو پوری مربوط قباحتونه

**څلور سوه او شپږ نوی یمه ماده:**

راتلونکی اشخاص په لنډ حبس چه د پنځلس ورځو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د پنځه سوه افغانیو تجاوزونه کی محکومیږي:

۱- هغه شخص چه په عمومی لار کښی بی له ضرورته او بی صلاحیت لرونکو مقامونو د اجازی څخه د ازدحام سبب وګرځی عام له دی چه په هغی کې د کندی د کنلو په وسیله وی یا په هغی کښي د موادو یا دداسی شیانو د اچولو په وسیله وی چه تګ او راتګ په کښی غیر مطمئن کی یا په هره وسیله چه وی د تګ او راتګ د منع کیدو سبب په کښی وګرځی.

۲- که څوک د نقلیه وسیلو په درولو یا توقف ورکولو د ترافیکی مقرراتو خلاف د لاری د مزاحمت سبب شی عام له دی چه ذکر شوی وسیلی د حیوان یا غیر له هغی وچلول شی. مګر داچه درول یا توقف ورکول د بارولو یا خالي کولو یا دسورلیو دپورته کیدو یا کښته کیدو په منظور په کافی اندازه صورت موندلی وی.

۳- که څوک پل یا پلچک چه د اوبو د جریان د پاسه جوړ شوی او خلک پری د تیریدو حق ولری قطع کی او د هغی په ځای بله د لارو تللو وسیله نصب نه کی.

۴- ددې مادې په ټولو درج شوو حالونو کښې به محکمه د موانعو د لیری کیدو علاوه د خساری په جبران چه د هغی څخه پیدا شوی هم حکم کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور سوه اواوه نوی یمه ماده:**
راتلونکی اشخاص په نقدی جزأ چه ددوه سوو افغانیو څخه زیاتی نه وی محکومیږي:
۱- که څوك خپله امتعه په ځایو او وختونو کی چی د صلاحیت لرونکو مقاماتو له خوا منع شوی وی د خرڅولو د پاره عرضه کی مگر دا چه قانون بل ډول حکم کړی وی.
۲- که څوك په عمومی لار کی څاروي یا عرادی وتړی او یایی و دروی یا یی ومینځی او د هغی په اثر په لار کښی ازدحام یا لارویو ته تکلیف پیدا شی.

**څلور سوه او اته نوی یمه ماده:**
که څوك د ترافیکی علامو څخه یوه علامه چی په عمومی لار یا په عمارت نصب ده یا هغه علامی چی د مسافو د ټاکلو یا د ښارونو، لارو یا نورو عمومی ځایونو د ښودنی د پاره نصب دی د شکل تغییر ورکی یا یی خوا ته تغییر ورکی په حبس چی د یوی میاشتی زیات نه وی یا نقدی جزأ چی د پنځه سوه افغانیو څخه تجاوز و نه کی محکومیږی .

**څلور سوه او نهه نوی یمه ماده:**
راتلونکی اشخاص په حبس چه د یوی میاشتی زیات نه وی یا نقدی جزاء چه دیو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- هغه شخص چه د اخطار یی یا تنویری علامی په ایښودلو کښی په هغه ځایونو کښې چه په عمومی لار کښې کنده کنی یا په کښی مالونه ږدی، اهمال کی.
۲- هغه شخص چی د پورتنی فقری، اخطاریه یا تنویری علامه د مینځه ویسی.
۳- هغه شخص چی چراغ چه د عمومی لاری یا میدان د روښانه کولو دپاره ورڅخه کار اخستل کیږی مړ، لیری یا تلف کی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځه سوه ومه ماده:**

راتلونکی اشخاص په حبس چې د یوې میاشتې زیات نه وي یا نقدي جزاء چې د یو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:

۱- هغه شخص چې په لاره کښې داسې مواد واچوي چې د لارو یو د اذیت باعث شي یا بې له احتیاطه په عمومي یا خاصه لار کښې داسې شیان زوړند کی که ولویږي خلکو ته اذیت یا تکلیف تولید وي.

۲- هغه شخص چې بې د لازمي احتیاط څخه جامد یا مایع مواد یا غاز په انسان واچوي که څه هم د هغې په اثر کومه جسمي صدمه و نه رسیږي.

**پنځه سوه او یوومه ماده:**

که څوک بې د مجاز ځایونو څخه اعلانونه نصب یا زوړند کی یا بې له حق اعلانونه د مجاز ځایونو څخه لیری، تلف یا د شکل تغییر ورکی په نقدي جزأ چه دیو زر افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

**پنځه سوه او دوه یمه ماده:**

راتلونکی اشخاص په حبس چه دلس ورځو څخه زیات نه وي یا نقدي جزأ چه د سل افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:

۱- هغه شخص چه په عمومي لار یا میدان کښې بې له احتیاطه او بې پروایي د حیوان د سورلی یا د هغې د ځغلولو په وسیله د خلکو دروحي یا جسمي اذیت سبب شي.

۲- هغه شخص چه دلمر لویدو او لمر ختو تر منځ په عمومي لارو او میدانونو کښې نقلیه وسیلي بې له دې چه ددواړو خواوو چراغونه یې روښانه کی ودروي یا یې وځغلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم فصل

## قباحتونه چه د خلکو د آرامتیا پورې مربوط دي

**پنځه سوه او دریمه ماده:**
هغه شخص ته چه صلاحیت لرونکو مقامونو د یوې بنا چه لویدو ته نږدې ده د ترمیم یا تخریب اخطار ورکړی او هغه ورڅخه ځان وژغوري یا اهمال وکې په نقدي جزاء چه د زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.
په دې شرط چه په خاص قانون کښې زیاته شدیده جزأ نه وي ټاکل شوی.

**پنځه سوه او څلورمه ماده:**
راتلونکي اشخاص په حبس چه دیوې میاشتې زیات یا نقدي جزاء چه دیو زر افغانیو څخه تجاوز ونه کي محکومیږي:
۱- هغه شخص چه بې د صلاحیت لرونکو مقامونو د اجازې څخه په داسې ځایونو کښې د اور په لوبو او د هغې په امثالو بوخت شي چه په هغې کښې داور اخستلو، تلف کیدو او یا ضرر خطر متصور وي.
۲- هغه شخص چه په ښار یا قریه کښې دننه اوربلوونکې وسله، باروت یا نور منفلقه مواد استعمال کي.
۳- هغه شخص چه عمداً د آرن، غالمغال، تخریش کوونکو آوازونو او دهغې په امثالو د نورو د اذیت سبب شي.
۴- هغه شخص چه داسې لیونې چه خلک ورڅخه ویریږي په عمومي لار کښې خوشې کي.
۵- هغه شخص چه دیو حیوان په باره کښې چه په حیازت کښې یې دی یا یې مسئولیت په اوږو دی د خطر د مخنیوی یا ممکن ضرر لازمې احتیاط ونه کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم فصل
## د عمومی صحت پوری مربوط قباحتونه

**پنځه سوه او پنځمه ماده:**
راتلونکی اشخاص په حبس چه دیوی میاشتی زیات نه وی یا نقدی جزأ چه دیو زر افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- که څوک د انسان جسد په ښار، قریبی یا په داسی ځای او محل کښی چه صلاحیت لرونکی مراجع په هغی کښی د ښخولو اجازه نه وی ورکړی ښخ کی.
۲- که څوک په سیند، نهر، ویالی کوځی، یا په روانو اوبو کښی چټل مواد چه صحت ته مضر وی واچوی.

**پنځه سوه او شپږمه ماده:**
راتلونکی اشخاص په حبس چه د پنځلس ورځو څخه زیات نه وی یا نقدی جزاء چه د پنځه سوه افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- که څوک په سرک، عمومی لار، میدان یا په عمومي تفریح ځای کښی گنده شوی مواد، کثافتونه، جارو شوی خاوری، چټلی اوبه او نور چه صحت ته مضر وی واچوی.
۲- که څوک په عمدی توګه یا په اهمال بخار، دود، چټلی اوبه، یا نور مواد چه دضرر د اذیت یا د خلکو د چټلیدو سبب شی خوشی کی.
۳- که څوک ددود کش، تنور یا نورو دستګاوو په اصلاح کولو او نظافت کښي چه په کښی اور استعمالیږي اهمال وکی.

**پنځه سوه او اوومه ماده:**
هغه شخص چه د طبابت یا صحی کار او کسب لری او د معاینو یا تداوی په وخت کښی د مړی یا زخمی په بدن داسی زخمونه مشاهده کی چه د جرم په نتیجه کښی ورته رسیدلي یا قرائن په داسی ډول وی چه د جرم اشتباه پیداکی، نو چه صلاحیت لرونکی مقامونه خبر نه کی په حبس چه ددری

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

## څلورم فصل

## داملاکو، مالونو او حیواناتو پوری مربوط قباحتونه

**پنځه سوه او اتمه ماده:**

راتلونکی اشخاص په حبس چه دلس ورځو څخه زیات یا نقدی جزاء چه ددری زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي:

۱- که شخص ناحقه د کرهنی یاکرلو د پاره په تیاره شوی ځمکه کښی یا په کرهنه کښی چه نه وی لوشوی، د حیواناتو سره یا بی له هغی تیر شی.

۲- که څوک ناحقه په ځمکه یا باغ کښی رمه یا نور حیوانات وځروی یا پریږدی چه په کی وځریږي.

۳- که څوک تیږه یا نور سخت مواد یا کثافات په نقلیه وسیلو، کور، بنأ، باغ یا د بل د ملکیت په احاطه کښی گذار کی.

۴- که څوک په نهر، ویالی، حوض یا په نورو روانو اوبو کښی ادوات یا نور داسی شیان چه د هغی په وسیله د خلکو لمبا اخلال یا داوبو مجری تنگه شی واچوی.

**پنځه سوه او نهمه ماده:**

که څوک په خطا د غیر د ملکیت حیوان مړ یا زخمی کی په لنډ حبس چه دلس ورځو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه ددری سووافغانیو څخه تجاوز و نه کی محکومیږي.

**پنځه سوه اولسمه ماده:**

۱- که څوک اهلی یا الفت نیوونکی حیوان په بی رحمی مثله یا تعذیب کی یا په بله وسیله ورسره بده معامله وکی په لنډ حبس چه ددری میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزاء چه ددری زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که څوک د سورلی یا بار وړونکی حیوان د طاقته پورته بارکی یا مریض، زخمی یا معلول حیوان چه د کار طاقت نه لری په کار واچوی دپورتنی فقری په عین تاکل شوی جزاء محکومیږي.

## پنځم فصل
## دعمومی ادبونو پوری مربوط قباحتونه

**پنځه سوه او یوولسمه ماده:**
که څوک په ښار، قریې یا کلی کښی د حیا ځخه منافی غسل وکی یا په عام محل کښی په لوڅ ځان د ادب څخه منافی ظاهر شی په حبس چه د لس ورځو زیات نه وی یا نقدی جزاء چه د سل افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

**پنځه سوه او دوولسمه ماده:**
که څوک په عمومی محلونو کښی د آدابو څخه د منافی قصد یا هدف په منظور ترصد وکی په حبس چه دلس ورځو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د سل افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

## شپږم فصل
## دهوټلونو دمنتظمینو پوری مربوط قباحتونه

**پنځه سوه او دیارلسمه ماده:**
که دهوټل ، میلمستونو، مسافرخانو یا غرفو چه د شپي دتیریدو په منظور جوړی او آماده شوی وی د خاوندانو څخه یو او دنورو تورستیکی مؤسسو اداره کوونکی دمسافرینو یا د ذکر شوو ځایونو داوسیدونکو هویت دمربوطو مقرراتو سره سم دثبتولو مراعات ونه کی یا په کښی اهمال وکی په حبس چه ددری میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم فصل
## متفرقه حکمونه

**پنځه سوه څوارلسمه ماده:**

۱- که څوک د کیمیاوی مخدره موادو د مشتقاتو څخه چه دیو شخص دعقلي یا ذهني یوی ملکي زایلیدونکی ګرځیدلي وي او استعمال یي د چټک اعتیاد او دصعب العلاج مرض دایجاد سبب شي، استعمال کي د مخدره نیشه یي موادو پوری د مربوطو حکمونو سره سم مجازات کیږي.

۲- د پورتنی فقری ددرج شوو موادو واردول، ساتنه، خرڅول، خرڅولو ته عرضه کول، انتقال یا رواجول جنایت دی ارتکاب کوونکی یي په اوږده حبس محکومیږي.

**پنځه سوه او پنځلسمه ماده:**

۱- که یو شخص نور په تهدید ، عنف یا په هره بله وسیله چه وي برمته کی په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که په برمته نیولی شوی شخص زخمی، معلول یا ووژل شی ارتکاب کوونکی د اصلی جرم په ټاکلی جزاء محکومیږي.

په دي شرط چه ددې مادې د پورتنی فقری ددرج شوی جزأ څخه کمه نه وی.

۳- که ارتکاب کوونکی ددې مادې د (۱) فقری ددرج شوی جرم په اثر پیسی یا ګټه تر لاسه کی دعین مال په ورکولو یا د هغی د مثل په قیمت هم محکومیږي.

**پنځه سوه او شپاړسمه ماده:**

که څوک د خلکو دکار قوه په فریب یا حیلی استثمار کی یا یی خرڅه کی یا دیو خارجی خوا سره د هغوی د کار په قوه معامله وکی دخساری په جبران علاوه په اوږده حبس محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځه سوه او اووه لسمه ماده:**

۱- که څوک کونډه ښځه یا نجلی چه د اتلس کلنی عمر یی پوره کړی دهغی درضا او رغبت په خلاف میړه ته ورکی دحالونو سره سم په لنډ حبس محکومیږي.

۲- که دپورتنی فقری درج شوی جرم د بدو ورکولو په شکل وی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

۳- ددې مادی د (۱-۲) فقرو ددرج شوو جرمونو په باره کښې جزائی دعوی هغه وخت اقامه کیدی شی چه مجنی علیها شکایت وکی.

**پنځه سوه او اتلسمه ماده:**

که څوک عمداً برق، ګاز، اوبه، معدنی پیداوار یا د ځنګلو ونی د صلاحیت لرونکو مقامونو د اجازی په غیر د خپل ځان کې یا په کښې مالکانه تصرف وکی د هغه دا عمل دغلا په حکم کښې دی ارتکاب کوونکی علاوه د مال یاد هغی دمثل د قیمت په ورکولو په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه څلیر ویشتو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کي محکومیږي.

**پنځه سوه او نولسمه ماده:**

که څوک لقطه یا ورک شوی مال په لاس راوړی یا یی پیداکی بی د معقول عذر څخه دیوی هفتی په موده کښې د محل نږدی اداری ته یا د مال خاوند ته چه تشخیص شی تسلیم نه کی علاوه له دی چه د مکافات څخه محرومیږي په نقدي جزاء چه دري سوه افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

**پنځه سوه او شلمه ماده:**

۱- که څوک دخاصو مقرراتو د حکمونو څخه چه دیوی اداری، امنیتی، ښاروالی او ترافیکي مرجع له خوا ددې قانون د حکمونو سره سم وضع او نافذ شوی وی ځان وژغوری د تاکل شوی جزأ په ورکولو په هغه ترتیب چه په ذکر شوو مقرراتو کښې تنظیم شوی مکلف دی په دی شرط چه په مقرراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښی ټاکل شوی جزأ ددې قانون د (۲۶) مادی ددرج شوی قباحت د اکثری نقدی اندازی جزأ څخه تجاوز ونه کی.
۲- که په خاصو مقرراتو کښی د هغی د حکمونو څخه د تخلف د پاره جزأ نه وی ټاکل شوی متخلف په نقدی جزأ چه ددوه سوه افغانیو څخه زیاته نه وی مکلف دی.
۳- خاص مقررات په هیڅ صورت بی له نقدی جزأ چه ددې مادی په (۱) فقری په حدودو کښی ذکر شوی بله جزأ نه شی ټاکلي.

**پنځه سوه او یوویشتمه ماده:**

په هغه مواردو کښی چه خاصو قوانینو جزائي حکمونه تنظیم کړی وی ارتکاب کوونکی دخاصو قوانینو ددرج شوو حکمونو سره سم مجازات کیږي. مگر په هغه حالونو کښی چه دې قانون د هغی په خلاف تصریح کړی وی.

**پنځه سوه او دوه ویشتمه ماده:**

ددې قانون دنافذیدو سره سم د مامورینو دجرایمو او دعامو گټو او امنیت په خلاف د جرایمو دجزأ د اصولنامی درج شوی حکمونه چه د ۱۳۴۱ کال د دلیندی د میاشتی په شپږ ویشتمه نیټه خپره شوی او د رشوت د مجازات د تعقیب قانون چه د ۱۳۵۱ کال د کب دمیاشتي په پنځلسمه نېټه خپور شوی او دجزائی قوانینو د حکمونو څخه هر حکم چه صراحتاً یا دلالتاً ددې قانون دیوه حکم داحکامو سره مناقض وي ملغي پيژندل کيږي. د عسکري جزأ قانون ددې حکم څخه مستثنی دی.

**پنځه سوه اودر ویشتمه ماده:**

دا قانون (۳۰) ورځی وروسته په رسمي جریده کښې دخپریدو څخه نافذیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جزا قانون تعدیلات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجزاء د قانون یوه لمبر ضمیمه

**۱- د(۳۱۴) مادی تعدیل:**

«که ددی قانون د (۳۱۳) مادی د درج شوو جرمونو ارتکاب کوونکی دعمومی خدمتونو موظف نه وی د حالونو سره سم په لنډ یا متوسط بند محکومیږی.»

**۲- د (۳۱۶) مادی تعدیل:**

«۱- که څوك ددی قانون د (۳۱۳) مادی د (۱) فقری درج شوی تزویر شوی پاڼی او د (۳۱۴) او (۳۱۵) مادو درج شوی تزویر شوی پاڼی سره ددی چه په تزویر علم ولری استعمال کی د حالونو سره سم په متوسط یا اوږده بند محکومیږی.»

۲- که څوك ددی قانون د (۳۱۳) مادی د (۲) فقری تزویر شوی پاڼی سره ددی چه دهغی په تزویر علم ولری استعمال کی د حالونو سره سم په لنډ یا متوسط بند محکومیږی. »

**۳- د (۳۱۹) مادی تعدیل:**

«د جزاء د قانون د (۳۱۹) مادی (۲) فقره دی حذف شی او د (۱) فقری درج شوی حکمونه دی د ذکر شوی مادی د پوره متن په حیث د ذکر شوی فقری د حذف سره، وپیژندل شی. »

**۴- د (۳۲۱) مادی تعدیل:**

«که څوك ددی قانون د (۳۱۹) او (۳۲۰) مادو درج شوی تزویر شوی تصدیق سره ددی چه د هغی په تزویر علم ولری، استعمال کی په داسی توګه چه هغه محکمی یا د دولت یو واك لرونکی مقام ته وړاندی کی عیناً د ذکر شوو مادو په پیشبینی شو و جزا ګانو محکومیږی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵- د (۳۴۶) مادی تعدیل:**

«د هر نوع منع کړه شوو شیانو په واردولو او صادرولو پوری د مربوطو جرمونو غور د قاچاق دانسداد د قانون د حکمونو تابع دی او ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم د ذکر شوی قانون په پیشبینی شوی جزاء محکومیږی.»

**۶- د (۴۲۷) مادی تعدیل:**

«که څوك د مؤنثی سره زنا یا لواطت او یا د نارینه سره لواطت وکی،زنا کوونکی او زنا کړه شوی، لواطت کوونکی او لواطت کړه شوی هر یو د حالونو سره سم په متوسط او یا په اوږده بند محکومیږی.»

**۷- د (۴۹۴) مادی دلمړی فقری تعدیل:**

(د جزاء د قانون د (۴۹۴) مادی د (۱) فقری په آخر کښی دی (یا ددی دواړو جزاء ګانو څخه په یوی) جمله حذف شی.)

داضمیمه په رسمی جریدی کښی دخپریدو وروسته نافذیږی.

**(دجزاء دقانون یوه لمبرضمیمه د ۱۳۵۶ کال دسلواغی په دیرشمه نیټه په (۳۹۱) ګڼه رسمي جریده کې خپره شوي ده.)**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیسه هیأت فرمان

## د جزاء د قانون د دوهمی ګڼی ضمیمی په هکله

**دکابل ښار**
**۱۳۶۰/۹/۱۸**

د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت د اساسی اصولو د (۴۴) مادی سره سم د انقلابی شورا رئیسه هیأت په لاندی ډول تصویب کوی:

**لومړی ماده:**
د جزاء د قانون (۹۳) ماده دی په لاندی ډول تعدیل شی:
هغه شخص چی د جرم د ارتکاب په وخت کی یی د اتلس کلنۍ عمر بشپړ کړی وی په اعدام محکوم کیدلای شی.

**دوهمه ماده:**
دغه ضمیمه د تصویب له نیټی نه نافذه ده او په رسمی جریده کی خپریږی.

**ببرک کارمل**
**د افغانستان دموکراتیک جمهوریت دانقلابي شورا د رئیسه هیأت صدر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دجزاء دقانون دوهمه ګڼه ضمیمه د ۱۳۶۰ هـ.ش کال دمرغومی په لومړی نیټه، (۴۹۸) ګڼه رسمی جریده کې خپره شوی ده.)

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جزاء د قانون د دریمی ګنی ضمیمی په هکله

**د کابل ښار**
**۱۳۶۲/۹/۲۳**

د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت د انقلابی شورا رئیسه هیأت د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت د اساسی اصولو د (۴۴) مادی د حکم په اساس تصویبوی:

**لومړی ماده:**
د جزاء د قانون (۹۸) ماده دی په لاندی ډول تعدیل شی:
اعدام عبارت دی د محکوم علیه له تیر باران څخه د مړینی تر وخته.

**دوهمه ماده:**
دغه ضمیمه د تصویب له نیټې څخه نافذه او په رسمی جریده کی خپریږی.

**ببرک کارمل**
**د افغانستان ددموکراتیک جمهوریت دانقلابي شورا د رئیسه هیأت صدر**

**(دجزاء د قانون دریمه ګڼه ضمیمه د ۱۳۶۲ هـ. ش کال دمرغومی د ۱۵ نیټي په (۵۴۷) ګڼه رسمی جریده کې خپره شوی ده.)**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت**
**د انقلابي شورا د رئیسه هیأت فرمان**
**کابل ښار**

**ګڼه: ۱۲۸**
**نیټه: ۱۳۶۶/۴/۲۰**

**د اختلاس، بډې اخستلو او قاچاقو د جرمونو د مجازاتو د سختولو په هکله**

دافغانستان دموکراتیك جمهوریت د انقلابی شورا رئیسه هیأت د دولتی او عامه شتمنیو داختلاس، بډې اخستنې او قاچاق د جرمونو د مجازاتو د سختولو په منظور د افغانستان دموکراتیك جمهوریت د اساسی اصولو د (۴۴) مادی د حکم پر اساس تصویبوی:

**لومړۍ ماده:**

د جزاء د قانون په (۱۴۸) ماده کی شپږمه فقره دی په لاندی ډول ورزیاته شی:

۶- په هغه صورت کی چی د دولتی او عامه شتمنیو اختلاس له یو ملیون افغانیو څخه په زیاتو پیسو او همدغه راز بډې اخستنه له سل زره افغانیو څخه زیاتره د عامه خدماتو د دنده لرونکی په واسطه صورت نیولی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه ماده:**
دا فرمان دتصویب له نیټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شی.

**حاجي محمد څمکنی**
**د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا درئیسه هیأت دصدر دمقام سرپرست**

**(پورتنی فرمان د ۱۳۶۶ هـ. ش کال دوړی دمیاشتی په پنځلسمه نیټه (۶۴۶) ګڼه رسمی جریده کې خپور شوی دی.)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان جمهوريت دجمهور
## رئيس فرمان

**ګڼه: ۱۳۲۰**
**نېټه: ۱۳۷۰/۱۰/۲۴**

## د افغانستان په جمهوريت کې داعدام دحکم دتحديد دقانون په هکله دتقنيني فرمان دتوشيح په باب

د افغانستان جمهوريت داساسي قانون د (۱۰۴) مادي دحکم پر اساس د افغانستان په جمهوريت کې داعدام دحکم دتحديد د قانون په باب د وزيرانو شوري د ۱۳۷۰/۱۰/۹ نېټي (۷۵) ګڼه تقنيني فرمان په (۳) مادوکې توشيح کوم.

د وزيرانو شوري مکلفه ده دغه فرمان او نوموړی قانون دملی شوري لومړنی اجلاس ته د منظورۍ لپاره وړاندی کړی.

دغه فرمان له نوموړی تقنيني فرمان او قانون سره په رسمی جريده کې دخپرولو له پاره د افغانستان جمهوريت دعدليي وزارت ته دې واستول شی.

**نجيب الله**
**د افغانستان جمهور رئيس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان جمهوریت د وزیرانو
## شوري تقنیني فرمان

**ګڼه: ۷۵**
**نیټه: ۱۳۷۰/۱۰/۹**

**د افغانستان په جمهوریت کې داعدام دحکم دتحدید دقانون په هکله**

۱- د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادې دحکم پر بنسټ د افغانستان په جمهوریت کې داعدام دحکم دتحدید قانون وضع کیږي.

۲- دغه فرمان د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادې دحکم له مخې توشیح له پاره د جمهوري ریاست مقام ته دې وړاندې شي.

**فضل الحق خالقیار**
**صدراعظم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان په جمهوریت کې داعدام
## دحکم دتحدید په باب قانون

دغه قانون د ملی روغی جوړی د انسان پالونکی تګلوری په رڼاکی او ددغه تګلوری د لاښه تحقق په خاطر د اسلام د سپیڅلی دین د اساساتو د په نظر کی نیولو په داسی حال کی چی نړیواله منل شوی معیارونه او بشرپالونکی ملاحظات د افغانستان دجمهوری دولت د عمل ملاك دي د اساسی قانون د (۳۹) او (۱۱۵) مادو د حکمونو پر بنسټ وضعه کیږی.

**لومړی ماده:**

د افغانستان په جمهوریت کی له لاندنیو موردونو څخه پرته د اعدام حکم نه تطبیقیږی:

۱- قصدی قتل.

۲- ډله ییزی وژنی.

۳- چاودنه (له قتل سره).

۴- لاره شکونه (له قتل سره).

۵- هغه جرمونه چی په نتیجه کی یی د افغانستان د جمهوری دولت د ځمکی ټوله او یا یوه برخه یی د بهرنی دولت تر واکمنی لاندی راوستل شی او ځمکنی بشپړتیا او خپلواکی یی تاوانی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهمه ماده:**

دهېواد د نافذو قوانینو د موادو په ټولو حکمونو کی چی شدیده جزاء د (اعدام) مجازات پکی مسجل دی شلو کالو بندته دی تعدیل شی.

**دریمه ماده:**

دغه قانون د ۱۳۷۰ کال د جدی له (۲۵) نیټې نه نافذ او د ډله ییزو اطلاعاتو په وسیلو او رسمی جریده کی دی خپور شی.

**(پـــورتنی تعـــدیل د ۱۳۷۰ هـــ، ش کـــال د کـــب دمیاشـــتي د (۱۷) نیټې (۷۶۳) ګڼه رسمي جریده کې خپور شویدی.)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان جمهوریت د جمهور
## رئیس فرمان

**ګڼه: ۱۳۹۸**
**نېټه: ۱۳۷۰/۱۲/۵**

### د وزیرانو شورا دتقنیني فرمان دتوشېح په هکله

د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادې دحکم پر بنسټ د افغانستان جمهوریت د وزیرانو شوري ۱۳۷۰/۱۱/۲۸ نیټې (۸۱) ګڼه تقنیني فرمان چې د جزاء قانون ددوه سوه درېیمې مادي دلغو کولو په هکله وضعه شویده توشېح کوم.

د افغانستان جمهوریت د وزیرانو شوري ته دنده سپارل کیږي چې پورتنی ګڼه تقنیني فرمان او دنوموړی مادې الغا دی دمنظوری لپاره د ملی شوري لومړنۍ غونډې ته وړاندې کړي.

دغه فرمان دوزیرانو شوري له تقنیني فرمان او دنوموړی مادې له الغا سره یوځای د افغانستان جمهوریت دعدلیې وزارت ته په رسمی جریده کې دخپرولو له پاره دې واستول شي.

**نجیب الله**
**د افغانستان جمهور رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان جمهوریت دوزیرانو شوري تقنیني فرمان

**گڼه: ۸۱**
**نېټه: ۱۳۷۰/۱۱/۲۸**

**دجزاء قانون ددوه سوه درېیمی مادې دلغو کیدو په هکله**

۱-دافغانستان جمهوریت داساسي قانون (۱۰۴) مادې د حکم پر بنسټ دجزاء د قانون د دوه سوه درېیمی مادې الغا وضعه کیږي.

۲- دغه فرمان د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادې دحکم له مخې دجمهوري ریاست مقام ته دې د توشیح لـه پاره وړاندی شي.

**فضل الحق خالقیار**
**صدراعظم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رسمي جریدي د ۱۳۵۵/۷/۱۵ نیټې په (۳۴۷) ګڼه کې خپور شوی دجزاء د قانون د دوه سوه درېیمې مادې دالغا طرحه**

**لومړی ماده:**

د جزاء د قانون دوه سوه درېیمه ماده دې لغو وګڼل شي.

**دوهمه ماده:**

دغه الغا له توشیح نه وروسته نافذ او په رسمي جریده کې دې خپره شي.

**(پورتنۍ الغا د ۱۳۷۱ کامل دوری د میاشتی د ۱۷ نیټې په (۷۶۵) ګڼه رسمی جریده کې خپره شوی ده.)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون جزاء

جریدهٔ رسمی شماره(۳۴۷)
مؤرخ ۱۳۵۵/۷/۱۵هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرمان شماره (۹۱۰) مـؤرخ (۳۱) سنبله ۱۳۵۵ صدارت عظـمی**

شاغلی دوکتـور عبدالمجید وزیر عدلیه!

مجلس وزراء تحـت فیـصلهٔ شـماره (١٦١٤) در جلـسهٔ تـاریخـــی ۱۳۵۵/٦/۳۰ بـا مـلاحظهٔ ورقـهٔ عـرض شماره (۳۱۳۲) مؤرخ ۱۳٥٤/۱۰/۳ وزارت عدلیه راجـع بـه قانـون جزاء مراتـب آتی را تـصویب نمود:

" قانون جزاء بـداخل دو کتاب مشتمل به هشـت بـاب وپـنج‌صـد و بیـــست وسـه مـاده که به مهر دار الانشاء رسیده منظور است."

مراتب تصویب مجلس عالی وزراء که به شرف منظـوری حـضور رئـیس دولــت جمهوری افغانستان رسیده وبه شمارهٔ (۱۹۸۰) مؤرخه "۳۱" سنــبله ۱۳۵۵ ثبـت گردیده به شما اطلاع داده شد تـا در نشر آن به جریدهٔ رسمی اقدام گردد.

**داکتر محمد حسن شرق**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قانون جزاء

## کتاب اول
## احکام عمومی

## باب اول
## احکام مقدماتی

### فصل اول
### قواعد عمومی وتعریفات

**مادۀ اول:**

این قانون جرایم و جزاهای تعزیری را تنظیم می‌نماید. مرتکب جرایم حدود، قصاص ودیت مطابق احکام فقه حنفی شریعت اسلام مجازات می‌گردد.

**مادۀ دوم:**

هیچ عملی جرم شمرده نمی شود مگر به موجب قانون.

**مادۀ سوم:**

هیچکس را نمی توان مجازات نمود مگر مطابق به احکام قانونی‌که قبل از ارتکاب فعل مورد اتهام نافذ گردیده باشد.

**مادۀ چهارم:**

۱- برائت الذمه حالت اصلی است. متهم تا وقتی‌که به حکم قطعی محکمۀ باصلاحیت محکوم علیه قرار نگرفته باشد بی گناه شناخته می‌شود.

۲- تعیین جزائی‌که مخالف کرامت انسانی باشد جواز ندارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ پنجم:**

بی خبری از احکام قانون عذر پنداشته نمی شود.

**مادهٔ ششم:**

۱- شخصی‌که مطابق احکام این قانون مجازات می شود اگر از طریق جرم مالی را بدست آورده باشد بردعین آن و اگر مال موجود نباشد به رد مثل یا قیمت آن به مالکش محکوم می‌شود.

۲- شخصی‌که به اثر ارتکاب جرم خساره ئی عاید ساخته باشد به جبران خسارهٔ وارده نیز محکوم می‌گردد.

**مادهٔ هفتم:**

احکام این قانون حق استرداد و یا مطالبهٔ تعویض مدعی حق العبد را اخلال نمی‌کند.

**مادهٔ هشتم:**

با نمایندگان سیاسی که در افغانستان مرتکب جرم گردند مطابق قواعد حقوق بین‌الدول عمومی رفتار می شود.

**مادهٔ نهم:**

میعاد های مندرج این قانون به اساس سنه هجری شمسی مدار اعتبار است.

**مادهٔ دهم:**

حکم قطعی به مقصد این قانون عبارت است از حکمی که نهائی شده باشد یا موارد استیناف و تمیز طلبی برای آن موجود نباشد و یا میعاد های استیناف و تمیز طلبی آن قانوناً منقضی شده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ یازدهم:**

اشخاصی‌که تابعیت افغانستان را نداشته اما در افغانستان اقامت یا سکونت داشته باشند به مقصد این قانون در حکم تبعهٔ افغانی محسوب می‌گردند مگر این-که در قانون طور دیگری به آن تصریح یافته باشد.

**مادهٔ دوازدهم:**

به مقصد این قانون اشخاص آتی مؤظفین خدمات عامه محسوب می‌گردند:

۱- مامورین و اجیران دولت و تصدی‌های دولتی.

۲- مامورین واجیران مؤسسات عامه.

۳- اعضای ارکان دولت و جرگه های ولایتی و محلی.

٤- وکیل مدافع، حکم، اهل خبره، شهود وسایر اشخاصی‌که تصادیق‌شان معتبر شناخته شود.

**مادهٔ سیزدهم:**

به مقصد این قانون وسایل آتی علنی شمرده می‌شود:

۱- گفتار وقتی علنی شمرده می‌شود که در محفل عام، راه عام یا سائر مواضع طوری به جهر گفته شود یا توسط وسایل دیگر نشر شود که اگر کسی در آن جا موجود می‌بود آن را شنیده می توانست.

۲- فعل وقتی علنی شمرده می‌شود که در محفل عام، راه عام یا سائر مواضع طوری واقع گردد که اگر کسی در آن‌جا موجود می‌بود آن را دیده می‌توانست.

۳- رسم، تصویر، فلم، نوشته، رمز وسایر وسایل تمثیلی وقتی علنی شمرده می-شود که به بیش از یک نفر توزیع گردد یا طوری به نمایش گذاشته شود که اگر کسی موجود می‌بود آن را دیده می‌توانست. یا فروخته شود یا به فروش عرضه گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل دوم
## ساحهٔ تطبیق قانون

### قسمت اول- تطبیق قانون از حیث مکان و اشخاص

**مادهٔ چهاردهم:**

۱- احکام این قانون بر اشخاصی که در ساحهٔ دولت جمهوری افغانستان مرتکب جرم شوند تطبیق می گردد.

ساحه دولت جمهوری افغانستان شامل هر مکانی است که تحت سلطهٔ آن واقع باشد.

۲- طیارات و کشتی های افغانی اعم ازین‌که در داخل افغانستان باشد یا در خارج آن از جمله ساحهٔ افغانستان محسوب می‌شود مگر این‌که طبق قواعد حقوق بین الدول عمومی تابع دولت اجنبی باشد.

**مادهٔ پانزدهم:**

احکام این قانون بر اشخاص آتی نیز قابل تطبیق است:

۱- شخصی که در خارج افغانستان مرتکب عملی گردد که به اثر آن فاعل یا شریک جرمی شناخته شود که کلاً یا قسماً در افغانستان واقع شده باشد.

۲- شخصی‌که در خارج افغانستان مرتکب یکی از جرایم آتی گردد:

۱- جنایت علیه امنیت خارجی یا داخلی دولت افغانستان.

۲- جنایت جعل مندرج مواد (۳۰۲) و (۳۰۳) این قانون.

۳- جنایت تزویر مندرج مادهٔ (۳۱۰) این قانون یا ادخال اشیاء جعل یا تزویر شدهٔ مذکور به افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ شانزدهم:**

۱- احکام این قانون بر جرایمی‌که در خارج افغانستان توسط مامورین و مستخدمین افغانی یا اتباع خارجی‌ای‌که از طرف افغانستان به خدمات عامه گماشته می‌شوند در اثنای انجام وظایف محوله یا به سبب آن ارتکاب می‌گردد نیز قابل تطبیق است.

۲- احکام این قانون بر جرایمی‌که علیه اشخاص مندرج فقرۀ فوق در اثنای انجام وظایف محوله یا به سبب آن ارتکاب می‌گردد نیز تطبیق می‌شود.

**مادۀ هفدهم:**

۱- احکام این قانون بر هر شخصی‌که در خارج افغانستان علیه افغان یا منفعت افغانستان مرتکب جرم گردد قابل تطبیق است.

۲- دعوی جزائی علیه مرتکب این جرایم مطابق به احکام مندرج قانون اجراآت جزائی اقامه می‌گردد.

**مادۀ هجدهم:**

هر افغان که در خارج افغانستان مرتکب عملی گردد که به‌موجب احکام این قانون جرم شمرده شود در صورت مراجعت به افغانستان طبق احکام این قانون مجازات می‌شود. مشروط بر این که فعل مذکور به موجب قانون کشور محل ارتکاب قابل مجازات باشد.

**مادۀ نزدهم:**

به استثنای موارد مندرج مواد (ششم وهفتم) این قانون دعوی جزائی علیه شخصی‌که ثابت نماید محاکم خارجی در مورد جرم منسوبه او را بری الذمه دانسته یا به‌حکم قطعی او را به جزا محکوم و جزا بر او تطبیق شده است یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اینکـه دعوی جزائی قبل از صدور حکم قطعی یا مجازات محکوم بها بـه مــوجب قانون ساقط گـردیده باشد اقامه شده نمی‌تواند.

**مادهٔ بیستم:**

مدت توقیف وحبسی که متهم یا محکوم علیه به‌اثر تطبیق احکام جزائی در خـارج افغانــستان ســپری نمــوده از مــدت جــزای کــه شــخص از لحــاظ ارتکــاب عین جرم در افغانستان محکوم می‌شود یا جزای‌که بر او تطبیق می‌گردد کاسـته می‌شود.

**قسمت دوم – تطبیق قانون از حیث زمان**

**مادهٔ بیست ویکم:**

۱– مرتکب جرم به‌موجب قانونی مجازات می‌شود که در وقـت ارتکـاب فعـل نافـذ باشد مگر این که قبل از صدور حکم قطعی قانون جدیدی که بـه نفـع مـتهم باشـد نافذ گردد.

۲– اگر بعد از صـدور حکم قطعی قانونی نافذ گردد که به‌موجـب آن فعلـی را کـه متهم به ارتکاب آن محکوم به‌جزا گردیده قابل مجازات نداند تنفیذ حکم متوقـف و آثار جزائی مرتب بر آن از بین می‌رود.

**مادهٔ بیست ودوم:**

هرگـاه شخص از ارتکاب عملی به مـوجب قـانون مـؤقت کـه نفـاذ آن بـه تـاریخ معین خاتمه می‌یـابد محکـوم به جزا گردد ختم تاریخ نــفاذ قــانون مؤقـت مـانع سـیر محاکمه و تطبیق جزا نمی‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## باب دوم
## جرایم

### فصل اول
### جرایم از حیث شدت و خفت

**مادهٔ بیست وسوم:**

جـرایم از حیث شدت و خفت به جنایت، جنحه و قـباحت تصنیف می‌گردد.

**مادهٔ بیست وچهارم:**

جـنایت جرمی اسـت کـه مرتکـب آن به اعـدام یـا حـبس دوام و یـا حـبس طویـل محکوم گردد.

**مادهٔ بیست وپنجم:**

جنحه جرمی است که مرتکب آن به حـبس بـیش از سه ماه الی پنج سـال یاجزای نقدی بیش از سه هزار افغانی محکوم گـردد.

**مادهٔ بیست وششم:**

قباحت جرمی است که مرتکب آن به حبس از (٢٤) ساعت الی ســه مـاه یـا جـزای نقدی الی سه هـزار افغانی محکوم گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل دوم
## عناصر جرم

### قسمت اول - عنصر مادی

### اول- عمل، سببیت و نتیجه

**مادۀ بیست وهفتم:**
عنصر مادی جرم عبارت از ارتکاب یا امتناع از عمل مخالف قانون است به نحوی‌که عمل منجر به نتیجۀ جرمی گردیده و رابطۀ سببیت بین عمل و نتیجه موجود شده باشد.

**مادۀ بیست وهشتم:**
۱- شخص از جرمی‌که نتیجۀ عمل جرمی او نباشد مسؤل شناخته نمی‌شود.
۲- شخصی‌که عمل جرمی او در احداث نتیجه به اعتبار یکی از اسباب قبلی یا توأم با فعل و یا بعدی سهیم شده باشد مسؤل شناخته می‌شود گرچه شخص به مؤثریت عمل جرمی خود در احداث نتیجه علم نداشته باشد.
۳- اگر سبب به تنهائی در احداث نتیجه جرم کافی شمرده شود در این صورت تنها فاعل از عمل جرمی خود مسؤل شناخته می‌شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوم – شروع**

**مادۀ بیست ونهم:**

۱- شروع به جرم عبارت است از آغاز به اجرای فعل به قصد ارتکاب جنایت یا جنحه به نحوی‌که نظر به اسباب خارج از ارادۀ فاعل آثار آن متوقف یا خنثی شده باشد.

۲- مجرد تصمیم به ارتکاب جرم یا اجرای اعمال مقدماتی شروع به جرم شناخته نمی‌شود.

۳- هر عملی‌که به قصدارتکاب جنایت یا جنحه‌ای‌که ارتکاب آن از رهگذر عوامل مربوط به موضوع جرم یا وسایل استعمال مستحیل باشد شروع به جرم شمرده می‌شود. مشروط بر این که عقیده مرتکب در احداث نتیجه جرمی ناشی از اشتباه یا جهالت مطلق نباشد.

**مادۀ سی ام:**

شروع کننده به جنایت به جزاهای آتی محکوم می‌گردد مگر این که در قانون به خلاف آن تصریح شده باشد:

۱- در مواردی‌که جزای اصل جرم اعدام باشد حبس دوام.

۲- در مواردی‌که جزای اصل جرم حبس دوام باشد حبس طویل.

۳- در مواردی‌که جزای اصل جرم حبس طویل باشد حبس متوسط یا نصف حداکثر جزای اصل جرم.

**مادۀ سی ویکم:**

جزای شروع به جنحه از نصف حداکثر جزائی‌که در قانون برای اصل جرم پیشبینی گردیده است تجاوز نمی‌کند مگر این که قانون به خلاف آن تصریح نموده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ سی ودوم:**

شروع به قباحت مستلزم مجازات نیست مگر این که قانون صراحتاً به آن حکم نموده باشد.

**مادهٔ سی وسوم:**

در شروع به جرم احکام خاص متعلق به جزاهای تبعی یا تکمیلی و تدابیر امنیتی-ای‌که در مورد جرم تام پیشبینی شده است رعایت می‌گردد.

**قسمت دوم - عنصر معنوی قصد جرمی و خطاء**

**اول – قصد جرمی**

**مادهٔ سی وچهارم:**

۱– قصد جرمی عبارت است از سوق ارادهٔ فاعل به ارتکاب فعلی‌که جرم را به‌وجود می‌آورد به نحوی‌که منجر به وقوع نتیجه جرم مورد نظر ویا وقوع نتیجهٔ جرم دیگری شود.

۲– قصد گاهی بسیط و زمانی توأم به اصرار قبلی می باشد.

۳– اصرار قبلی عبارت است از اتخاذ تصمیم قاطع قبل از انجام جرم مورد نظر مشروط بر این که ناشی از غضب آنی و هیجانات نفسی نباشد.

٤– اصرار، قبلی شمرده می شود بدون آن‌که قصد مرتکب جرم متوجه شخص معین یا غیر معین باشد اعم از این که قصد موقوف به شرط و یا مرتبط به امری باشد یا نباشد.

**مادهٔ سی وپنجم:**

۱– جرم وقتی عمدی شمرده می‌شود که قصد جرمی نزد مرتکب آن محقق شده باشد.

۲– جرم درحالات آتی نیز عمدی شمرده می‌شود:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) در حالتی‌که شخص بـه موجب قانون یا مـوافقت بـه انجـام وظیــفه مکلــفیت داشته باشد واز ایفای آن عمداً امتنـاع ورزد بــه نحــوی‌کـه امتنـاع وی مـستقیماً منجر به وقوع جرم گـردد.
(۲) در حـالتی‌که شخص فـاعل نـتایج جـرمـی عمل خود را قبلاً پیش بینی نمـوده باشد ولی با آن‌هـم به اجرای عمل مـذکور محض جهت وقوع جـرم اقـدام نمـوده باشد.

**دوم – خطاء**

**مادۀ سی وششم:**

جرم وقتی غـیر عمدی شـمرده می‌شـود کـه وقـوع نتـیجۀ جـرمـی از فـاعــل آن به سبیل خطاء صـدور یـافته باشد خـواه خـطا نــاشی از اهــمــال، سـاده لـوحی بـی احتیاطی و عدم توجه باشـد و یا ناشــی از عـدم رعایـت قـوانین، مقـررات و اوامر.

**قسمت سوم- عنصر قانونی**

**مادۀ سی وهفتم:**

۱- عنصر قانونی جـرم عبارت است از تصریح اعمــال جرمـی و جزاهــای آن در قانون.
۲- قاعده قانونیـت جرم و جزا در احکام مندرج مـواد (دوم وســـوم) ایـن قـانون تصـریح یـافته است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل سوم
## اشتراک در جرم

**قسمت اول- فاعل وشریک**

**مادهٔ سی وهشتم:**

شخص در حالات آتی فاعل جرم شناخته می‌شود:

۱- در حالتی‌که به تنهائی یا به اشتراک شخص دیگر مرتکب جرم گردد.

۲- در حالتی‌که به ارتکاب عمل جرمی به نحوی مداخله نماید که از جملهٔ اعمال تشکیل دهنده جرم یکی آن را قصداً مرتکب گردد.

**مادهٔ سی ونهم:**

شخص در حالات آتی شریک جرم شناخته می‌شود:

۱- در حالتی‌که به ارتکاب یکی از اعمال تشکیل دهنده جرم شخص را تحریک نماید و جرم به اثر همین تحریک واقع شود.

۲- در حالتی‌که به ارتکاب جرم با شخص دیگری موافقت نماید و جرم به اثر همین موافقت به وجود آید.

۳- در حالتی‌که فاعل جرم را به نحوی از انحا در اعمال تجهیزاتی تسهیلاتی یا تکمیلی ارتکاب جرم با داشتن علم به آن کمک نماید و جرم در اثر همین کمک به وجود آید.

**مادهٔ چهلم:**

فاعل به جزای معینه جرم ارتکاب شده محکوم می‌گردد.

**مادهٔ چهل ویکم:**

۱- شریک به مجازات جرمی‌که در آن اشتراک نموده محکوم می‌گردد مگر این که قانون به خلاف آن تصریح نموده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- در مـواردی‌که فاعل جرم به سـببی از اسـباب قـانونی مجـازات نگــردد ایــن معافیت مانع مجازات شـریک نمی‌گردد.

**مادهٔ چهل ودوم:**

هرگاه جرم واقع شده غیر از آن جرمی باشد که فاعلین و شرکاء قـصد ارتکـاب آن را داشته اند به جزای جرمی‌که به وقوع پیوسته محکوم می‌گردند، مشروط بر این‌که جرم مذکور قابل پیشبینی بـوده ونتیجهٔ مداخلهٔ ایشان باشد.

**مادهٔ چهل وسوم:**

هرگاه در اثنای ارتکاب به عمل جرمی حــالات مـادی اتـصال یابـد کـه از اثـر آن وصف جرم یا جزا تغییر نماید نتایج آن بالای همه فاعلین و شـرکا تطبــیق مـی-گردد مشروط بـر این که حالات مذکور نتیجه مداخله همهٔ آن‌ها باشد.

**مادهٔ چهل وچهارم:**

۱- هرگاه در حصهٔ یکی از فاعلین حـالات خاصی موجود شود که موجـب تغییـر وصف جرم در حصهٔ او گردد نتایج آن به سایر فاعلین تأثیر ندارد.
۲- نـتایج این حـالات خاص بر شریک وقتی تأثیر دارد که به آن علم داشته باشد.

**مادهٔ چهل وپنجم:**

هرگـاه حـالات خاصی موجـود شـود کـه موجـب تغییـر جـزا در حـصهٔ یکـی از فاعلـین گـردد نتایج آن بر سایر فاعلین و شرکاء تأثیر وارد نمی‌کند.

**مادهٔ چهل وششم:**

هرگـاه نظر به قصد فاعل یا چگـونگی علـم وی تغییر در وصف جرم وارد گـردد سایر فاعـلین و شـرکاء مطابق بـه قصد و چگونگی علم شان بـه جـرم مجـازات می‌گردند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ چهل وهفتم:**

در حـالاتی‌که قانون تعدد فاعلین را حـالت مشددهٔ جرم بداند موجودیت شریک در اثنای ارتکاب جرم تعدد شناخته می‌شود.

**مادهٔ چهل وهشتم:**

۱- هرگاه چند نفر فاعل و شریک از لحاظ ارتکاب جرم واحد به حکم واحد بـه جزای نقـدی محکوم شوند این حکم بر هر کدام آن‌ها منفرداً تطبیق می‌شود.

۲- در حـالا تی‌که حکم به جزای نقدی معادل مـفاد مالی‌ای که از رهگذر ارتـکاب جرم حاصل گردیده یا توقع استحصال آن برده می‌شد موضوع بحث باشد، حکم به مجموع محکوم علیهم کـه بـه حکـم واحـد بـه جـزای نقـدی مـذکور محکـوم شده‌اند، طور تضامن تطبیق می‌شـود مگـر ایـن کـه قـانون بــه خـلاف آن حکـم نموده باشد.

**قسمت دوم - اتفاق در جرم**

**مادهٔ چهل ونهم:**

اتفاق در جرم عبارت است از متحد شدن دو نفر یا بیشتر از آن در ارتکاب جنایت یا جنحهٔ معین یا غیر معین و یا اتـفاق در اعمـال تجهیزاتی تسهیـلاتی یـا تکمیلـی جرایـم مذکـور مشروط بر ایـن کـه اتفـاق مـنظم و پیهـم باشـدگـرچه در آغـاز مرحله تشکل جرمی یا بـرای مدت کـوتاه صورت گرفته باشد.

**مادهٔ پنجاهم:**

۱- در مـورد اتفاق به جنایت هر فرد آن به جزای حبس طویلی که از (هفت سـال) تجاوز نکند محکوم می‌گردد گرچه در ارتکاب جنایت مورد اتفاق شروع صــورت نگرفته باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- در مورد اتفاق به جنحه هر فرد آن به جزای حبس که از (دوسال) بیشتر نباشد و یا به جزای نقدی که از (بیست وچهار هزار) افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

**مادۀ پنجاه ویکم:**

هرگاه غرض از اتفاق ارتکاب جرمی باشد که جزای آن در قانون از جزای مندرج (مادۀ پنجاهم) این قانون کمتر پیش بینی شده باشد در این صورت متهمین اتفاق در جرم به ربع حداکثر جزای محکوم می‌گردند که برای جرم مورد اتفاق تعیین شده است.

**مادۀ پنجاه ودوم:**

۱- جزاهای مندرج مواد (پنجاهم و پنجاه ویکم) این قانون بر اشخاصی تطبیق نمی‌گردد که از اتفاق در جرم به مقامات مربوط اطلاع دهند مشروط بر این که اطلاع قبل از وقوع جنایت و جنحه و قبل از آغاز جستجو و تفتیش مقامات مذکور صورت گرفته باشد.

۲- اطلاع دهنده بعد از آغاز جستجو و تفتیش مقامات مربوط به شرطی از مجازات معاف ساخته می‌شود که اطلاع وی سبب گرفتاری متهمینی گردد که نزد مقامات مذکور معلوم نباشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل چهارم
## اسباب اباحت

### قسمت اول- استعمـال حق

**مادهٔ پنجاه وسوم:**

